


# د افغانستان د اساسي قانون په رڼا کې د عامه ادارې سازمان او جوړښت

میرویس ایوبي

هارون رحیمي

لړم ۱۳۹۷

UNITED STATES INSTITUTE OF PEACE

څېړنې د ښه افغانستان لپاره
AREU

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

څېړنپاڼه

# د افغانستان د اساسي قانون په رڼا کې د عامه ادارې سازمان او جوړښت


میرویس ایوبي

هارون رحیمي



لړم ۱۳۹۷

هغه نظریات چې په دغه څېړنه کې وړاندې شوي په لیکوال پورې اړه لري او د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د نظریاتو منعکس کونکي نه دی.

ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۴۱-۲۱-۱

ژباړه: زلمی مالیار

د خپرونې کوډ: P ۱۸۱۸

©۱۳۹۸ د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره

دغه خپرونه کیدای شي یوائې د غیری سوداګریزو موخو لپاره نقل، حواله او یا بیا ځلې چاپ شي په دی شرط چې لیکوال او منبعه یې خبره شی. په یاده خپرونه کې ځای شوی نظرونه لیکوال پوری اړه لرې او په حتمی ډول د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداری او اروپایې ټولنې نظرونه نه منعکوسوی.

که چیری دغه خپرونه بیاچاپ، ذخیره او یا بریښنایې بڼه یې لیږدول کیږی باید یو لینک یې د AREU کورپاڼې (www.areu.org.af ") ته واستول شي. او یا هم د بریښنالیک او یا هم ټلیفون شمیری له لیاری اړیکه ونیسئ ۰۰۹۳۲۰۲۲۱۲۴۱۴.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري (AREU) په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې د څېړنو يو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲ م کال په افغانستان کې د نړيوالې ټولنې له خوا جوړ شو. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کيفيت او په پاليسۍ پورې اړوند څېړنو برابرول او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پايلو خپرول او همدارنګه د شواهدو پر بنسټ د څېړنو او زده کړې د کلتور خپرول دي. د پنسيلوانيا پوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په افغانستان کې د يو څېړنيز بنسټ په توګه د لوړ مقام لرونکی ده او په منځنۍ آسيا کې د څېړنيزو بنسټونو په منځ کې په شپږم مقام کې ځای لري. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د خپلې موخې د لاسته راوړلو لپاره د پاليسۍ جوړونکو، مدني ټولنو، څېړونکو او زده کوونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری له څېړنو او کتابتون څخه ګټه پورته او د څېړنې په برخه کې خپله وړتيا لوړه کړي او د نظرياتو د ځرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره لاره هواره کړي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د مشرانو د بورډ لخوا چې د مرستندويه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، ځينې نورو سازمانونو، مدني ټولنو او د خپلواکو کارپوهانو استازي پکې شامل دي، اداره کيږي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د بريتانيا د پراسپيکت مجلې (Prospect Magazine) د ۲۰۱۸ کال د نړيوال څېړونکی بنسټ جايزه ګټلې ده.

**مالي مرسته کوونکي:**

د دې اداري مالي مرسته کوونکي د سويډن نړيواله پراختيايي اداره (SIDA) او لاندې نور نړيوال بنسټونه دي:

The European Union (EU), Global Challenges Research Fund (GCRF), United States Institute of Peace (USIP), Norwegian Institute of International Affairs (NUPI), Food and Agriculture Organization of the United Nations (FAO), Overseas Development Institute (ODI-UK), Institute of Development Studies (IDS) and Swiss Agency for Development and Cooperation (SDC), School of Oriental and African Studies (SOAS) and British Council (BC).

**همدا راز دا اداره د لاندې نړيوالو بنسټونو غړيتوب هم لري:**

RESOLVE Network, Global Challenges Research Fund (GCRF), Secure Livelihoods Research Consortium (SLRC), A Conflict Sensitive Unpacking of The EU Comprehensive Approach to Conflict and Crisis Mechanism (EUNPACK), ADB-Asian Think Tanks Network (ATTN) and The Regional Environmental Centre for Central Asia (CAREC). For more information visit www.areu.org.af

# د متحده ایالاتو د سولې د انسټیټوټ (USIP) په اړه

د متحده ایالاتو د سولې انسټیټوټ د افغانستان له حکومت او مدني ټولنې له بنسټونو سره همکاري کوي چې د قانون د واکمنۍ د ټینګولو، د تاوتریخوالي او توند لارۍ توب ضد، د سوله ییزو زده کړو د پراخولي او د ښې حکومتولۍ او فساد ضد هڅو له لارې د بې ثباتۍ اساسي لاملونو ته پام واړوي. دغه راز د متحده ایالاتو د سولې انسټیټوټ په افغانستان کې اوسنیو جګړو پورې اړوندو لاملونو په اړه د پالیسي څېړنې تقویه کوي.

# د لیکوالو په اړه

پوهنمل میرویس ایوبي د هرات په پوهنتون کې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد دی او د آلمان پوهنتون د اداري علومو په ځانګه کې د دوکتورا دورې د آخري کال محصل دی. هغه خپله لومړنۍ ماسټري د هندوستان د پنجاب پوهنتون د سیاسي علومو له فاکولتې څخه او دویمه ماسټري یې د "ښاري تحلیل او مدیریت" په برخه کې د ایټالیا د فلورېنس پوهنتون څخه ترلاسه کړې ده. د هغه څېړنې تر ډېره په اداري حقوقو، د افغانستان اداري چارو او قضایي څارنې په مرکزي اداري سیستم باندې متمرکزه دي.

ډاکټر هارون رحیمی د هرات پوهنتون په حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي او د افغانستان په امریکایي پوهنتون کې استاد دی. نوموړی له واشنګټن پوهنتون څخه په حقوقو کې ډاکټري (PhD) درجه او په نړیوال تجارتي حقوقو کې ماسټري لري. د ډاکټر رحیمي څېړنه د بنسټونو په پراختیا او دا چې څرنګه حکومتونه د دې بنسټونو په جوړه بروکې په موثره توګه مداخله کوی تمرکز لري. په مؤثره توګه د دې پروسې په برخه کې مداخله کوي او د مؤثره رسمي مؤسسو په جوړولو تمرکز کوي.

# مننه

له هغو ملګرو څخه د زړه له کومې مننه کوم چې د دوی له بشپړې مرستې څخه پرته دا څېړنه نه بریالۍ کېده.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداری(AREU)، په ځانګړي ډول، له ډاکټرې اورځلا نعمت، د دې اداری مشرې او د آغلې "مسیحه فایز" ښاغلی محمد حسن وفایی، او آغلی مسعودی ملاتړ څخه او د دوی د مرستو له امله مننه کوم. همدا ډول د سولې لپاره د متحده ایالاتو انسټیټوټ (USIP)، له همکارۍ او ملاتړ څخه مننه کوو.

همدا راز، له ټولو هغو کسانو څخه چې د څېړنې پر مهال یې خپل کار او وخت زموږ په اختیار کې راکړی او له موږ سره یې د مرکې په ترسره کولو کې برخه اخیستې ده مننه کوم. د دې تر څنګ زه غواړم له هغه دوستانو څخه مننه وکړم، چې د دې لیکنې د لومړنیو نسخو په باب یې تبصرې کړې دي.

د ګران او ښه ملګري، استاد "عبدالسمیع ولیزاده" څخه مننه کوو چې له مونږ سره یې په ولایتي کچه د مرکو په ترسره کولو کې مرسته کړې ده.

د یادونې وړ ده چې موږ په شخصي ډول په دې مقاله کې د ناکامۍ، نیمګړتیاوو او کمۍ مسؤلیت په غاړه اخلو.

# سریزه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره خوشحاله ده چې د افغانستان د اساسی قانون په اړه خپل دریم پړاو څېړنه د متحده ایالتونو د سولې انستېټوټ (USIP) په همکاری خپروي. غواړو چې د متحده ایالاتو د سولې انستېټوټ د مالي ملاتړ څخه چې پدې څېړنه کې یې له موږ سره ده کړي مننه وکړو.

د تحقیق په لومړي پړاو کي، د اساسي قانون څېړنه په عمومي اصطلاحاتو لکه د ځواک جلاوالی، ټاکنیز سیسټم، د اتباعو اساسي حقوق، او د اساسی قانون لس کلنۍ باندې تمرکز درلود. په دویم پړاو کې، زموږ لیکوالو د ۱۳۸۲ کال پر اساسي قانون په تېره بیا د اجرائیه قوې پر تکامل او په افغانستان کې د قضائیه قوي پر بیا کتنې باندې تمرکز درلود.

خوښ یو چې په اوس پراوکی، د هغه دوو څېړنو څخه چی یوه یې د اساسی قانون پر اتم فصل چې د عامه ادارې پر سیسټم باندې تمرکز لري وړاندي کړو. دا څېړنه د افغانستان د عامه ادارې په اړه د نور وضاحت، او مخ پر زیاتیدونکو اړتیاوو لپاره یوه پروخت څېړنه وه. همدا راز دا څېړنه د لومړنیو څېړنو څخه ده چی د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري د افغان څېړونکو لخوا د قانون اړونده موادو کموالي او ننګونو په نښه کولو لپاره د ستر او عملي هڅو په توګه ګڼل کیږي.

د دې څېړنې لیکوالان میرویس ایوبی او هارون رحیمي، په داګه کوي چې عامه اداره چې په اساسي قانون کې ورته اشاره شوي ده، اساسی قانون په کومه کچه کافی قانوني چوکاټ ورته چمتو کړی او یا بریالی شوی چې خپل نقش ولوبوي. ددې څېړنې موندنې ښیي چې ډیری مرکه کونکي په دې آند دي چې د غیر متمرکزې اداري لپاره اساسي قانون د نه تمرکز کولو سیسټم رامینځته کړی دی. په داسی حال چی دولت د اداری ښستهونو اصلاحاتو په اړوند ډیر جدی دی. له بلې خوا، د پاموړ کسان دا استدلال کوی چې د اساسي قانون عمومي تفسیر ښیي چې اساسي قانون نیمه متمرکز یا غیر متمرکز عامه اداره وړاندې کوي.

ایوبی او رحمانی یو شمیر سپارښتنې د افغان دولت لپاره کړې دي چې دولت په لنډ مهاله کې څه کولای شي او هغه بدلونونه چی اوږد مهال کې ترسره کېدای شي څه دي.

په افغانستان کې د عامه اداري سیستم د پوهاوي لپاره د دې څېړنې موندنې ډیرې اړینې دي، په ځانګړی توګه، څرنګه چی د اوسنی اساسې قانون څخه تصور کېږي. زه هیله منده یم چې دا څېړنه به نه یوازې د سرچینې په توګه چې افغان دولت او ذینفعو سره مرسته وکړي بلکې د یو لوی بحث لپاره به د حکومت د اوسني او راتلونکي حکومتدارۍ سیستمونو ښه اداره کولو لپاره لار پرانیزي.



ډاکتر اورخلا نعمت

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری رئیسه

# د موضوعاتو لیکلړ


د لیکوالو په اړه ........ ج

مننه ........ د

سریزه ........ ه

اجراییوي لنډیز ........ ۱

۱. د لیکنې لنډیز ........ ۲

۱.۱ مقدمه ........ ۲

۱.۲ د څېړنې ارزښت ........ ۲

۱.۳ میتودولوژي (څېړندود) ........ ۲

۱.۴ د څېړنې پوښتنې ........ ۳

۱.۵ تیوریک چوکاټ ........ ۳

۲. په افغانستان کې د عامه ادارې تاریخي شالید ........ ۶

۲.۱ د متمرکز اداري سازمان جوړېدنه ........ ۶

۲.۲ تمرکز زدایې ته تمایل (نامتراکمه اداري سیستم) ........ ۷

۲.۳ غیر متمرکز اداري سیستم ........ ۸

۳. د اوسني اساسي قانون پر اساس عامه اداري سازمان ........ ۱۰

۳.۱ د عامه اداري سازمان په اړه د اساسي قانون دریځ ........ ۱۰

۳.۲ شته اداري سیستم ........ ۱۰

۳.۳ مرکزي او سیمه ییزې ادارې ........ ۱۳

۳.۴ د اساسي قانون سره د اداري سازمان مطابقت ........ ۱۹

۳.۵ له تمرکز څخه د غیرتمرکز کولو په لور ........ ۲۱

۳.۶ د عامه قانون حقوقي اشخاص ........ ۲۳

۳.۷ په عامه اداري سازمان کې د اصلاحاتو اړتیا ........ ۲۴

۴. پایله او سپارښتنې ........ ۲۹

۴.۱ پایله ........ ۲۹

۴.۲ سپارښتنې ........ ۳۰

اخځلیکونه ........ ۳۱

# اجراییوي لنډیز

د عامه اداري نظام د اساسی قانون دبنسټ ابښودونکود اړینو بحثونو څخه و، لکه څنګه چې د ۲۰۰۴ کال د اساسی قانون په اتم څپرکي اوویزو موادو د اداري سازمان سبک او د بنسټ بڼه طرحه کړي ده. خو د موثریت د څېړنې څخه چې د سازمان او جوړښتونو په اړه دي جو ته کیږی تیرې چې یوې برخې يې ددې ګټو عملي اړخ نه دی خپل کړی. په هرصورت، په افغانستان کې د عامه اداري د سازمان څیړنه ښیي چې د اساسي قانون سره سم د مدیریت ځینې اداري لا تر اوسه ندي رامینځته شوي ، او ډېر وختونه د عامه ادارو اوسنی سیستم ښیی چې د اساسي قانون له مفاداتو سره ډولونو څخه توپیر لري. د عامه اداري د اساسي قانون ماډل او د افغانستان د حقیقي اداري سیستم تر مینځ د تشې سربیره، دعامه اداري په برخه کې د تیرې لسیزې تجربه هم د اساسي قانون بڼې نیمګړتیاوې په ګوته کوي. تر اوسه پورې، د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون له مخې د اداري جوړښت او د عامه اداري ماډل په اړه ناځوابه پوښتنې شتون لري. د عامه اداري په اړوند د رسمي حقوقي کاري متناقض او ناثابت جوړښت چوکاټ د عامه اداري سیستم دبنه والی به خاطرد اساسي قانون د بیاکتنې منځته راوړی.

سره له دې چې د ۲۰۰۴ اساسي قانون تدوین کوونکي په اداري سازمانونو کې د مخکنو اساسی قوانینو د کړنو او عملکرد څخه بې خبر نه وو. خو معلومیږي چې دوی د تیرو تجربو څخه یې ګټه نه ده اخیستې. د تیر اساسی قانون څیړنې ښیې چې بیلابیل سبکونه لکه متمرکز، عدم متمرکز او متمرکز او عدم تراکم څخه په افغانستان کې ګټه اخیستل شوې ده چې کېدای شوی د ۱۳۸۲ کال په راتلونکي سیستم لپاره لار پرانیستونکی وي. کیدای شی د بومي یا بنسټیزو نظریاتو نشتون، او دهیواد د اداري سیستم د مطالعاتو د تیوریګانو نشتوالی ددې نیمګړتیاوو د دلایلو څخه وګڼو. د لازمه تاریخي مطالعاتو او د عامه اداري نظریاتو نشتوالی په افغانستان کې د عامه اداري سیستم د کمزورې بڼې دلیل ګڼل کیدای شی. په هرصورت، یو بله تولیزه نظریه دا هم ښیي چې په تیرې یونیم لسیزې ، افغانستان د بڼې حکومتوالۍ سیستم لپاره د لوی قانوني او سختې حقوقي ستونزې ورسره مخ شوی او مقابله یې کړی ده. د دې ننګونو په پام کې نیولو سره چې تر اوسه دوام لري، کېدای شی یوه نیمه لسیزه اساسی قانون کې دشته اداری اساساتو په خاطر کافی نه وي. خو هغه څه چې د اهمیت وړری هغه داد دی چې اوسنی وضعیت په بې پرې توګه وارزول شي. ترڅو د تېرې تجربو څخه په ګټې اخیستنې د اوسنیو او راتلونکیو امکاناتو په اړوند موثر ګامونه واخیستل شی. نو له همدې امله ده چې دې څېړنې د تېرو حقوقي عملي تجربې، د اوسنی اساسی قانون تحلیل او د افغانستان د عمومی اداري تشکیلات او بنسټونه تر ارزونې لاندې نیولي دي.

دا څیړنه وړاندیز کوي چې افغانستان، د تاریخي درسونو او د هغو ننګونو سره چې ورسره مخ دي، په منځ مهاله او اوږدمهال توګه کی قانوني اصلاحات ته لاس لاندې و نیسي تر څو په تدریجي توګه په هیواد کې د عامه اداري د عامه خدمتونو او سیاسي ثبات د ټینګښت لپاره د اساسي اداری یو اغیزمن چوکاټ جوړ کړي.

# ۱. د لیکنی لنډیز

## ۱.۱ مقدمه

څرنگه چې سازمان او یا د عمومي ادارو د جوړښت مخینه د دولت د لومړنیو سیاسي جوړښتونو څخه پیل کېږي، خو په افغانستان کې د دولت یاده مولفه یا جوړښت د یوې پېړۍ څخه زیاته مخینه نه لري. پخوا د عامه اداري سازمان د واک د خاوندانو لپاره یو ښه او د کار ولو آله شمېرل کېده. تر څو چې له هغې څخه د واک د ترلاسه کولو او خلکو سره د اړیکو ټینگولو لپاره کار واخلي . په دې اساس د دولت مسلسل بدلونونو د عامه اداري بدلون هم له ځانه سره درلود. خو؛ په زیاتو هېوادونو کې د هغوی د سیاستولو لخوا بېلابېلو شرایطو ته په کتو او د اړتیاوو په نظر کې نیولو سره د اداري سازمان بېلابېلې لارې او ډولونه غوره کړي او آزمایلي دي. په افغانستان کې د عامه اداري سازمان د جوړېدلو سره سم د نولسمې پېړۍ له وروستیو دوو لسیزو څخه تر اوسه پورې بېلابېل اداري سبکونه لکه: متمرکز، عدم تراکم او د عدم متمرکز مډلونه هم کارول شوي دي چې د بېلابېلو لاملونو لکه: قبیلوي او سنتي جوړښتونه، د رژیمونو ژر ژر بدلون او سیاسي بی ثباتي، دوامداره تاریخي پرېکون او له پورته څخه تر ښکته پورې په وارداتي ډول د اصلاحاتی برنامو او د پردیو ضد ټولنیزو روحیو د ودې او تلپاتې کېدو له امله ددې وخت نه دی موندلی تلپاتې او دایمی شي. آن . تردې چې په وروستی د اوسني اساسي قانون پر بنسټ د متمرکز سیسټم اود تراکم نشتوالي په اړه وروستی وړاندوینې شوي دي.

څرنگه چې د اداري سیسټم یوې نیمې پېړۍ تجربې ښودلې ده چې یاد سیسټم خپلو ځرگندو موخو ته د رسېدلو په برخه کې ضعیف و. که ربښتیا ووایو په خپلو کړنو کې ناکام و. د اداري سیسټم پر اړوند د اساسی قانون د کړنو د ځرگندتیا نه شتون، د اساسي قانون په کړنو کې د وړاندویل شویو نیمگړتیاوو شتون، د قانون د مفادو د سم نه پلي کول او د قانون څخه لوړو د نویو سازمانونو او جوړښتونو رامنځته کېدنه چې اساسي قانون تر پښو لاندې کوي، له هغو دلیلونو څخه دې چې د عامه اداري سازمان په نامناسبه کارونو کې بې اغېزه درلوده. نو ځکه هغه پوښتنه چې را منځته کېږي دا دي چې آیا نوموړی اداري سازمان بیا حقوقي چوکاټ او قانوني کړنې درلودلې دي. د دې پوښتنو او ورسره ځینو فرعي پوښتنو د ځوابولو لپاره د کتابتوني او مرکې د میتود څخه گټه اخیستل کېږي. اساسي قانون او نور تقنیني اسناد، رسمي سندونه، رسمي ریپورټونه او د توصیفي او تحلیلي میتودونه سره اړوند علمي آثار به مطالعه او ارزول کېږي.

دا څېړنه څلور برخې لري. په لومړۍ برخه کې د څېړنې د منځپانگې سره اړوند عمومیات لکه: سریزه، د څېړنې ډول، د څېړنې ارزښت، پوښتنې او نظریات تر بحث لاندې نیول کېږي. په دویمه برخه کې تاریخي بنسټونه او په افغانستان کې د عامه اداري د بدلون بهیر په تر څېړنې لاندې نیول کېږي. دریېمه برخه د اساسي قانون چوکاټ او د افغانستان د عامه اداري حقوقي جوړښت، د اساسي قانون د ماډل سره د عامه اداري د واقعاتي جوړښت سمون او د اصلاحاتو اړتیا بیانوي. څلورمه برخه په وړاندیزونو، طرحو او پایلې سره پای ته رسېږي.

## ۱.۲ د څېړنې ارزښت

د عامه اداري سازمان یو له هغو بنسټونه څخه شمېرل کېږي چې په افغانستان کې د نوي پروسې د ناکامۍ او عیبونو د کتنې لپاره باید تر ارزونې لاندې ونیول شي. ځکه چې د عامه اداري سازمان پراختیا، د ډیموکراسۍ د ټینگښت، د پراخې واکمنۍ منځ ته راوړلو، د ټولنیزو گډون اصل ته په واقعیت بخښلو او د ټولنیزو چوپړتیاوو لپاره ډېر د ارزښت لري. تر کومه ځایه چې د یو سیسټم د وړتیا کچه په مستقیمه توگه د جوړښت د کیفیت او د عامه اداري له کړنو سره تړلې ده. بې له شکه په هغو شرایطو کې چې اداري سیسټم د ډېرو ژورو او جدي نیمگړتیاوو سره مخامخ وي نه شي کولای د ټولنیزې ، اقتصادي او سیاسي پرمختیا مسؤلیت په غاړه ولري. نو د یو بریالي او پیاوړي هېواد اړتیاوې د یو پیاوړي ټولنیز یا عامه سازمان درلودل دي چې د پیاوړې دودیزه، قوي حقوقي چوکاټ او د کورنۍ تجربو لرونکی وي . په دې اساس د شته اداري سیسټم د سمون لپاره کولای شو د جدي کار او په یاده برخه کې د تخصصی او کره کتنې مطالعې لپاره عملي گامونه اوچت کړو.

## ۱.۳ میتودولوژي(څېړندود )

دا څېړنه پر کیفي کړنلارې ولاړه ده او همدارنگه په بنسټیز ډول به د توصیفي منځپانگې او شننو پر بنسټ ترسره شي. کتابتوني مطالعه، د اطلاعاتو ټولونه، د متخصصانو او کلیدي معلومات ورکوونکو کسانو سره د مرکې له لارې د (KLLs) اود پالیسي خبرې اترې د اړوندو مراجعو سره د هغو طریقو له جملې څخه دي چې په دې څېړنه کې استعمال شوې دي. د یادونې وړ ده چې مرکه

کوونکې د هغو خلکو څخه ټاکل شوي دي چې په دې برخه کې د مسلکي پوهې او علمي تجربو درلودونکي وو. مرکه په نيمه جوړښتي يا مخامخ ډول ترسره شوي ده ، په داسې توګه چې د معلومات ورکوونکو لپاره د معلومات ورکولو فرصت موجود وي.[1] د اساسي قانون سربېره، برخېره قوانين، تقنيني فرامين، لوايح او مقررات، کتابونه، اکاډميکې مقالې، راپورونه، دولتي رسمي متنونه او د عامه اداري سازمان نورې حقوقي اړوند سرچينې به د استعمال وړ وګرځي. د معلوماتو د لاسته راوړنې لپاره د اساسي قانون د څارنې د خپلواک کميسيون له غړو ، د عامې ادارې لوړ پوړو مقاماتو، مسلکي او مجربو خلکو، مسلکي او اکاديميکو حقوق پوهانو سره به مرکې سر ته ورسيږي. په پايله کې دا مقاله به دعامه اداري سازمان تيوريکه مطالعه، د هغې د تاريخې تکاملی بهير، اوسنی وضعيت او د عملي کېدو او د هغوی لاندې ليد لوري څخه يوه ترکيبي مقاله وي.

## ۱.۴ د څېړنې پوښتنې

### اصلي پوښتنه:

- آيا د افغانستان په اساسي قانون کی د عامه اداري سازمان لپاره مناسب او کافي حقوقي چوکاټ اټکل شوی دی؟

### فرعي پوښتنې:

- آيا د عامه اداري پس منظر د عامه اداري لپاره ګټور تاريخي سابقه برابروي؟
- آيا د افغانستان عامه اداري سازمان عملي واقعيت له حقوقي چوکاټ سره سمون لري؟
- د افغانستان دعامه اداري سازمان د قوت او نيمګړتيا ټکي کوم دي؟
- د افغانستان د اداري سيستم د سمون لپاره عملي کارونه چې تر سره شوي څنګه ارزول کېدای شي؟
- په افغانستان کې د عامه اداري سازمان د قانوني اصلاح او اغېزمنتيا لپاره څه بايد وشي؟

## ۱.۵ تيوريک چوکاټ

### د دولتي مديريت پارادايمونه

که څه هم د پرمختللي دولتي مديريت ځينې مؤلفې لکه سلسله مراتب او مديريتي جوړښتونه تر لومړني سياسي جوړښت پورې ځرګندولای شو، خو د دولتي مديريت عمر تر يوې نيمې پېړۍ نه اوړي. د ۱۹ مې پېړۍ د پای څخه تر اوسه پورې په اکثرو هېوادونو کی درې ډول پارادايمونه کلاسيک دولتي مديريت، نوی دولتي مديريت او ښه حکومتولي ازمويل شوي او منل شوي ده .

کلاسيک دولتي مديريت عمدتاً د ماکس وبر او ځينو نورو پوهانو لکه ودرو ويلسون(Woodrow Wilson - ۱۸۸۷) نظريات ګڼل کېږي.[2] ماکس وبر قانوني يا عقلاني واک ميراثي او کاريزمايي واک په پرتله غوره ګڼي او پر قوانينو او اداري مقرراتو، د اداري پر تسلسل ، مکتوب شويو او قانوني مستنداتو، د کار پر وېش او د مقام پرغيرشخصي کېدو باندې ټينګار کوي. په ۱۹۷۰ کلونوکې ، وروسته له هغه چې د ده د کړنو ناسم اړخونه جوت شول، نوی دولتي مديريت يې د يو نوي پارادايم په حيث ځای ناستی شو.

په دې پارادايم کې د دولتي سازمانونو د تصدي پر کمښت، بازار رول ته ارزښت ورکول ، د دولت د کوچنيتوب او خصوصي سکتور مخوا د خدمتونو وړاندې کولو پر سپارلو باندې ټينګار کېږي. خو دا کړنې هم پر عقلاني ابزارو او اقتصاد ، د بازار په عواملو باندې بې ځايه تکيه او د څارنې د نشتون له امله په ۱۹۹۰ لسيزو کې تر نيوکو لاندې راغی. کېدای شي تر ټولو لويه نيوکه به ټولنيزعدالت ته د کمه پاملرنه او طبقاتي ژورو نيمګرتياوو په برخه کې وه. په دې اساس د يادو ستونزو د حل، اړتياوو او نويو غوښتنو ته د ځواب ويونکې کړنلارې موندلو په موخه د ښه حکومتولی پارادايم را منځته شو.

۱ مرکې په دري ژبه ترسره شوي، خو د پروفيسور روبين سره په سکايپ کې په انګليسي ژبه مرکه شوې ده.

۲ وودرو ويلسون، د سياسی علومو فصل نامه او د مطالعي اداره، شميره ۲، ۱۳۸۷ موجود په:

V۵۰۲/http://www.iupui.edu/-speal/uls۵/Sections/Units/Orosz/Administration_of_study_Wilson_Woodrow_۱۸۸۷_jstor.pdf

د ښې حکومتولۍ پارادایم د اړتیاوو په پېژندلو کې د دولت رول د امله د پاملرنې وړ وګرځېد.[۳] د پخوانیو کړنو پر خلاف چې د بازار په اداره کولو کې د دولت پر لاس وهنویې ټینګار کاوه، په ښه حکومتولۍ کې اوسط حد او اعتدال په پام کې نیول کېږي. په دې تیوري کې د حکومت پر مناسب حجم او د حکومت لخوا خصوصي سکتور او مدني ټولني سره پر مشارکت ډېر ټینګار کېږي. په دې پارادایم کې داسې انګېرنه باور شته چې ګوندې د دغو دربیو حوزو د مرستې په پایله کې ستونزې هواریدلای شي.[۴] د دې پارادایم په تیوریکي مبانیو کې د خلکو نظریات، د خلکو د ګډون جلبول او ښاریانو ته د مسؤلینو ځوابوینه شامل ده.[۵] په همدې اساس عامه اداري د ښه مدیریت، غوره تصمیم نیونې، په یاده اداره کې د خلکو د ګډونوالي لپاره او د ښه وېش په موخه د نویو بنسټونو او سازمانونو په جوړولو پیل وکړ.[۶]

د افغانستان په نوي اساسي قانون کې، د مدني ټولنو، د وګړو حقوق او آزادي، ټولیز ګډون، ډیموکراسي، د بازار اقتصاد او همدارنګه د خصوصي سکتور په ملاتړ باندې ټینګار شوی دی.[۷] سربېره پر دې، د حکومت کړنې یا پالیسۍ د دوی علاقه د هغو اخلاقي اصولو د تحقق په اړه د دوی علاقمندۍ ښیي چې اساسي قانون کې یې یادونه شوی ده. نو، په دولتي مدیریت کې تر ټولو غوره او منل شوی پارادایم همدا ښه حکومتولۍ ده. د بیلګې په توګه کولای شو د «د ښې حکومتولۍ د ملي پالیسۍ مسودې» ته چې د خپلو قانوني مراحلو د تېرولو په حال کې ده ، اشاره وکړو.[۸]

## دښې حکومتولی د پرادیم په رڼا کې د اداري نظام مدل

پخوا د عامه اداري سازمان د شخصي واک د ترلاسه کولو لپاره کارول شوی دی، خو د مدرنو بدلونونو او د هغه بدلونونو له امله چې د دولت د تعریف رول او دریځ په اړوند منځته راغلل د افغانستان په عامې اداري کې هم بدلونونه رامنځته شول. دغه بدلونونه چې د عامه اداري په سازمان کې رامنځته شول بېلابېل لاملونه یې درلودل چې په بېلو هېوادونو کې بېل و. نو دغه ښکارنده چې پرمختللو هېوادونو کې پې شه والی او تکاملي حالت خپل کړی شي په وروسته پاتې هېوادونو لکه افغانستان کې دغه ډول بدلون کومه بریا نه ده ترلاسه کړې. معاصر تاریخ ښیي چې په نږدې یوې نیمې پېړۍ کې یا له کوم وخت څخه چې متمرکز حکومت منځته راغلی دی د اداري سازمان او دولتي مدیریت بېلابېل ډولونه تجربه شوي دي. خو هر ځل پرته له کومې پایلې پاتې شوي دي. د اداري سازمان د جوړښت، اداري متمرکز نظام، د نه عدم تراکم دی متمرکز او نه متمرکز جوړښت په هغه متعارفې بیلګې دي چې هر یو یې د څه مودې لپاره د منلو او استعمال وړ واقع شوي دی. په دې اساس، د اداري سازمان او دولتي مدیریت تاریخي تجربه بنسټ ښیي چې دولتي دودیز مدیریت، نوی دولتي مدیریت او ښه حکومتولي هم په وروستۍ پېړۍ کې د بېلابېلو رژیمونو لخوا ازمویل شوې دي. پورتني نظامونو او پارادایمونه په افغانستان کې د بومي یا اصلي واقعیتونو سره د وارداتي والي له امله او د بشپړ فرصت د نشتون له امله په ښه توګه پلې او پېژندل شوي نه دي. خو اوس د داخلي وضعیت د بدلون او نړیوالو اړتیاوو له امله اړینه ده چې د پخوانیو تجربو په څېړلو او وسنیو غوښتنو ته په کتلو سره د عامه اداري سازمان د سمون او د عامه چارو د مدیریت په برخه کې هوښیارانه او پرځای ګامونه پورته شي. که څه هم چې اساسي قانون په حاکمیت باندې د ټینګار، عامه ګډون، د بازار اقتصاد او مدني ټولنې لپاره د ښې حکومتولۍ مودل غوره کړی، خو په دې برخه کې چې کوم اداري ټاکل شوې سیستم باندې په اساسي قانون کې ټینګار شوی دی بحث کول په کار دي نو لازمه ده چې د یاد شویو نظر د وضاحت په خاطر د هغه پر نظری چوکاټ بحث وشي.

## اداري نظامونه

هېوادونه د خپلو چارو د مدیریت لپاره د بېلابېلو موډلونو څخه ګټه پورته کوي. ځکه چې د هر هېواد د اداره کولو طریقه د نوموړي یاد هیواد په سیاسي، ټولنیزو، اقتصادي، او جغرافیایي شرایطو تاریخ وی. په داسې حال کې د کمزوري او محدود سیاسي فرهنګ لرونکو هېوادونو لپاره چې د واک د جزیرو د رامنځته کېدلو او د تجزیې احتمال پکې شته، متمرکز اداري سیستم توصیه کېږي او د هغو هېوادونو لپاره چې د پراختیا او د سیاسي ګډون کلتور لرونکې ، پرمختللي او همدارنګه د ملي یووالی لرونکي دي په عمده توګه عدم متمرکز نظامونه غوره دي. په دې اساس ځیني هېوادونه خپلې ملي او سیمه ییزې چارې د اداري تمرکز پربنسټ اداره کوي په دغو هېوادونو کې د چارو د کنترول په موخه د اداراتو او مؤسساتو د تاسیس ترڅنګ په سیمه ییزو مرکزونو کې هم ځینې

۳ مهدی هداوند، نور، په اداري حقوقو کې د تصمیم نیونکي آیین، لسم چاپ، خرسندي خپرونه ، ص ۲۷.

۴ یو، آن، دی، پي (UNDP). حکومت د دوامدار پرمختګ او برابری دپاره، د ملګرو ملتونو دنړیوال کنفرانس راپور ، ۲۸ او ۳۰ د جولای، ۱۹۹۹، ص ۴۲.

۵ حبیب الله سالارزهی، حبیب ابراهیم پور، د سیرد بدلون څېړنې دولت د پارادایمونو په مدیریت کې، د دولت د پارادایم د مدیریت نه تر ښه حکمراني پارادایم، د دولت مدیریت، دوره ۴، شمیره ۹، ۱۳۹۱، ص ۵۷.

۶ مهدي هداوند، نور، په اداري حقوقو کې د تصمیم نیونکي آیین، لسم چاپ، تهران، خرسندي خپرونه، ص ۲۹.

۷ اساسي قانون ۱۳۸۲ ، د دولتی مدیریتونو د پارادایمونو د بدلون بیا کتنه، شمیره ۸۱۸، ۴ او ۲ او ۱۰ مادې او دویم فصل.

۸ د دولتی مدیریتونو د پارادیمونو د بدلون بیا کتنه، جولای ۲۰۱۸.

ځانګې په پام نیول کېږي.[۹] که څه هم دغه ډول جوړښت پخوا ډېر کارول کېده، لکه د فرانسې د څوارلسم لویي په وخت کې. خو اوس ډېر لږ کارول کېږي. البته د یادونې وړ ده چې په افغانستان کې اوس هم په اصل کې د دغه ډول سیستم څخه پیروي کېږي. په ځینو نورو هېوادونو کې ملي چارې د مرکزي اداراو او سیمه ییزې چارې د سیمه ییزو اداراو لخوا اداره کېږي. په داسې حال کې چې په دغو هېوادونو کې ملي چارې په متمرکزه توګه او سیمه ییزې چارې د مرکزي مقاماتو تر نظر لاندې د سیمه ییزو منتخبو ادارو لکه شوراګانو لخوا په غیر متمرکز توګه پر مخ وړل کېږي، لکه په انګلستان، فرانسه او بلجیم کې.[۱۰] البته که چیرې د ملي چارو د ادارې صلاحیتونه لکه قانون جوړونه، داخلي سیاست، او قضایي چارې سیمه ییزو اداراو ته تسلیم شي بیا نود سیاسي تمرکز نشتون یا فدرال سیستم ترې جوړیږي.[۱۱] په دې اساس د سیاسي تمرکز نشتون بحث لړۍ د اساسي حقوقو په حوزې یا ځانګې پورې اړوند دی او په دې مقاله کې یې په هکله د بحث کولو امکان نشته دی. د یادونې وړ ده چې په ځینو هېوادونو کې که څه هم سیستم متمرکز دی خو سیمه ییزو اداراو ته هم لازم صلاحیتونه ورکړل شوي تر څو له یوې خوا د واک د تراکم څخه په مرکز کې مخنیوی وشي او له بلې خوا د متمرکزو نظامونو نیمګړتیاوې را کمې شي.

نو اداري نظامونو په ټولنیزه توګه په متمرکز او غیر متمرکز باندې وېشل کېږي چې هر یو یې بیا په نورو برخو د تقسیم وړ دي. دغه دوه حقوقي او مدیریتي نظامونه په حقیقت کې دوه متضاد نظامونه دي چې د عامه چارو او هم د خلکو په سرنوشت کې بیلا بیلې اغیزې لري.[۱۲] په داسې حال کې چې اداري متمرکز سیستم په مرکز کې د صلاحیتونو د تجمع او افقي او سلسله مراتبي په بڼه لري.[۱۳] اداري د نه متمرکزه سیستم د اداري سازمانونو تر منځ د اداري صلاحیتونو پر ویش او په عمودي ډول د هغه پرعمل کولو باندې ولاړوی. په متمرکز اداري سیستم کې ټول اداري سازمانونه د یوه سازمان حکم لري. د تصمیم نیونکیو د لوړپوړو مقاماتو تر امر لاندې عمل کوي. په متمرکز سیستم کې ټول اداري سازمانونه د عامه حقوقو د یو حقوقي شخصیت لرونکې دي.[۱۴] خو د نه متمرکز په سیستم کی صلاحیتونه په بېلو سیستمونو کې لږ او ډېر وېشل شوي دي. خپلواک سازمانونه او د یوې امر ورکونې اداري لاندې نه دي. خو د حکومت د عامې یا ټولیزې څارنې څخه بهر نه دي. نو ځکه په داسې نظامونو کې د دولت د حقوقي شخصیت تر څنګ د ادارې حقوقو نور شخصیتونه هم وی.[۱۵]

د یادونې وړ ده چې هر یو د دغو دوو نظامونو څخه بیا په فرعي یا کوچنیو نظامونو باندې د وېشلو وړ دي. په داسې حال کې چې متمرکز اداري سیستم په متمرکز متراکم او متمرکز عدم تراکم نظامونو باندې وېشل کېږي، د عدم تمرکز اداري سیستم په عدم تمرکز سیمه ایز، منطقه ګرایي اود تخنیکي تمرکز په نشتون باندې وېشل کېږي. لکه څنګه چې پورته یادونه وشوه له دې سره چې په افغانستان کې د نه تراکم لرونکي متمرکز اداري سیستم وړاند وېینه شوې ده خو د یوه تفسیر پر بنا چې د اساسی قانون د روحیې سره سم دی د اداری د نا متمرکزه سیستم تمایل مولفی لیدل کېږي.

غیر متمرکز متراکم سیستم یا نه تراکم سیستم په حقیقت کې د متمرکز سیستم هغه ډول سیستم دی چې د متمرکز سیستم د کمیو او ستونزو د پوره کولو په خاطر ترې ګټې اخیستل کېږي. دغه سیستم چې د فوق العاده واکونو ورکولو ته هم ویل کېږي، توپیر یې د عدم تمرکز سیستم څخه یوازې دا دی چې په دې سیستم کې واکونه د مرکزي دولت د مامورینو په ګټه سیمه یز مقاماتو ته سپارل کېږي؛[۱۶] یعنې دا هغه واکونه دي چې غیر مرکزي ادارو ته په تفویضي ډول ورکول کېږي نه اصلي ډول. نو په دې توګه لیدل کېږي چې دواړه نظامونه متمرکز او غیر متمرکز خپل مزیتونه او عیبونه لري. که څه هم د سیستم کارکړنې اونه کارکړنې تر ډېره بریده پورې د اړوند دولت د بېلابېلو تاریخي، ټولنیزو او سیاسی لاملونو سره تړلې دي، خو په ټولیز ډول د ډیموکراسۍ روحیې سره د نه سمونتیا، د نیمه ییزو واقعیتونو سره په مرکز کې د ترسره شویو پریکړو د نه همغږۍ او نه مؤثریت احتمال، د غوړه مالۍ او چاپلوسي او سرسري کلتور دودېدل، د سیمه ییز بشري ځواک د خلاقیتونو هېریدنه، د بوروکراسی او کاغذ پراني دودېدل، د متمرکز نظامونو د لویو ستونزو او عیبونو څخه شمېرل کېږي.[۱۷] د نه تراکم سیستم د هغه دولتونو لپاره یوه د حل لاره ده چې له یوې خوا د ځینو دلیلونو له امله د عدم تمرکز سیستم له منلو څخه ځان ساتي او له بلې خوا غواړي چې د متمرکز سیستم عیبونه او ستونزې لږ کړي.

---

۹ منوچهر طباطبایي موتمني، اداري حقوق، نهم چاپ، تهران، ۱۳۸۳، ص ۵۲.

۱۰ ولي الله انصاري، د اداري حقوقو کلیات، اووم چاپ، تهران، ۱۳۸۲، ص ۱۳۱.

۱۱ بیژن عباسی، د اساسی حقوق بنسټونه، دوهم چاپ، تهران: جنګل، ، ۱۳۸۹، ص ۱۸۷.

۱۲ ولي الله انصاري، د اداري حقوقو کلیات، ص ۱۳۰.

۱۳ ولي الله انصاري، د اداري حقوقو کلیات، ص ۱۳۱.

۱۴ منوچهر طباطبایي موتمني، اداري حقوق، ص ۵۳.

۱۵ منوچهر طباطبایي موتمني، اداري حقوق، ص ۵۸.

۱۶ منوچهر طباطبایي موتمني، اداري حقوق، ص ۵۷.

۱۷ ولی الله انصاري، د اداري حقوقو کلیات، ص ۱۳۲.

# ۲. په افغانستان کې د عامه ادارې تاریخې شالید

## ۲.۱ د متمرکز اداري سازمان جوړېدنه

لکه څنګه چې په حقوقي برخه کې ډېر حقوق پوهان ، حقوق او حقوقي قواعد د يوې ټولنې د کلتور تاريخ او تاريخي ارزښتونو سره تړلي ګڼي ،[18] افغانستان او د هغه حقوقي سيستم قواعد هم له دې څخه استثناء نه دی. په دې اساس د افغانستان اداري او حقوقي وضعيت د هغې د تاريخي سرچينواو پرمختياوې بهير پرته په سمه توګه تر ارزونې لاندې ونيول شي. سره له دې چې اوسنی افغانستان د يو خپلواک دولت او جلا قلمرو په حيث د احمد شاه ابدالي (۱۷۴۷) په وخت کې جوړ شو،[19] خو د ټوليز او عامې اداري سره يو متمرکز حکومت د امير عبدالرحمن خان (۱۹۰۱-۱۸۸۰) څخه مخکې جوړ نه شو.[20] پرته له دې چې د احمد شاه بابا او اميرعبدالرحمن خان د واکمنيو د وقت تر منځ ځينې لنډ مهاله او نابريالي اقدامات سرته رسيدلي دي د امير شېرعلی خان هڅې يوازينې اصلاحات د ښې حکومتولۍ او عامه اداري سازمان په برخه کې يادولای شو. امير شېرعلی خان (۱۸۷۹-۱۸۶۹) د عامه امنيت د رامنځته کولو ترڅنګ يې په واسطه وکولای شول چې تلپاتې نوښتونه ترلاس لاندې ونيسي. د هغه د وزيرانو د لومړنۍ کابينې جوړېدلو سره کابينه د پنځو وزيرانو، يو صدراعظم او يو منشۍ څخه ترکيب وه هغه د مسلح ځواکونو د منظم کولو په موخه د اداري جوړښتونو او تشکيلاتو په برخه کې ګام واخيست.[21]

د امير شېرعلی خان وروسته لومړنی کس چې د سرتاسري او متمرکز افغانستان په جوړېدلو کې بريالی شو هغه امير عبدالرحمن خان و. امير عبدالرحمن خان د زور او قاطعيت په وسيله وکولای شول پاشلي ولايتونه يا د اوليور روآ په وينا، «د قومونو کنفدريشن»[22]، د افغانستان د مرکزي اداري تر کنټرول لاندې راولي. د امير عبدالرحمن خان په باور هغه نظم، امنيت او ثبات چې د افغان انګليس جګړې او سيمه ييزو زورواکو، فيوډالانو، ملايانو او د قبايلو د مشرانو خپسريو په پايله کې له منځه تللي وو د استقرارلپاره يې يوازينۍ لاره متمرکز سيستم دی. نو د مطلقه حکومت د جوړېدلو او د هېواد په اداري چارو کې اصلاحات يې په خپل لومړيتوب کې ونيول . او په دې برخه کې يې برياليتوبونه لاسته راوړل.[23] په هغه وخت کې هېواد په څلورو لويو ولايتونو لکه ترکمنستان، هرات، کندهاراو کابل، او ۷ ولسواليو باندې وېشل شوی وو، چې هر ولايت به د امير د استازی د نايب الحکومه په نامه د يوه حاکم لخوا اداره کېده او د هېواد دا ډول وېشنه په حقيقت کې د مرکزي دولت د حاکميت په موخه و نه تمرکز زدايي په چوکاټ کې د واکونو سپارل.[24] ټولو دولتي چارواکو د مرکزي دولت له مشورې د هغه صلاحيتونو پرته چې قانون په صريحه توګه ورته ورکړی و د پرېکړې کولو صلاحيت نه درلود. او که چيرې د داسې پرېکړو اړتيا پېښېده نو دوی بايد د پادشاه له دربار څخه اجازه اخيستې وای.[25]

که د امير عبدالرحمن خان د واکمنۍ د لومړنيو مرحلو ستونزو، بې نظميو او ګډوديو ته پام وکړو داسې معلومېږي چې د افغانستان د حاکم عامه وضعيت د طالبانو د سقوط څخه وروسته او آن تر اوسه پورې دومره توپير نه دی درلودلی.[26] د هغه وخت د عامه اداري سازمان اړوند اغېزمنو اړيکی او توپيرونه په لاندې ډول خلاصه کولای شو.

۱. امير عبدالرحمن خان په داسې وخت کې قدرت ته ورسېد چې هېواد تر دغه وخته پورې د يوه واحده ساحه او يو جسمي تماميت نه درلود، نو ده مشخصاً دا دنده په غاړه واخيسته چې هڅې يې د يو ساحې د تثبيت او د چارو سمون يو ډېره متمرکزه اداره غوښت.

۲. د امير عبدالرحمن تر وخت پورې پرته د مطلقه شاهي سيستم څخه په بل سيستم نه وپېژندل شوی او نه هم تجربه شوی و.

۱۸ هيليرنګير جينی وايو، کی، پرنهاګن، جرمنی: نوروز ويرلګ، ص ۱۲.
۱۹ غلام محمد غبار، افغانستان د تاريخ په مسيرکې، ص **۵۵۴**.
۲۰ ګريګورين وارتان، د استنفورد پوهنتون خپرندويه ټولنه، صص ۱۷۱-**۱۷۵**.
۲۱ ګريګورين وارتان، د مدرن افغانستان رامنځته کيدل، ص **۱۱۵**-۱۱۸.
۲۲ اليور روآ، افغانستان، اسلام او سياسي نوې ګرايي، د ابولحسن سرو مقدم ژباړه، مشهد، د قدس رضوی آستان، **۱۳۶۹**، ص ۲۹.
۲۳ عبدالعلي محمدي، افغانستان او مدرن دولت، کابل: د اميری خپرندويه ټولنه، ص ۱۱۱.
۲۴ طارق عزيز، د افغانستان د اداري حقوقو لارښود، د ماکس پلانک ټولنه، ۱۳۹۱، ص ۳۳.
۲۵ حکومتۍ لارښود، ۲۰ برخه.
۲۶ عبدالعلۍ محمدی، افغانستان او مدرن دولت، کابل: د اميری خپرندويه ټولنه، ص ۱۴۴.

۳. سره له دې چې په دې وخت کې یو شمېر قوانین د دولت د چارو د تنظیم او د دولتي مقاماتو د صلاحیتونو او د دندو د تعیین لپاره وضع شوي وو، خو له یوې خوا د عامه اداري په برخه کې د قضایي، تقنیني، سیاسي سیاست جوړونې په برخه کې د نه بېلوالی او له بلې خوا څخه د خلکو د حقونو او آزادۍ ساحې ته د پام د نشتون له امله نه شو کولای دا ووایو چې اداري حقوق دې جوړ شوي وي.

۴. د دې دورې قانوني معیارونه د مرکزي واک د ترلاسه کولو او په خلکو او هېواد کې د ټولنیز واک د لاسته راوړلو لپاره وضع شوي وو. دغه قوانینو نه د خلکو حقوق او خپلواکي پېژندلې وه او نه هم عامه ذهنیت او د خلکو سیاسي فرهنګ دومره وده کړې وه چې خپل ځان د ګډون حقدار او یا د برخلیک د تعینولو خاوند وګڼي. نو دولت د وېش د بحران او د خلکو د مخ پرزیا تېدونکو غوښتنو سره مخ نه وو ترڅو چې د تمرکز زدایي په اړوند فکر وکړي.

۵. امیر عبدالرحمن خان خپل ځان د خدای استازی د اسلام د شریعت د تطبیق کولو لپاره معرفي کړی و. او واک یې د خپل ځان لپاره یوه الهي ډالۍ ګڼله. ده دغه راز نظر د ټولو صلاحیتونو منشأ جوړه کړې وه او د صلاحیتونو د شریکولو او وېش اړتیا یې له منځه وړې وه.

د دې وخت متمرکز سیستم ته په کتو سره د هغه وخت بریالیتوبونه په ډاګه کیږي. امیر عبدالرحمن خان دغه راز یو سیستم ته د مخې کولو له لارې وکولای شول د یو واکمن حکومت بنسټ کېږدي چې کابو څلوېښت کاله یې دوام وکړ. تر دې چې اماني اصلاحات د دې دورې د پای ته رسیدلو لامل شوو.

## ۲.۲ تمرکز زدایي ته تمایل (نامتراکمه اداري سیستم)

په افغانستان کې تر ټولو اړین مدرن اصلاحات د امیرامان الله خان (۱۹۱۹-۱۹۲۹)[۲۷] په دوره کې رامنځته شول. په (۱۳۰۱) کال د «نظام نامه سیاسی دولت علیه افغانستان» د لومړني مدرن اساسي قانون تصویب او په دې وخت کې اصلاحي برنامې د هېواد د مدرن یا عصري تاریخ د عطف ټکي شمیرل کیږي. دغه اساسي قانون یو نوی اداري سیستم د سیمه ییزو ادارو او د مرکزي ادارو د سطحو په جلا کولو سره یو دوه ګونی قضایي واک او د عامه او اداري محاکمو څخه رامنځته شوې چې د ټولنیزه خپلواکۍ او د حقونو لست یې د غربي نظامونو څخه په الهام اخیستلو سره معرفي کړ و. هغه څه چې په دې منځ کې د دې څېړنې لپاره ډېر مناسبت لري هغه په اداري حقوقو او د هېواد د عامه اداري سازمان په برخه کې اصلاحات دي. په دې دوره کې ۲۵ نظامنامې (قانون) تصویب شو چې ډېری یې په اداري حقوقو پورې اړوند دي، دې نظامنامو چې زیات تمرکز په اداري حقوقو، د عامه اداري پر پراختیا، او د ښوونې او روزنې د یو نوي سیستم پر تاسیس و. په همدې دلیل دغه پړاو د حقوقي اصلاحاتو، د حقوقو په برخه کې د مدرن بدلونونو او په خاصه توګه د اداري حقوقو په برخه کې د بدلونونو پړاو بلل کیږي. د اساسي قانون ۲۳ مې مادې سیمه ییزه اداره پر دریو اړوندو برخو لکه «د وده، د دندو تفریق او د مسؤلیت ټاکلو» باندې وېشلې ده چې په ډاګه تمرکز زدایي ته تمایل ښیي. سربېره پر دې، اداره په مرکزي او سیمه ییزه کچه جلا کړل شوې وه او د سیمه ییزو بنستونو په کچه کې تر ۵۰ سلنه انتخابي غړو پورې چې د سیمه ییزو شورا ګانو سره یوشان وه ، «د مشورې غونډې» په نامه وړاند وینبې کړې وې.[۲۸] له اساسي قانون سره سم د مملکت ټولې چارې په عامه توګه د هیأت وزیرانو او په انفرادي توګه د وزیرانو لخوا اداره کېدلې.[۲۹] خو اړین صلاحیتونه لکه په لوړه کچه د چارواکو او مامورینو ټاکل یوازې د شاه په صلاحیت کې و. نو اداره اصلاً متمرکزه وه. خو د عدم تراکم د بنې څخه په دې کې صدراعظم د رئیس الوزرا په حیث هم پیژندل شوی و خو په عمل کې دا کار هېڅ کله ترسره نه شو.

د نظامنامه تشکیلات اساسی افغانستان پر بنسټ سیمه ییزو ادارو کې ولایت / حکومت اعلی، حکومت، حکومتي، علاقه داري او کلی په ترتیب سره د والي / نایب الحکومه، لوی حاکم، علاقه دار او قریه دار تر نظر لاندې وي.[۳۰] دغه ټول اداري واحدونو د کورنیو چارو وزارت تابع وو.[۳۱] البته چې د نورو وزارتونو اړوند هم واحدونو په سیمه ییزه کچه شتون درلود. لکه معارف، مستوفیت، زراعت او داسې نور، خو هغو بنستونه چې د تمرکز زدایي سره یې ډېر تمایل درلود د مشورې د مجلسونو او ښاروالیو څخه وو. دغه بنستونه که څه هم چې په یو مرکزي بنسټ یعني دولتي شورا پورې اړوند وو ، خو د ۵۰ سلنه انتخابي غړو په درلودلو او پراخو صلاحیتونو هغوی د غیر متمرکز نهادونو په شان بدل کړي وو. بل بنسټ چې تمرکز زدایي ته یې میل درلود هغه ښاروالي وه چې د

۲۷ غلام محمد غبار، افغانستان د تاریخ په مسیر کې، ص ۷۵۱.
۲۸ د افغانستان دولت علیه اساسي نظامنامه، ۱۳۰۱، ۳۹ او ۴۹ مادې.
۲۹ د افغانستان دولت علیه اساسي نظامنامه، ۱۳۰۱، ۲۵ او ۲۷ مادې.
۳۰ د افغانستان د اساسي تشکیلاتو نظامنامه، ۱۹۲۳، ۸۱ ماده.
۳۱ د افغانستان د اساسي تشکیلاتو نظامنامه، ۱۹۲۳، ۲۵ ماده.

بلدیه په نوم یادېده. د مامورینو ټاکنه، د مامورینو د معاشونو ټاکل، د بودجې ترتیب، د قراردادونو تصویب او د ښاروالۍ په کړنو باندې څارنه د بلدیه مجلس یا ښاروالۍ جرګې له اړینو صلاحیتونو څخه وو.[۳۲]

له محمد نادرخان څخه وروسته چې د نوموړي په دوره کې د عامه اداري سازمان او حقوقو په اړه تر ډېره کچه کوم بدلون نه تر سترګو کېږي.[۳۳] محمد ظاهر شاه د ۱۳۴۳ کال د اساسي قانون په تصویب سره په افغانستان کې اړین مدرن اصلاحات پیل کړل، چې دا ځل هم لکه د اماني دورې اصلاحاتو غوندې تر لسو کلونو ډېر دوام یې و نه کړ. د دغه قانون په تصویب سره په حقیقت کې محمد ظاهر شاه د نادري کورنۍ دنور غړو څخه واقعي توګه قدرت ترلاسه کړ او د نویو اصلاحاتو یو نوی ور یې پرانیست.[۳۴]

که څه هم دغه اساسي قانون په عامه توګه په اداري نظام، عدم تراکم متمرکز سیستم کې بنسټیز بدلونونه رامنځته نه کړل، خو د عامه اداري سازمان کوم جوړښت چې د دغه قانون په وسیله مطرح او پلی شو د یو ګټور او عصري چوکاټ څخه برخمن و. په دغه اساسي قانون کې د مرکزي اداري واحد د وزارت او د سیمه ییزې اداري واحد د ولایت په نامه په پام کې نیول شوي وو. د ولایتي جرګې او ښاروالۍ چې دوه نور سیمه ییز نهادونه دي یو یې د ولایت په چارو کې د مشورې او بل یې د ښار د چارو د کنترول لپاره وړاندیز شوي وو.[۳۵] که څه هم چې د اداري محاکمو او مشورتي مجالسو سیستم له منځه لاړ، د ولایت جرګه یا ولایتي شورا په دغه وخت کې تاسیس شوه او د ښاروالۍ صلاحیتونه هم زیات شول. د یادونې وړ ده چې هم د شوراګانو غړي او هم د ښاروالۍ د مجلس غړي د خلکو د پټو، آزادو، عامو او مستقیمو ټاکنو په پایله کې ټاکل کېدل.[۳۶]

که څه هم د سردارمحمد داود خان سیاسي سیستم د جمهوري په نامه یادېده خو په ټوله معنا یو دیکتاتوري سیستم او سوسیالیستي تمایل در لودونکی ګڼل کېږي.[۳۷] د هغه د حکومت بڼلګه د «نوی الیګارشي - Modernizing Oligarchies» د ادوارد شیلز (Edward Shils) د نظر وړ نظامونو څخه و.[۳۸] په دې اساسي قانون کې هېڅ کومه برخه اداري ته نه ده ځانګړې شوې یوازې په یوې مادې کې د مرکزیت د اصل یادونه شوې ده.[۳۹] حکومت هماغه د وزیرانو شورا وه چې د ولسمشر تر ریاست لاندې یې شتون درلود او د صدراعظم وړاندوینه خو هېڅ نه ده شوې.[۴۰]

## ۲.۳ غیر متمرکز اداري سیستم

د محمد داود خان د رژیم له سقوط څخه وروسته د ۱۳۵۷ کودتا په واسطه سوسیالیستي/ کمونیستي سیستم خپل رسمي پړاو ته ننوت، په دې پړاو کې درې اساسي قانونونه، یو د نورمحمد تره کي په وخت په ۱۳۵۹ کال کې او دوه نور یې د ډاکټر نجیب الله د حکومت پر مهال په ترتیب سره په ۱۳۶۶ او ۱۳۶۹ کلونو کې تصویب شول. د ۱۳۵۹ کال په اساسي قانون کې د سوسیالیستي ارزښتونو په ژمنه د هېواد ټول ځواک د تقنیني، قضایي او اجرایيې سره د انقلابي شورا په واک کې ځای ورکړل شو.[۴۱] په دې پړاو کې پر سیمه ییزو شوراګانو سربېره د سیمه ییزو کمېټو هم وړاندوینه شوې وه. په دې پړاو او په دې اساسي قانون کې د اداري تمرکز نشتوالی په ډېره ښه توګه څرګندیږي.[۴۲] د ډاکټر نجیب الله د وخت اساسي قانون هم په څرګنده توګه د اداري تمرکز د نشتوالي سیستم ښیي. له یو اداري سیستم څخه پرته د تمرکز نشتوالي د افغانستان په تاریخ کې د ډاکټر نجیب الله د ۱۳۶۶ په اساسي قانون کې اټکل شوی و. په دې ځای کې د مقالې د اوږدوالي د مخنیوي لپاره په دوه اړینو ټکو کې چې د اداري تمرکز نشتوالی را ښیي بسنه کېږي.

۳۲ د افغانستان بلدیه نظامنامه، ۱۳۰۳، ۲۲ او ۲۵ او ۳۲ مادې.

۳۳ محمد حمید صبوري، په افغانستان کې د مشروطیت پراختیا.

۳۴ کله چې محمد ظاهر شاه (۱۹۳۳-۱۹۷۳) سلطنت یې ترلاسه کړ، ۱۹ کلنه وه، دا هغه وخت و چې پلار یې محمد نادر شاه د څلورو کلونو واکمنۍ وروسته ووژل شو. نو له دې امله، د هغه د سلطنت په لومړیو دیرشو کلونو کې، د هغه د ټیټ عمر له کبله، حقیقي قدرت د کورنۍ د نورو غړو لخوا لکه محمد هاشم خان او محمود خان کارول کیده. په ۱۹۶۴ کې، دی د پراخو اصلاحاتو پروګرامونو پلي کول، او واقعي واک ترلاسه کړ.

۳۵ د افغانستان اساسی قانون ۱۹۶۴، اتم برخه.

۳۶ د تشکیلاتو اساسي قانون، رسمي جریده، د مسلسل شمیره ۳۷، ۱۳۴۴، ۴۵ او ۴۷ مادې.

۳۷ طرزي، امین، اسلام او مشروعیت په افغانستان کې، د مطالعاتو ژورنال پر سیانیت، شمیره ۵، ص ۲.

۳۸ برتران بدیع، سیاسي پراختیا، د احمد نقیب زاده، ژباړه، تهران، قومس ۱۳۸۹، ص ۵۱.

۳۹ د افغانستان جمهوري دولت اساسي قانون، ۱۳۵۵، ۲۲ ماده.

۴۰ د افغانستان جمهوري دولت اساسي قانون، ۱۳۵۵، ۸۸ ماده.

۴۱ د افغانستان د ډموکراتیک جمهوریت ۱۳۵۹، ۳۷ ماده.

۴۲ د افغانستان د ډموکراتیک جمهوریت ۱۳۵۹، شپږم برخه.

- لومړۍ دا چې د اساسي قانون د لومړۍ مادې سره سم ملي حاکمیت په خلکو پورې تړلې دی چې هغه د لویې جرګې، ملي شورا او سیمه ییزو شوراګانو په واسطه تعمل کېږي. د دې مادې پر اساس سیمه ییز وګړي د حاکمیت په ساتلو کې ونده لري. په دې توګه دوی د اصلي ځواک خاوندان دي. عدم تمرکز سیستم ارائه کوبی. دغه بېلابېلې کړنلارې د ۱۳۴۳ اساسي قانون څخه دي چې شاه د ملي حاکمیت تمثیل کوونکی بولي، چې د واک د تمرکز د مفهوم په معنا دي او د سیمه ییزو اداراتو صلاحیتونه د مرکز لخوا څخه د مرکزي مقاماتو په ګټه ورکول.
- د ۱۳۶۲ کال اساسي قانون کې د سیمه ییزو شوراګانو دریځ چې د یوولسم څپرکې عنوان دی ډېر واضع په پام کې نیول شوی دی. په دې قانون کې سیمه ییزې شورا ګانې په سیمه ییزې ادارو کې د چارو د کنترول او پرمخ بیولو ذیصلاح ارګانونه دي. سیمه ییزو شوراګانې د ټاکل شویو کمېټو درلودونکې هم دي چې سیمه ییز چارواکې یې په رأس کې قرار لري نو شوراګانې یوازې نظارتي، مشورتي او د ونډې اخیستنې اړخ نه لري بلکې اجراییوي او اداري نهادونه دي چې دولتي ځواک د سیمې په کچه په مستقیمه توګه پلي کوي، لکه څرنګه چې د ۱۲۹ مې مادې دویمه فقره څرګندوي چې "ټولې مؤسسې، سازمانونه، اړوندې سیمه ییزې ادارې د سیمه ییزو ښاروالیو او اجراییوی کمېټو د پرېکړو په پلي کولو کې باید مرسته وکړي".

خو د ۱۳۶۹ ل کال په اساسي قانون کې چې د لنډ عمر له کبله عملي نه شو، د دغه اداري سیستم د دوام څخه ډډه شوې وه او بېرته هغه سیستم ته ور ګرځېدلی چې د ۱۳۴۳ ل کال په اساسي قانون کې اټکل شوی و.

وروسته له هغه چې مجاهدینو حکومت واک ته ورسید، نو هیواد دتنظیمی جګړو، ګډوډۍ او خودسرۍ سره مخ شو. په ۱۳۷۱ کال د نورو ادارو په څیر، د عامه اداري په اړه هیڅ مثبت پرمختګ ونه د شوی. سربېره پر دې، د عامه اداري بنسټیز جوړښت له منځه یوړل شو، او هیواد نور د یوې واحد سیمې خاوند نه وو.د امان الله خان د اصلاحاتو او د ډیموکراسۍ نه مخکې دورو اداری تمرکز د نظام د دوام او سیاسی ثبات به موخه بریالی تجربې ښکاري. د متمرکز اداري سیستم اوږد مهاله واک موده د حکومتدارۍ د ګډون د چانس د تمرین کولو فرصتونه محدود کړي وو ترڅو د ډموکراتیکو سیاسي کلتور د ودې مخه یې ډب کړي او محافظه کارو نظرونو دوامداره واکمنۍ تضمین کړي. بېواکه، محافظه کار سیاسي کلتور چې د حکومتدارۍ د یوې مرکزي سیستم لخوا رامینځته کېږي، هم یو دلیل وو چې ولې د عامه مقاومت سره د ټولنیزو اصلاحاتو دورې لیدل کیده.[۴۳] د غیرمتمرکز کولو په لور حرکت، تاریخي، سیاسي، او ټولنیز لاملو لري. د اداری اصلاحاتو تاثیر چې پورته څرګند شوی دی د اداری سمونو په اوسنی بحث کې لیدل کیږي. په افغانستان کې د اداري اصلاحاتو په اړوند په اوسنیو بحثونو کې، ځینې یې استدلال کوي، چې محلي زورواکان د شخصي ځواک څخه برخمن وي او د مرکز کنترول لرونکې تمرینونه شتون ولري کولای شي مرکزي چارواکو ته جدي ننګونې رامینځ ته کړي. له بلې خوا، نور کسان استدلال کوي چې یو لوی مرکزي سیستم هغه شرایط رامینځته کوي چې د سیستم اصلاح کول ستونزمن کوي. دوی په دې باور دي چې دلته د نظریاتو اختلاف شتون لري. مرکزي سیستم د ځایي ظرفیت ټیټ کچه ډاډمن کوي، او په ولایتونو کې د سیاسي ودې کچه محدودوی، په دې توګه، د متمرکز نظام دساتلو ضرورت رامنځته کوی.

۴۳ عبدالعلی محمدی، افغانستان او مدرن دولت، ص ۱۲۲.

# ۳. د اوسني اساسي قانون پر اساس عامه اداري سازمان

## ۳.۱ د عامه اداري سازمان په اړه د اساسي قانون دریځ

که څه هم په افغانستان کې د عامه حقوقو او په خاصه توګه د اداري حقوقو د تکامل یا پخوالي بهیر نامنظمه، سست او نیمګړی و خو د طالبانو له دورې وروسته د پام وړ حقوقي بدلونونه رامنځته شوي دي. د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون د پېړۍ د بدلونو د پایلو په توګه د حقوقو په برخه کې د ډېرو لوړو او ژورو پېښو وروسته په خاصه توګه د نړیوالې ټولنې د پاملرنې په تاریخ کې تر ټولو غوره ډیموکراتیک اساسي قانون کې ګڼل کېږي. دا قانون که څه هم په حقوقي برخه کې د ۱۳۴۳ ل کال د اساسي قانون د منځپانګې څخه ګڼل کېږي، خو د جمهوري سیستم وړاندوینه او ډیموکراتیکو ارزښتونو ته ارزښت ورکول او په کې د قانون حاکمیت یاد قانون ته ځو اړخیزه بڼه ورکړې ده.[۴۴] که څه هم چې کومې نیمګړتیاوې چې په وروستي یوې نیمې سیزې کې تر سترګو شوې دي هم د پاملرنې وړ دي.

له شک پرته د ۱۳۸۲ ل کال په اساسي قانون کې یو جامع او بشپړ اداري حقوقي سیستم د پرمختللي هېواد په شان په نظر کې نیول شوی دی. حداقل د نظري اړخه ورته پاملرنه شوې ده. د اتم فصل سربېره چې د عامه اداري سازمان لپاره ځانګړی شوی دی نورو فصلونو کې هم د عامه اداري سازمان ته په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه اشاره شوې ده. د بېلګې په توګه د قانون د اساسي اصولو څخه نیولې د میکانیزمونو تر کنټرول پورې او همدارنګه د حقوقي ساحو او انفرادي آزادیو پورې یادونې پکې شوې دي. د یادونې وړ ده چې د اغیزمنو میکانیزمونو شتون د انفرادي حقوقو او عامه آزادیو لپاره په اساسي قانون کې د بحث او مناقشې ځای لري.[۴۵]

د ۱۳۸۲ ل کال د اساسي قانون په اتم څپرکي چې ۷ مادې لري عام اداري سازمان او په هغه پورې اړوند احکام لیکل شوي دي. په دې فصل کې د اداري سیستم ډول، د مرکزي اداراتو اړیکې، اداري واحدونه او سیمه ییز ارګانونه تر بحث لاندې نیول شوي دي. د دې فصل په څېړلو کې چې د دې لیکنې اصلي موضوع ده، واضح کېږي چې په اساسي قانون کې اټکل شوی اداري سیستم، د نیمګړتیاوو په درلودلو سره بیا هم د عامې اداري جوړښت تعریف او تصنیف کړی دی. خو تر اوسه یې په عملي ډګر کې د پلي کېدو چانس نه دی ترلاسه کړی.

سربېره پر اتم فصل اداري حقوق او عامه اداري سازمان د هغو اصولو سره چې په اساسي قانون کې یې یادونه شوې ټینګې اړیکې لري. رامین مشتاقي، چې د افغانستان د حقوقي سیستم په اړه د څو اثرونو لیکونکی دی، په یوې مقالې کې، واحد او متمرکز دولت، اسلامي جمهوریت، د قانون حاکمیت، بشري حقوق او د ډیموکراسۍ قانون د پنځو اصولو په نامه یاد کړي دي او پرته له استثناء ټول اصول د اداري حقوقو د موضوع اړوند دي او په ځینو مواردو کې د عامه اداري په سازمان باندې اغېزې لري. د جمهوري اسلامي اصل په شمول چې د عامه اداري پر سازمان باندې اغېزې د بحث وړ دی. ټول ذکرشوی اصول یې د یو بنې او پر مختللې حقوقي اداري د ډیموکراتیکو او غني بنسټونو لپاره طرح شوي دي چې ببله څېړنه غواړي سربېره پر دې هغه کارونه چې اساسي قانون کې د عامه واک د کنټرول په موخه او د خلکو د حقونو د رعایت لپاره ټاکلي دي، کولای شي جوړښتونه، بهیرونه، بنسټونه، اړیکې او کړنې د عامه اداري سازمان تر اغېزې لاندې راولي. د قواوو د جلا کولو اصل د سیاسي سیستم ډول پر دولت باندې د اقامې دعوی او همدارنګه د عامې اداري سازمان په برخه کې او د دې تر څنګ د اساسي کړنو او د عامه ګډون په برخه کې د بېلابېلو اړخونو له مخې د عامه اداري سازمان سره اړیکه لري. خو هغه څه چې دلته د پام وړ دي هغه د جوړښتونو او د افغانستان د اداري سازمان د اړیکو ډول او په پای کې د پریکړطریقه، تصمیم نیونکې مرکزونه او د اداری پریکرو عملی کول دي.

## ۳.۲ شته اداري سیستم

د اداري سازمان د ډول د تشخیص لپاره چې په اساسي ۱۳۷ مه ماده تر ټولو غوره حقوقي مبنا وړاندې کوي. دا ماده څرګندوي چې د مرکزیت د اصل د ساتنې په موخه په اقتصادي، ټولنیز او کلتوري برخو او د خلکو د ملي ژوند د ودې په برخه کې یې لازم صلاحیتونه د قانون د احکامو مطابق سیمه ییزو ادارو ته تفویضوي. دا ماده له یو خوا د مرکزیت اصل پر ساتلو ټینګار کوي او له بلې خوا سیمه ییزو ادارو ته د صلاحیتونو پر ورکړې سره له یوې خوا متمرکز سیستم ته او له بلې خوا نه تمرکز ته تمایل ښیي. هسې چې په عمومي وده کې یې پر عامه ګډون ټینګار کړی دی، د قانون دد غه راڅرګندونو پر بنا ډېرو کسانو داسې انګیرلې ده چې د اساسي قانون د پام

۴۴ رامین مشتاقي، په اسلامي جمهوریت کې مشروطیت: د افغانستان اساسي قانون او د هغوی شخړې، ص ۲۸۵.

۴۵ رنګین داد فر، اسپنتا، د خلکو پر بنیادین حقوقو نظر: چالشونه او فرصتونه، د افغانستان د څېړنې او ارزیابی واحد، صص ۲۴-۲۵.

ور اداري نه تراکمی متمرکز سیستم دی[۴۲] خو د سیمه ییزو انتخابی شوراګانو او د ښاروالۍ د منتخبو غونډو په اړوند ۱۴۰ او ۱۴۱ مادې چې د عدم تمرکزی نظامونو ښودنه کوي او دا شک را منځ ته کوي چې تر کومه ځایه چې دغه جوړښتي سلسله په ظاهره توګه پاراداکسیکل (متضاد) ده او د افغانستان د اداري سازمان د ډول په اړه ګڼ برداشتونه لري په بل عبارت دغه حالت د افغانستان د اداري سازمان د ډول په اړه او د اداري سازمان په مخکې خنډ ګرځېدلی دی. تر کومه ځایه چې په دې اړوند کارپوهان بېلابېل لیدلوري څرګندوی دي. د ځینو په اند د افغانستان د اساسي قانون اداري سازمان «متمرکز عدم تراکم» دی او ځینې یې د تمرکز او عدم تمرکز ترمنځ بولي او یا هم د «عدم تراکم او عدم تمرکز» ترمنځ بولي او ځینی بیا یوازې «عدم تمرکز» ورته وایي. او حتی ځینې باور لري چې د اساسي قانون د پام وړ اداري سیستم «عدم تمرکز عدم تراکم» دی.

## اداري تمرکز باوري لیدلوری

کوم لیدلوري چې د اداري تمرکز په اړه رامنځته شوی دي دلایل یې هغه دی ته را ګرځي چې پخواني رژیمونه متمرکز او د قانون د تدوین په وخت کی، حاکم شرایط د قانون ماهیت جوړوېي. په دې اساس، اساسي قانون اداري سیستم داسې معرفي کړی دی. دغه اداري سیستم په عامه توګه تر نورو اداري نظامونو اوږد تاریخ لري، د دې تاریخي قدامت دلیل به دا وي چې یاد سیستم د پخوانیو مطلقه نظامونو دوام دی. لکه څرنګه چې په مخکې برخه کې یادونه وشوه، د افغانستان د مرکزي سیستم جوړښت د اداري متمرکز سیستم سره یو ځای رامنځته شوی دی. که څه هم د اماني اصلاحاتو سره د عدم تمرکز ایده حقوقي ادبیاتو ته لاره پیدا کړه، خو په عملي توګه، تمرکز په اکثرو رژیمونو کې لیدل کېږي. حتی په سوسیالیستي سیستم کې چې نه تمرکز یا عدم تمرکز پکې مخکې لیدل کېده، د سیاسي او اداري پریکړو ځواک په مرکز کې متراکم شوی و. په حقیقت کې موږ په وروستنی ۲۰۰ کلن تاریخ کې کې یو اداري متمرکز سیستم چې موخه یې د ځمکني حاکمیت ساتنه وه، د حاکمانو په ګټه و. دا چې افغانستان د مستعمرې کېدلو تجربه نه ده درلودلې نو د افغانستان اداري سیستم د نړۍ له نورو اداري نظامونو سره یوځای نه دی متداول شوی. د افغانستان د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون که څه هم د خلکو د آزادۍ او حقونو د تثبیت لپاره بریالي ګامونو اخیستي دي، خو د دې ارزښتونو د ترسره کېدلو لپاره یې د جوړښتونو له لارې د اداري اصلاحاتو کوم څه ندي کړي. له بلې خوا موږ په اداري برخه کې د ډېرو ژورو مرکزګرا او غیرمردم سالارو (غیر ډیموکراتیک) بنسټونو سره مخامخ وو.[۴۷]

د تاریخي مخینې سربیره، د هیواد شرایطو د اساسي قانون د تدوین عامه وضعیت او تمرکز ته تقاضا زیاته کړه. د طالبانو د پرزېدو وروسته د افغانستان وضعیت د قانون د نشتوالی، د سرتاسري حاکمیت د نشتوالی، د بې نظمۍ او جلاوالۍ له پلوه د امیرعبدالرحمن خان د حکومت د وضعیت سره ورته و.[۴۸] د اساسي قانون د لیکلو په وخت کې افغانستان په عملي توګه په غیر متمرکزه توګه اداره کېده. سیمه ییزو زورځواکو د هېواد بېلابېلې سیمې په لاس کې درلودې. عامه عواید په مرکزي توګه نه مصرف کېدل. په مرکزي دولت کې سیاسي او نظامي قدرت شتون نه درلود. له همدې امله وو چې د قانون د تدوین د کمیسیون عینی غړي د یو مرکزي دولت غوښتونکي وو. په هغه نظر پوښتنو کې چې ترسره شوي خلک هم د یو قوي مرکزي دولت غوښتونکې وو. د دې تمایل لاملونه د سیمه ییزو زورواکو د نفوذ د زیاتوالی څخه ویره وه.[۴۹] نړیوال ملګري هم په هماغه وخت کې د یو سیاسي اداري متمرکز سیستم د را منځ ته کېدو سره موافق وو. هغه وخت د بهرنیانو تصور داسې وو چې ګوندي د ګټو مرجعو په پرتله د یوې واحدې پریکړې نیوونکې سرچینې سره بهتره تعامل کیدای شي.[۵۰]

د اساسی قانون عامه منځپانګه هم د متمرکز اداري سیستم د ډول په اړه یو څه توجیهات لري. د افغانستان د اداري سیستم د حقوقي او سیاسي واک د جوړښت په اړه د اساسي قانون کړنو ته په کتو دا څرګندیږي چې پر متمرکز اداري سیستم باندې ټینګار شوی دی. ځیني بیا په دې باور دي چې دا ټینګار د یو متمرکزه سیاسي واحد دولت د جوړښت سره د مرستې په موخه شوی دی. د اساسي قانون لومړۍ ماده د دې اړین اصل ناظره ده چې یو لوی سیاسي سیستم ټاکي. دا ماده څرګندوي چې «افغانستان، یو اسلامي جمهوري دولت، خپلواک، واحد او د تجزیې وړ نه دی». د دغې مادې مفاد د بل هر ډول غیر متمرکز سیستم لکه: (فدرال، کنفدرال، او سیمه ییزه خود مختاری) د جوړښت امکان له منځه وړي. د اداري عدم تمرکز یا په (د نه تمرکز اداره) په اړه هم د بحث کولو مجال رامنځته کوي. په دې کې شک نشته چې د متمرکز سیاسي سیستم شتون د متمرکز اداري سیستم مستلزم نه دی. لکه څنګه چې زیات شمېر بسیط او سیاسي متمرکز هېوادونه شته دي چې اداري غیر متمرکز سیستم یې غوره کړی دی. خو د یو ټولیزهویت معرفي، په مرکز

۴۲ سید علي حسیني، د افغان اداري حقوق، ص ۸۹. او همدارنګه؛ عبدالعلي محمدي، افغانستان او عصري حکومت، ص ۱۵۴.

۴۷ د مهمو معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، لوړ رتبه چارواکي، د بهرنیو چارو وزارت.

۴۸ عبدالعلي محمدي، افغانستان او مدرن دولت، صص ۱۴۳-۱۴۴.

۴۹ د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، د اساسي جوړښت کمیسیون غړی.

۵۰ د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، د اساسي قانون د بیاکتنې کمیسیون پخوانی غړی.

کې د سیاسی واک متمرکزوالي ، د سیمې بشپړتیا او نه تجزیه کېدو باندي ټینګاره کولای شي دا پیغام ورسوي چې هر عمل د تمرکز د له منځه وړلو په اړه وېروونکی دی.[۵۱] نو د سیاسي متمرکز سیستم جوړښت لامل شو ، چې قوي متمرکز اداري نظام، په اصل کې د سیاسي متمرکز سیستم لپاره اړین ګڼل کېږي[۵۲] په داسې حال چې نوی اساسي قانون د اداري تمرکز د له منځه وړلو په برخه کې کوم بندیز نه لري. د یادونې وړ ده چی ټول هغه کسان چې د شته اداري تمرکز په اړه قانوني توجیهات لري ، د اساسي قانون د اعتراف په اړه چې دولتي ادارو ته د صلاحیت د تفویض په اړه ارجاعات لري خبر دي. دوی د اساسی قانون د یوې نیمې پېړۍ عملي عمر په اړه او هغه څه چې په نوموړي قانون کې منعکس شوي اشاره کړې ده.

**د عدم تراکمی اداري سیستم په اړه لیدلورید** اداري او سیاست د متقابلو اغېزونه سربېره، د افغانستان په حقوقي سیستم کې له یوې خوا د مرکز او سیمه ییزو اړیکو پر دوه ګوني کېدلو او له بلې خوا په واک او اداري پرېکړو کې تمرکز باندې ټینګارشوی دی. دخلکو په چارو کی ګډون لپاره علاقه او د ملي ژوند وده.[۵۳] هغه څه دي چې د «عدم تمرکز» د پېژندل شویو بېلګو څخه شمېرل کېږي.[۵۴] دا ټولو متداوله مفهوم اخیستنه د اساسي قانون د اتم فصل د منځپانګې څخه ده. زیات شمېر مرکه ورکونکوو سیمه ییزو ادارې ته د ورکړل شویو صلاحیتونو پر استناد پر دې تینګار کړی چې د نوموړي اساسی قانون سیستم د «عدم تراکم متمرکز سیستم » دی. خو د دوی څخه ځینو یې بیا د اوسني یا شته سیستم د دوام سره موافقت ښودلی دی. هغوی د متمرکز او عدم متمرکز نظامونو عیبونو او نیمګړتیاوو ته په کتلو د افغانستان اوسنیو شرایطو کې د عدم تراکم متمرکز سیستم غوره بولي. د دوی په آند ، یعنې د اوسني سیستم د دوام د پلویانو په آند ، تر هغه وخته چې اوسني سیستم ته د عملي کېدو فرصت ور نه کړل شي د اغیزي او نه اغیزي په اړه بحث یې مخکې له وخته مخکې قضاوت دی. دوی په دې باور دي چې نظامونو ته فرصت نه ورکول او د هغوی پر ځای د نوي نظامونو رامنځته کول یو ناسم سنت دی چې په اقتصادي لحاظ هم ګټه نه لري او د سیستم جوړونې له تجربو څخه مو هم محروم ساتي.[۵۵]

## په اداري عدم تمرکز باندې ولاړ لیدلوری

څرنګهچې مخکې وویل شو ، د افغانستان اساسي قانون د دې تر څنګ چې د مرکزیت پراصل باندې ټینګار لري، سیمه ییزې ټاکنیزې شورا ګانې یې هم په پام کې نیولې دي چې د عدم تمرکز سیستم له اصولو څخه شمېرل کېږي د یادشویو شوراګانو تکیه د سیمو پر خلکو باندې د دغو بنسټونو اصلي صلاحیتونه ښئل دي. په دې معنا ، چې د دې پرځای چې یادو بنسټونه په مرکز پوري تړلي وي، زیاتره یې په سیمې پورې تړلي دي. او په سیمه پورې د دوی تړاو د اساسي قانون د تایید وړ هم دی. نو د دغو بنسټونو صلاحیتونه باید په مرکز پورې تړلي نه وي یو له هغه برداشتونو څخه چې له دغه ډول نظامونو څخه کېږي «د عدم تمرکزسیستم» دی.[۵۶] دوی د اساسي قانون مخه مبتني او مقید تفسیر د ستونزې د حل لار نه بولي او باور لري چې د قانون لخوا د مرکزیت ساتلو تصریح د متمرکزنظام په معنا نباید تفسیر شي په دې ترڅ کې ځینې بیا په دې نظر دي چې د صلاحیت ورکول هم د یوعدم تمرکز سیستم په چوکاټ کې د پام وړ دی. که چېرې موږ د اساسي قانون عام مفهوم په پام کې ونیسو او د تفسیر اساس د ډیموکراتیک مشروعیت سیستم او د اخلاقي ارزښتونو څېړنه وي ، جوته کېږي چې د اساسي قانون د پام وړ سیستم، غیرمتمرکز او غیرمتراکم سیستم دی. له همدې امله همه ده چې اساسي قانون انتخاباتی سیمه ییزې شوراګانې، ښاروالۍ، ټاکنیزې یا انتخابي ښاري شوراګانې په نظر کې نیولې دي. یادې شوراګانې دابېیي چې د سیمه ییزو ادارو ټول غړي د مرکزي حکومت مامورین نه دي بلکې خپل صلاحیتونه او مشروعیت له خلکو څخه ترلاسه کوي. د تفویض موضوع په اساسي قانون کې د عدم تراکم اصل ته اشاره کوي، خو زما په آند دغه عدم تمرکز په یو سیستم کې غیر متمرکز دی.[۵۷]

لیدل کېږي چې د جوړښتونو او اداري صلاحیتونو اړوند د ځینو قوانینو نه تصویب د اساسی قانون په اروند نیوکو او بېلابېلو آندونو دي. لکه څنګه چې یاد شوي قوانین، په ځانګړې توګه د دولت اساسي جوړښتونه، د سیمه ییزو ارګانونو قانون او د سیمه ییزو او ښاري شوراګانو قانون تصویب شي، نو د دغو نیوکو ډېری به له منځه لاړې شي. د دغو اړینو اداري قوانینو تدوین به اصلاحاتو ته هم لاره هواره کړي.[۵۸]

---

۵۱ عبدالعلي محمدي، افغانستان او مدرن دولت ، ص۱۵۲.

۵۲ د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، د اساسي قانون د بیاکتنې کمیسیون پخوانی غړی.

۵۳ د افغانستان اساسي قانون ۱۳۸۲، رسمی جریده، شمیره ۸۱۸، ۱۳۶ او ۱۳۷ مادی.

۵۴ د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، د ولسمشر سلاکار او د اساسي قانون مسودې کمیسیون پخوانی غړی.

۵۵ د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، د عدلیې وزارت سلاکار او د اساسي قانون مسودې کمیسیون غړی.

۵۶ د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، د اساسي قانون د بیاکتنې کمیسیون پخوانی غړی.

۵۷ د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، د اساسي قانون د بیاکتنې کمیسیون پخوانی غړی.

۵۸ د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکې، لوړ پوړي چارواکي، د ولسمشرد دفتر ریاست.

## ۳.۳ مرکزي او سیمه ییزې ادارې

د اساسی قانون په ۱۳۲ مې مادې کې ویل شوي دي چې «د افغانستان د اسلامي جمهوریت اداره د مرکزي ادارې د واحدونو پر بنسټ او سیمه ییزې ادارې، د قانون پر بنسټ جوړیږي. مرکزي اداره په څینو اداري واحدونو وېشل کېږي چې د هرې یوې په راس کې یو وزیر وي. د سیمه ییزې ادارې واحد، د ولایت د تشکیلاتو شمېر، سیمه، توکي او د ولایت تشکیلات او اړوندې ادارې، د نفوس د شمېر ، ټولنیز، اقتصادي او جغرافیایي موقعیت پر بنسټ د قانون له مخې تنظیم کېږي. د دې مادې پر بنسټ اداري سازمان په افغانستان کې په دوو برخو مرکزي او سیمې باندې ویشل کېږي. د ادارې دا ډول جوړښت په دوو سطحو کې اوږد تاریخ لري. په اوسني سیستم کې واک د مرکز په کچه مستقر دی او له اساسي قانون سره سم صلاحیتونه سیمه ییزې سطحي ته باید ولېږدول شي. خو د ټاکل شویو بنسټیونو شتون دا پوښتنه را پورته کړې ده چې صلاحیتونه باید تر دې حده تفویض شي تر څو لویې موخې او اخلاقي موارد لکه ډیموکراسي، ټولنیز ګډون او ښه حکومتداري پلي شي .

### مرکزي اداره

د اساسي قانون منطق پر بنسټ یو حکومت هغه مرکزي اداره ده چې له ولسمشر او وزیرانو څخه جوړه شوې وي.[۵۹] د مرکزي ادارې واحد وزارت دی، خو له وزارتونو څخه په اساسی قانون څینې خپلواک کمیسونونه وړاندوینه شوي ده. داسې ښکاري چې د استثنا د اصل پر بنسټ وي. په عملي برخه کې مرکزي اداره د هغه تصویر په پرتله چې له بنسټیز قانون څخه اخیستل شوی دی، د زیاتو توپیرونو په لرلو سره جوړه شوې ده، چې بیا په خپل ځای کې تر غور او کتنې لاندې نیول کېږي. له بلې خوا د اساسي قانون په متن کې لویه خلا او په افغانستان کې د عملي اداري ډېر ستونزې لري چې تر بحث لاندې به ونیول شي.

### جمهوري ریاست

د یو بشپړ فصل په اختصاص ورکولو سره، دریم فصل ولسمشر ته ځانګړی شوی دی. اساسي قانون د هېواد د لومړی شخص یا لومړي وګړي د واک په برخه کې ډېره پاملرنه کړې ده او کابو ټول هغه صلاحیتونه چې د ۱۳۴۳ کال په اساسي قانونو کې ځای پر ځای شوي وو د ۱۳۸۲ ه.ل په اساسي قانون کې ولسمشر ته ځانګړي شوي دي.[۶۰] په دریم فصل سربېره، په ګڼو نورو مواردو کې هم د ولسمشر صلاحیتونه لیکل شوي دي.[۶۱] لکه څنګه چې د افغانستان سیاسي – اداري سیستم د یو نوي ریاستي سیستم څخه منځ ته راغلی او ولسمشر چې په عامه رایو او ملي حاکمیت ډېره لګولې ده، هم د حکومت رئیس او هم د دولت په سر کې ولاړ دی.[۶۲] تر دې چې ډېرو ته دافکر پیدا شوی دی چې ولسمشر د دریو قواوو په راس کې دی دریو قواوو تفکیک په نظر کې نه دی نیول شوي په داسې حال کې چې ولسمشر د هېواد لومړی شخص دی او په بهرنیو اړیکو کې له هېواد څخه استازیتوب کوي،[۶۳] د دریو قواوو رئیس نه دی.[۶۴] څرنګه چې څینې صلاحیتونه یې د ولسي جرګې په تایید اړوند دی همدارنګه ولسي جرګه کولای شي د دوو ثلث رایو په وسیله ویتو شوی قانون د ولسمشر د میل په خلاف تصویب کړي. دا بېلګه چې په عمل کې د اجراء وړ ګرځول کېږي څرګندوي چې هغه د لویې جرګې یا پارلمان مشر نه دی. خو د ولسمشر صلاحیتونه په سیاسي – اداري برخه کې محدود نه دي بلکې په تقنیني او قضایي چارو کې هم ادامه پیدا کوي.[۶۵]

که څه هم دا مقاله د ولسمشر د ټولو صلاحیتونو د څېړلو مجال نه لري خو نشو کولای چې د ولسمشر اداري صلاحیتونه له نورو صلاحیتونو په ځانګړي توګه له سیاسي صلاحیتونو څخه په قطعي توګه جلا تر څېړنې لاندې ونیسو. تر هغه ځایه پورې چې اصولاً اداري صلاحیتونه د سیاسي صلاحیتونو په امتداد دي. هماغسې چې اداري امر د سیاسي سیمه ییزو امر په څارلو سره په اعرابو کې موندل کېږي،[۶۶] په دې اساس په اداري برخو کې د ولسمشر د وسیع سیاسي صلاحیتونو شتون د هغه د زیات واک ښودنه کوي. سربېره پر دې د اداري –سیاسي متمرکز جوړښت له یوې خوا د نورو قواوو ضعیف شتون د سیاست جوړونې او حاکمیت لګولو په برخه کې دغه زمینه رامنځته کړې چې ولسمشر د واک په راس کې قرار ونیسي. د مجریې قوې د سیاسي تفوق موضوع او د قدرت تمرکز د ولسمشر په لاس

۵۹ د افغانستان اساسي قانون ۱۳۸۲ ، رسمي جریده، شمیره ۸۱۸، ۶۰ ماده.

۶۰ د افغانستان اساسي قانون ۱۹۶۴ کال ته دې کتنه وشي.

۶۱ د افغانستان اساسي قانون ۱۳۸۲ ، رسمي جریده، شمیره ۸۱۸، ۶۵، ۷۹، ۹۴ او ۱۱۷ مادی.

۶۲ د افغانستان اساسي قانون ۱۳۸۲ ، رسمي جریده، شمیره ۸۱۸، ۶۰ او ۷۱ مادی.

۶۳ محمد قاسم قاسم هاشمزی، د افغانستان د قوا په تفکیک کې د قانون د تفسیر ستونزې، (جمع آوری) ګروټ، ربنر، مخامخ، تلمن، په اسلامي هېوادونو کې د اساسي قانون جوړول: د تغیر او دوام، اکسفروډ: د اکسفورډ پوهنتون خپرندویه ټولنه ،ص ۶۲۸.

۶۴ د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، د اساسي قانون د بیا کتنې کمیسیون پخوانی غړی.

۶۵ د افغانستان اساسي قانون ۱۳۸۲ ، رسمي جریده، شمیره ۸۱۸، ۶۰ ماده.

۶۶ رضا موسی زاده، اداري حقوق، ص۴۰.

کې یو له هغو اند ېښنو څخه چې ډېر د پام وړ ده،[۶۷] تر کومه ځایه چې د ملي وحدت د حکومت په دوره کې دغه اند ېښنه ډېرو ته پیدا شوې ده چې سیستم مطلقیت او شخص محوري خوا ته لاړ نه شي.[۶۸] د ډېر وضاحت لپاره کېدای شي سیاسي ګوندونه او اتحادونه چې ګوندې د اقتدارګرایۍ او د دوی په آند د ولسمشر د انحصارانه کړنو په وړاندې رامنځته شوي اشاره وکړو.[۶۹]

نو معلومه ده چې د قدرت د نوي جوړښت او اړیکو د سمولو لپاره د اساسي قانون تعدیل ته اړتیا شته چې هغه هم د لويې جرګې د رامنځته کېدو سره ممکن دی. البته د ریاستي سیستم تعدیل، اصلاح او بدلون زیاتره د سیاسي حقوقو په حوزه پورې اروند دی نه په اداري حقوقو. [۷۰]

په هر حال په دې وروستیو کې د اساسي قانون د بیا کتنې په دا وروستیو کې زیات پلویان موندلي دي. لکه څنګه چې د ملي یووالي حکومت په هوکړه لیک کې هم دغه موضوع په پام کې نیول شوې خو تر اوسه یې د پلې کېدو زمینه نه ده برابره شوې.

په اداري برخه کې ، د اساسی قانون د پلي کولو دنده او نورو قوانینو سربېره چې **۲۳** ماده پر هغې باندې ناظره ده. د **۲۴** مادې ۱۰ **۱۴** فقرې ښیي چې ولسمشر د اړینو دولتي مقامونو صلاحیت لري. د دغې مادې په **۲۰** مه فقره کی د اداري کمیسونونو او اداراتو د رامنځته کولو په اړه بحث شوي دی. د اساسي جوړښتونو په اړوند **۵۸** مه ماده کې د اداري ساختار د تعدیل په اړه داسې څرګندونه کوي د ضرورت په وخت کې د وزارتونو او حکومتي ادارو قضا په برخه کې تزءید او یا تنقیص د اړوندو ادارو په وړاندیز او د و لسمشر د منظورۍ پر اساس د اساسی قانون سره سم تر سره کېږي. د ولسمشر صلاحیت د تعیناتو په برخه کې زیات دی. نوموړی وزیران د ولسي جرګې په تایید او نور رئیسان او د ټولو ادارو لوړ رتبه پرمختیايي مدیران، د هېواد د کمیسونونو او اړینو بنسټونو مسؤلین ټاکي. که چېرې د ښاروالانو د ټاکلو لپاره د ځینو لاملونو له امله ټاکنې تر سره نه شي نو د هېواد ټول ښاروالان هم د ولسمشر لخوا ټاکل کېږي. همدارنګه د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون پر بنسټ د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د کمیسیون په وړاندیز د لومړیو او دویمو بستونو مامورین هم ولسمشر ټاکي. نوموړی همدارنګه د ټولو اداراتو څخه د څارنې او د ټولو ادارو د لوړپوړو مقاماتو د عزل یا ایسته کولو حق هم لري.

## کابینه

د افغانستان د اساسي قانون څلورم څپرکی حکومت ته ځانګړی شوی دی. د دې فصل په لومړۍ ماده کې داسې راغلي دي چې «حکومت د وزیرانو څخه جوړشوی چې د ولسمشر تر ریاست لاندې دندې سرته رسوي. د وزیرانو شمېر او دندې یې په قانون کې تنظیم شوې دي» د دې مادې دویمه فقره د دولت د اساسي جوړښتونو قانون ته اشاره کوي چې تر اوسه پورې تصویب شوی نه دی. خو لومړۍ فقره د حکومت جوړښت مشخص کوي . د دې مادې پر بنسټ د دولت رئیس، په داسې حال کې چې د دولت رئیس دی د حکومت رئیس هم دی. داسې معلومېږي چې د دې یو لامل دا هم دی چې د افغانستان په ریاستي سیستم کې ولسمشر باید د اجراییه قوې رهبري او ریاست پر غاړه ولري او له بلې خوا په اوسني قانون کې د پخواني قانون یې صلاحیتونه چې پخوا صدراعظم ته ورکړل شوي وو ولسمشر ته ورکول شوي دي. نوموړې موضوع د عامه اداري سازمان لپاره ځینې ستونزې رامنځته کړې دي، چې وروسته به بحث پرې وشي . په پخواني رژیمونو کې صدراعظم د نورو قواوو په وړاندې د یو واحد کلیت په توګه مطرح و او د حقوقي شخصیت، د استقلال او د پریکړې نیولو د واک په برخه کې یې کوم ابهام نه لیدل کېده. خو اوس حقوقي شخصیت له کابینې څخه جلا د دولت د ریاست څخه د تصور وړ نه دی او د دولت د ریاست دریځ نوموړي بنسټ ته د نورو حکومتي قواوو په مقابل کې لوړتیا ورکړې ده او په ځینو نورو مسایلو کې کېدای شي حکمي شخصیت یې د دولت له حکمي شخصیت سره ګډ شي.[۷۱] سربېره پردې د ملي یووالي حکومت د رامنځته کېدلو وروسته د وزیرانو شورا د یو جلا بنسټیز نهاد په توګه منځ ته راغلی ده او د صلاحیت او دریځ له مخې تر کابینې یې دریځ ټیټ دی. دا شورا چې د اجراییه رئیس تر ریاست لاندې غونډې تر سره کوي حقوقي اړخ یې جوت نه دی.[۷۲] ګمان کېږي چې د نوي قانون په تصویب سره د دولت د اساسي جوړښتونو په برخه کې به د عامه اداري سازمان اړوند مسایلو په اړه ابهامات له منځه ولاړ شي.

---

۶۷ محمد قاسم هاشمزی، د افغانستان د قوا په تفکیک کې د قانون د تفسیر ستونزی ،ص **۲۲**.

۶۸ د کلیدي معلوماتو مهم مامور، مرکې لوړ پوړي چارواکي، آسیا فونډیشن.

۶۹ د مثال په توګه، د لوی ملي ژغورنې لاره، چې په ۲۰۱۸ کې جوړه شوې وه، د یادولو وړ ده.

۷۰ د ملي یووالي حکومت هوکړه لیک.

۷۱ د بیلګې په توګه، د مجتبی پتنګ، قضیې، د چارو وزیر، د سترې محکمې په استازیتوب، ځکه چې حکومت کولای شی چې قضیه ستره محکمه ته سپاري، نه وزیر په انفرادي توګه. له بلې خوا دا پرېکړه دا معنا لري چې حکومت پرته له خپل غړو خپلواکه شخصیت لري که چیرې ټول غړي موافق وي او ولسمشر سره موافق نه وي، پریکړه نه شي کیدی. اوس پوښتنه داده، څوک د حکومت څوک دی؟ او د کابینې حقوقی شخصیت بې له ولسمشر څه دی؟ دې ته مراجعه وکړئ: د تلویزیون ۱ آماج پروګرام ته: http://www.youtube.com

۷۲ د ملي یووالي حکومت موافقتنامه.

د دولت د رئیس په ځانګړو صلاحیتونو سر بیره، اساسي قانون زیات شمیر نور اداري او سیاسي صلاحیتونه حکومت ته په پام کې نیولي دي. د حکومت تر ټولو اړین صلاحیتونه د اساسي قانون په ۷۵ مه او ۷۲ مه ماده کې لیکل شوي دي. د اساسي قانون او نورو قوانینو د احکامو پلي کول او د محاکمو فیصلې، د عامه نظم ساتنه، د بودجې ترتیب، د پرمختیایې پروګرامونو طرح او پلي کول او د دغو دندو د خلاصه یا کلکو مقراراتو د وضع کولو او صلاحیتونو څخه دي. سربېره پر دې د تقنیني فرمانونو ترتیب او توشیح د ولسمشر لخوا هم د حکومت له صلاحیتونو څخه دي.[73] یاده موضوع چې د حکومت د صلاحیتونو په برخه کې د پاملرنې وړ ده هغه سلسله مراتب دي چې د وزارتونو، وزیرانو شورا، کابینې او د جمهوري ریاست د بنسټ لخوا نظارت کېږي. په داسې حال چې دغه ټول په ګډه سره حکومت رامنځته کوي، هر یو یې د خپلواک بنسټ په توګه هم مطرح دي. همداراز ولسمشر او وزیران له کابینې بهر هم د حقوقو او مکلفیتونو لرونکي دي.[74] په دې ترڅ کې د ولسمشر د دوو مرستیالانو[75] په اړه د حکومت په څپرکي کې کومه یادونه نه ده شوې. خو له قانون سره سم د دولت اساسي جوړښت او همدارنګه د ولسمشر مرستیالان د کابینې د غړو په توګه شمېرل کېږي .دوی په اجراییه قوه کې د ولسمشر سره د مرستې مسؤلیت لري، سربېرده پر دې د ولسمشر په نشتون کې د کابینې ریاست هم پرغاړه لري. د یادونې وړ ده چې ولسمشر سلاکاران هم لري خو کوم حقوقي سند په لاس کې نشته چې د سلاکارانو شمېر، دندې، تقرر او کړنلاره څرګنده کړي . چې دا په خپله یو حقوقي نیمګړتیا ده او د قانون د حاکمیت په برخه کې خنډ کېدای شي.[76]

د اساسي قانون پر بنسټ د مرکزي ادارې واحد وزارت دی چې د وزیر تر ریاست او رهبرۍ لاندې پر مخ وړل کېږي.[77] د هر وزارت یا مرکزي ادارې واحد صلاحیتونه او دندې له قانون سره سم ځانګړې شوې دي.[78] وزیر د وزارت د آمر په توګه، تر ټولو غوره اداري مقام ګڼل کېږي. سربېره پر دې چې د وزیرانو اداري رول ډېر څرګند دی، له سیاسي دریځ څخه هم برخمن دی. په دې توګه ل د وزیرانو پُست، د ټاکنو بهیر او ځینې نور صلاحیتونه د سیاسیتوب څرګندونه کوي.[79] په اداري برخه کې د وزارت ټولې اړوندې چارې د وزیر تر واک لاندې دي، پرته له هغو چارو څخه چې د کابینې تایید او یا د ولسمشر توشیح ته اړتیا لري. کېدای شي د وزیر صلاحیتونه او دندې په لاندې توګه لکه: مالي، مقرری ، تشکیلاتی ، تقنیني ، تصمیم نیونه او نظارتي بیان کړو.

که څه هم بودجه د مالیې وزارت، کابیني او پارلمان له لارې خپل مراحل طی کوي، خو وزیر هم په دې برخه کې ډېر واک لري. وزیر په مالي صلاحیتونو کې د وزارت د بودجې تنظیم او څارنه، د قراردادونو لاسلیک او ترتیب، او د لګښتونو او ګټو په برخه کې له صلاحیت څخه برخمن دی. د ملکی خدمتونو د کارکونکو او ولایتونو د قانون مطابق په مرکزې او ولایتونو د دریم، څلورم او پنځم بست او په مرکز کې د شپږم بست مقررۍ د وزارتونو او د مستقلو د تعییناتو د کمیټو دولتی ادارو په وړاندیز او د وزیر اویا د مستقلې ادارې له منظورې څخه وروسته تر سره کېږي.»[80] د وزارت جزءې بدلونونه د وزیر په تشکیلات صلاحیت پورې اړوند دي . خو که بدلونونه مهم وي نو د ولسي جرګې تصویب یا د وزیرانو شورا تایید ته هم اړتیا لري. د وزیر د تقنیني صلاحیت څخه موخه د لوایحو جوړول ، کړنلارې، هدایات او همدارنګه د ګډ لارښود جوړول دی. د پرېکړې کولو او پالیسیو ټاکلو په برخه کې هم وزیر د ډېرو صلاحیتونو لرونکی دی. وزیران د خپلو وزارتونو اړوند ټولې پالیسۍ تنظیم او وضعه کوي. وزیر همدارنګه صلاحیت لري چې تر خپل لاس لاندې ټول واحدونو تر څارنې لاندې ولري او څارنه یې وکړي . د یادونې وړ ده چې دغه صلاحیتونه په اړوندو قوانینو کې تسجیل شوي دي.

## نورې مرکزي ادارې

که څه هم د افغانستان اساسي قانون، حکومت له ولسمشر او وزیرانو څخه جوړ بولي او وزارت یو مرکزي اداره معرفي کوي، ځینې نورې داسې ادارې شته چې نه ورته وزارت ویل کیدای شي او نه هم ورته د وزارت فرعي اداره. دغه ادارې چې د کمیسیون، عالي اداره ، ملي اداره ، شورا ، کمېټه او داسې نورو په نامه را منځته شوې دي په مستقیمه توګه د ولسمشری نهاد د تر اغېزې لاندې دي. د دې ادارو څخه ځینې یې د اساسي قانون سره سمې جوړې شوې دي،[81] او ځینې نورې یې د قانون او تقنیني فرمانونو له لاری لکه: د ملکي خدمتونو او د ادارو اصلاحاتو کمیسیون او د سیمه ییزو ارګانونو اداره، د دغو اداراو شمېر چې د کابینې عضویت هم لري

73 د افغانستان اساسي قانون ۱۳۸۲ ، رسمی جریده، شمیره ۸۱۸، ۷۹ ماده.
74 د افغانستان اساسي قانون ۱۳۸۲ ، رسمي جریده، شمیره ۸۱۸، ۳ او ۴ چپټرونه.
75 د افغانستان اساسي قانون ۱۳۸۲ ، رسمي جریده، شمیره ۸۱۸، ۲۰ ماده.
76 سید علي حسیني، د افغانستان اداري حقوق، دوهم چاپ، کابل: امیري، ص ۱۱۴.
77 د افغانستان اساسي قانون ۱۳۸۲ ، رسمي جریده، شمیره ۸۱۸، ۷۷ او ۱۳۶ مادې.
78 سید علي حسیني، د افغانستان اداري حقوق، دوهم چاپ، کابل: امیري، ص ۱۰۲.
79 د افغانستان اساسی قانون ۱۳۸۲ ، رسمی جریده، شمیره ۸۱۸، ۹۱ ماده.
80 د ملکي خدماتو د کارکوونکو قانون، رسمي جریده، شمیره ۹۵۱، ۲۰۰۸، ۱۰ ماده
81 د بیلګې په توګه، د ټاکنو خپلواک کمیسون، د بشري حقونو کمیسیون، افغان ملي امنیتي ځواکونه او نورو.

ډېر زيات دي او هره ورځ زياتيږي. په اداري سازمان کې د دغو بنسټونو د حقوقي توجيه او د قانون د کړنو په اړوند اجماع نشته او زيات شمېر مرکه کونکي د دغسې نهادونو يا بنسټونو جوړېدل غوره نه بولي، خو ځينې بيا د نومړو بنسټونو له ودې او پرمختګ سره موافق دي چې دواړه خپل دليلونه لري چې بيا به بحث پرې وشي.

## سيمه ييزې ادارې

د مرکزي او د سيمې د ځانګو په وېشلو سره، اساسي قانون د سيمه ييزې ادارې په چوکاټ کې دفترونه او ادارې نهادونه رامنځته کړې دي. ولايت، ولسوالۍ، کلی، ولايتي شورا، د ولسوالۍ شورا، د کلي شورا او ښاروالۍ هغه ځانګې دي چې د اساسي قانون په اتم څپرکي کې په پام کې نيول شوې دي.[82] سربېره پر دې، په هر ولايت کې د وزارتونو او نورو مرکزي اداراو، رياستونه او ځانګې جوړې شوې دي، چې د هغوی د حقوقي ځای او دريځ په اړه د بحث کولو فرصت شته دی. په هرحال، داسې ښکاري چې کولای شو دغه بنسټونه د حقوقي دريځ له مخې په څلورو برخو ووېشو:

۱. ولايت او ولسوالۍ

۲. د مرکزي ادارو او رياستونو يا نمايندګۍ په سيمه او يا د مرکز دويم درجه واحدونه

۳. سيمه ييزې شوراګانې

۴. ښاروالۍ او د ښاروالیو شوراګانې

د دې څلور برخو له جملې څخه اول او دويم يې د مرکزي ادارې په جوړښت کې قرار لري. دوی په حقيقت کې د ملي چارو او د مرکزي حکومت استازي او همدارنګه د سياست او ملي لويو پاليسيو ترسره کونکي دي. دوی اصولاً بايد خپلواک او حقوقي شخصيتونه نه وي، ځکه چې دوی جز او په اصل کې د مرکزي ادارو يوه برخه دي چې د لوړو مقامونو د اوامرو د پلي کولو لپاره رامنځته شوي دي. کېدای شی د تمرکز له منځه وړولو تمايل چې د داسې سيستم د جوړولو لامل شي چې تر يو حده د دغو ټولنو لپاره د عمل خپلواکي په نظر کې ونيول شي. په دې حالت کې اداري سيستم د تمرکز څخه د تمرکز نشتون خوا ته نږدې کېږي.[83] له بلې خوا دغه بنسټونه د مرکزيت د اصل او تراکم يا عدم اداري تراکم پر بنسټ اداره کېږي او داسی موضوع ده چې په افغانستان کې له نظري پلوه او هم له عملي اړخه د مناقشی ځای لري.

په دې دوه ډوله نورې بنسټونه، يعنی دريیم او څلورم د اساسي قانون پر اساس، هغه ادارې دي چې په ملی حيات کې د ملي پراختيا او د عامه ګډون فعالولو لپاره تاسيس شوی. دا ټولنې د سيمه ييزې ادارې په چوکاټ کې چې د ولس لخوا د سياسي حاکميت خاوندان هم بلل کېږي، په سری، آزاده او مستقيمه توګه ټاکل شوې دي.[84] دا ټولنې زياتره په غير متمرکز سيستم کې معمولې دي او غوره بلل کېږي. په افغانستان کی په دې دليل چې په ادارو کې د حقوقي نظم، ساختاري نظم او رفتاري نظم ترمنځ واټن شتون لري. د دی دوه ډلو تر منځ توپير په مرکزي ادارو کې تر پورې اندازې ګډ وډ او واضح نه دي.[85] په هر حال، په دې ليکنه کې د حقوقي سيستم په نظرکې نيولو سره د دې بنسټ په سازماني سلسله مراتب و. ناسموالي، خلاوو او نيمګرتيا کېږيد ليکوالانو له نظر په دی اساس، د اساسي قانون په رڼا کې دا ټولنی ته دوو عنوانونو لاندې: د مرکزی قوې سيمه ييزی ادارې او سيمه ييزه منتخبه اداری تر بحث لاندی نيسو.

## د مرکزي ادارې سيمه ييز واحدونه

د مرکزي واحد سيمه ييزې ادارې د ولايت اداره او د هغه د جغرافيوي وېش څخه عبارت دي، يعنې د ولسواليو او کليو اداره. همدا راز په ولايتی جغرافيايي سيمه کې د وزارتونو او نورو مرکزي دفترونو ځانګې دي. دا رياستونه له اداري جوړښت سره سم، په مرکز کې د خپل وزارتونو او نورو مرکزي دفترونو سره تړاو لري او د دې مرکزي ادارو تر مستقيم واک لاندی دي. د دې دليل لپاره، کېدای شي دا ادارې د مرکزي واحد سيمه ييز دفترونه وپېژندل شي. يو شمېر کسان دا استدلال کوي چې مرکزي ځانګه وزارت ده او سيمه ييزه ځانګه ولايت ده، په سيمه کې د مرکزي دفتر شتون له اساسي قانون څخه سرغړونه ده. شايد د «افغانستان لپاره د ښې حکومتولۍ په ملي پاليسۍ» کې د هغه دليلونو څخه وي چې دا دفترونه د سيمه ايزې ادارې په واک کې وي. د دې پاليسۍ پر اساس، وزارتونه پاليسۍ جوړونکي ته لېږدول شوي او اجرائيه واک سيمه ييزو ادارو ته سپارل شوی دی.[86]

---

۸۲ د افغانستان اساسي قانون ۱۳۸۲، رسمي جريده، شميره ۸۱۸، ۱۳۲ او ۱۴۲ مادی.

۸۳ ولي الله انصاري، د اداري حقوق کليات، ص ۱۲۴.

۸۴ د افغانستان اساسي قانون ۱۳۸۲، رسمي جريده، شميره ۸۱۸، ۱۳۸، ۱۴۰ او ۱۴۱ مادی.

۸۵ د کليدي معلوماتو مهم سلاکار، د ولسمشر پخوانی سلاکار.

۸۶ د ملي ګټو حکومتداري پاليسي پلان، ۲۰۱۸، ص۷.

د اساسي قانون پر اساس ، ولایت د سیمه ییزې ادارې په رأس کې دی،[۸۷] چې یوه جغرافیایي معنا لري او یو ټاکلې ساحه په کې شامليږي. د ولایت مشر والي دی چې د سیمه ییزې ادارې په کچه تر ټولو اهم اداري مقام دی. دا اهم نقش هم تاریخی دلایل لري، له همدې امله له تیر وخت څخه په سیمه کې والي د ولایت په کچه د عمومی رئیس حیثیت لري. د بېلابېلو او ډول ډول سیاسي ادارو په شتون سره د زیات واک او اړین ځای څخه برخمن دی سر بېره پر دې د والي مقام سیاسي مقام دی، د ولایت په کچه د مرکزي حکومت استازی بلل کېږي. هغه د همغږۍ د چارو واک لري او ټولې اداراې چې د ولایت په کچه شتون لري او د ولایت د اداري غونډې چې د ټولو چاروا کو په ګډون سره جوړيږي، رهبري کوي. د پام وړ ده چې د سیمه ییزې خپلواکې ادارې ،[۸۸] په رامنځته کېدو سره د ولایت موقف د مرکزي سیمه ییزو ادارو متمایز شوی دی. په تېر وختونو کې ولایت او ولسوالۍ په کورنیو چارو وزارت پورې اړوند وه؛ خو اوس د سیمه ییزې اداری تر واک لاندې دي.

سیمه ییزارګانونو خپلواکه اداره د ولسمشر د فرمان پر اساس پرانیستول شوې او مستقیماً ولسمشرۍ ته ځواب ویونکې ده. یاده اداره دنده لري تر څو سیمه ییزه حکومتولۍ رهبري کړي، د اړوند اداراو لخواه په **۳۴** ولایاتو او **۳۶۴** ولسوالیو کې رسمي او **۱۱** غیر رسمي او **۱۵۷** ښاروالیو کې منسجمې او همغږې کړي.[۸۹] سربېره پر دې چې ولایت، شوراګانې او ښاروالۍ هم د سیمه ییزې خپلواکې ادارې تر مدیریت لاندې دي دا سې آند شتون لري چې د ولایت منتخبو سیمه ییزو نهادونو او ټولنو تر منځ د شخصیت او د عمل د خپلواکې له نظره استقلالیت شتون نه لري خو دا چې سیمه ییزې شوراګانی، ښاروالۍ او د ښاروالیو غونډې د ټاکنو په لارې ټاکل کېږي یادې ټولنې یې متمایزې کړې دي.

د والي واک د پخوانی سیمه ییز قانون پر اساس، چې تر اوسه هم نافذ دی، ډېر پراخه دی او په ډېرو مواردو کې نه د اساسي قانون له روحیې سره سمون لري او نه د اوسنیو شرایطو په نظر کې نیولو سره د اداري سازمان سره د دغه قانون د **۱۴** مې مادې پر اساس په دې قانون کې د والۍ صلاحیتونه په **۲۰** فقرو کې ذکر شوي دي چې بېلابېلې برخې په کې شامیلیږي. خو په عمل کې اوس دا صلاحیتونه او دندې ډېرو نورو ادارو ته سپارل شوې دي. د اساسي قانون مخالف عمل د مخنیوی په خاطر، د والي او ولسوال د دندو لایحی د ملکي خدماتو د کارکوونکو د قانون او هغه څه چې د سیمه ییزې ادارې په قانون کې چې د اساسي قانون سره مطابقت لري تنظیم شوې دي.[۹۰] په لنډه توګه د والي اوسني صلاحیتونه د طرزالعملونو او د لایحیو پر اساس، د څارنې او همغږۍ په ګډون د ولایت په کچه د اوسني شته ادارو کړنې نظارت ولایت د بودجې او ولایتي کارکوونکو په چارو کی لوړ صلاحیت لري. د ولایت دفتر د والي له لاسلیک څخه وروسته د لګښتونو اسناد مرکز ته استوي.[۹۱] خو په عمل کې د ولایت دفتر او نورو ادارو تر منځ اړیکی له ستونزو څخه تشې نه دي. اوسمهال د قانون په نشتوالي ، د حکومتولۍ او سیمه ییزی ادارې په برخو کې، د والي او پولیسو ، شوراګانو ، سیمه ییزی شوراګانو او ښاروالۍ ترمنځ اړیکې ننګونو ډکې او خورا د پام وړ دي.

د یادونې وړ ده چې د اساسي قانون پر اساس د ولایت په کچه ییزی دندې او صلاحیتونه والي ته ورکړل شوې دي، او د ولسوالۍ په کچه ولسوال ته پرته د والي د خاصو صلاحیتونو څخه[۹۲] په دی معنا چې د ولسوال لپاره د ولسوالۍ په کچه خاص ځای په نظر کې نیول شوی او د والي لپاره د ولایت په کچه د استخدام د واک په برخه کې هم دغه یو شانسه والی د دی دو عامه مقامونو ته لیدل کېږی. د ملکی خدمتونو دلسمې مادې د دریمې فقرې پر بنسټ د شپږم بست مامورین په ولایت کی د وړاندیزاو تعیناتو کمېټې لخوا وړاندیز او منظورۍ او مقرري یې د ولایت په مربوطه والي پورې اړه لري. دا ماده دا سې وايي چې، «د اووم او اتم بست قرارداد ي کارکوونکو مقررۍ او تعیینات په مرکز کې د وزارتونو او خپلواک ریاستونو د ټاکنې کمېټې پرېکړه او وړاندیز له وزیر یا د خپلواکې ادارې د عمومي رئیس لخوا منظوریږي او په ولایتونو او ولسوالیو کې د ولایتي او یا د ولسوالۍ د تعیناتو کمېټې د پرېکړې او وړاندیز وروسته کېږي او د والي یا ولسوال لخوا منظوریږي» ،[۹۳] اما په عملي توګه، د مرکزګرا عملي ساختار له امله ، ولایتونو ته د ولسوالیو په تناسب، توجه ډېره ده دې موضوع په پراختیایي ډګر کې منفي پایلې درلودلې او په راتلونکې کې به یې هم ولري[۹۴]

## سیمه ییزې ادارې

د افغانستان اساسي قانون د سیمه ییزه اداری یا د ولایت نورې انتخابی سیمه ییزي اداري پرانیستې دي سیمه ییزې شوراګانې، ښاروالی او د ښاروالۍ غونډې لیدل کېږي. د اساسی قانون پر اساس د ټولو سیمه ییزو شوراګانو غړي او د ښاروالۍ غونډې او په خپله ښاروالۍ په عمومي سروې او مستقیم ډول د یوی آزادی ټاکنې له طریقه د اړونده سیمې د خلکو لخوا ټاکل کېږي[۹۵] هغه بهیر چې دې

۸۷ د افغانستان اساسي قانون ۱۳۸۲ ، رسمي جریده، شمیره ۸۱۸، ۱۳۶ ماده.

۸۸ د ولسمشر قانوني فرمان ۱۰۴۷، د سپتامبر ۸، ۲۰۰۷.

۸۹ د سیمه ییزو تنظیم کولو اداره وب پانه، وروستي لیدنه د ۲۰۱۸ سپتمبر ۲۰۱۸، http://idlg.gov.af/fa/history-idlg/ ۱۱:۰۷

۹۰ د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي، لوړ مقام، د هرات ولایت دفتر سره مرکه.

۹۱ ایشیا فونډیشن، په افغانستان کې د سیمه ییزو دفترونو ارزونه، ۲۰۰۷، ص ۱۷.

۹۲ د محلي اداري قانون، رسمي جریده، نمبر ۷۹۳، ۱۴۲۱، پنځمه ماده.

۹۳ د ملکی خدماتو د کارکوونکی قانون، رسمی جریده، شمیره ۹۵۱، ۲۰۰۸، ۱۰ ماده.

۹۴ د مهمو معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، لوړ رتبه چارواکي، د بهرنیو چارو وزارت.

۹۵ د افغانستان اساسي قانون ۱۳۸۲ ، اتم فصل.

ټولنو ته سیمه ییز ماهیت ورکوي. په اساسي قانون کې ذکر شوی دی چې په ټولنه کې د ټاکلو موخو په خاطر د چارو په عمومی اداره کې د خلکو ګډون او د ملي ژوند پرمختګ دی.[96] د یادونې وړ ده چې تر اوسه له ولایتی شوراګانو څخه پرته، نه د ولسوالیو شورګانې او نه هم کلي جور شوې نه د ښاروالۍ مجلسونو پرانیستل شوي او نه هم ښاروالان ټاکل شوي دي. اوس هم ښاروالان د سیمه ییزې خپلواکې اداري په وړاندیزاو د ولسمشر په منظورۍ ټاکل کېږي. البته هغه نوې نیمه انتخابی بنسټونه لکه اوسنۍ د ولسوالۍ او کلي په کچه د پراختیایي شوراګانې باید له نظره و نه غورځول شي. مګر دا شوراګانې چې مشروعیت یې د پوښتنې وړ دی، په اساسي قانون کی د شوراګانو ځای ناستې نشي کېدی. د دوی حقوقي ځای، دندې او صلاحیتونه او د عامه اداري سازمان په چوکاټ کې د دوی موقعیت ، قوانینو ته اړتیا لري هغه قوانین چې باید له اساسي قانون څخه وروسته وضع شوي وای. په دې اړه له ولایتي شوراګانو څخه پرته کومه ټولنه د نوي قانون درلودونکې ده ؛ ښاروالان د تېر اساسي قانون پر اساس چې د طالبانو په وخت کې اصلاح شوی و خپل فعالیت کوي.

د ولایتی شوراګانو د صلاحیت په اړه، د اساسي قانون **۱۳۹** مه ماده څرګندوي چې «ولایتـي جرګـه د دولـت د پرمختیـایي موخو په تأمین او د ولایت د چارو په ښه کولـو کـې لکـه څرنګـه چـې پـه قوانینو کې څرګنده شوې، برخه اخلي او پـه ولایـت پـورې د مربوطـو چـارو پـه باب مشوره ورکوي». یو له اړینو بحثونو څخه د ولایتي شوراګانو په اړه د ولایتي شوراګانو صلاحیتونه دي. د لیکل شوي متن څخه داسی په ډاګه کېږي چې د شوراګانو صلاحیت په «برخه نیولو او سلا ورکولو» کې محدود کېږي. اساسي پوښتنه دا ده چې آیا دا محدوده ورتیا د دې اداري له فلسفې سره سمون لري که نه؟ له دې پلوه چې د دې ټولنې او د نورو سیمه ییزو ټاکل شویو ټولنو د شتون اصلي دلیل، د ډیموکراسي پراختیا او د عمومي اداري چارو په پریکړه نیولو کې د خلکو ګډون دی. شاید د دغه راز اندېښنو د لری کولو لپاره و چې په **۱۳۸۲** کال کې د ولایتي شوراګانو د قانون په تعدیل د ولایتي شوراګانو په صلاحیتونو کې د «څارنې» ټکی اضافه کړ ؛[97] هغه صلاحیت چې څو ځله ورکړل شوی او بیا بېرته ترې اخیستل شوی دی. په داسې حال چې اوس د ولایتي شوراګانو لپاره د څارنې صلاحیت شتون لري، خو روښانه نه ده چې دا صلاحیت په څه معنا دی، د هغې کچه تر کوم ځای پورې ده او څنګه باید پلي شي.

که څه هم د ولایتي شوراګانو د قانون **۴** مه ماده په یو اوږده لست کې د شوراګانو صلاحیتونه او دندې ځانګړې کرې دی[98] خو د دې لست مطالعه ښیي چې دا شوراګانې اجرائیوی صلاحیتونو څخه بې برخې دي. دوی نه پالیسي جوړوی، نه اجراییه واک لري او نه هم د څارنې لپاره لازم میکانیزم لري . نو دا بنسټ ډېر سیاسي ښکاری تر دې چې اداری وې. له موکلینو سره د دې شورا غړو تړلتیا ، د ټاکنیزو مبارزاتو له لارې مشرانو جرګې ته د یوه غړ لاره موندل هغه څه دي چې د دې ټولنې سیاسي حقیقت منعکس کوی. خو له دې ټولو سره، شوراګانې هم د قانون په لحاظ او هم د عامه سازمان په سیستم کی یو اداري ټولنه شمېرل کېږي.

د اساسي قانون پر اساس د سیمه ییزو اړینو ادارو څخه یوه هم ښاروالي ده. دا اداره ډېره اړینه اداره ده چې د ښاري چارو دنده په غاړه لري او یوه ولسي منتخبه ټولنه ده.[99] د اساسي قانون پر اساس ښاروالان او د ښاروالیو د شوراګانو غړي باید د سیمې د خلکو لخوا د ښاروالي په ساحه کې و ټاکل شی. دغه سیمه ییزه اداره د خپلواک شخصیت او عمومي حقوقو څخه برخمنه ده او د عوایدو او بودجې په اړوند خپلواکي هم لري.[100] د ښاروالیو د کړنو، واک او دندو په اړه زیات حقوقي اسناد شتون لري چې ډېر یې خاصتاً د ښاروالي د قانون[101] اړوند موضوعات د اساسي قانون د تصویب مخکې دي.[102] دا قوانین له یوې خوا د اساسي قانون د روحیی سره مطابقت نه لري او له بلې خوا د اوسني شرایطو د اړتیاو ځواب ویونکی نه دی. د ښاروالیو قانون ته په کتو سره واضح کېږی چې دا قانون د طالبانو د واکمنۍ پر مهال تصعح شوی دی، د اساسي قانون د روحیی ، د بازار اقتصاد او د ډیموکراسی د ارزښتونو سره همغږی نه دي. دا قانون په **۱۲** مادو کې د ښاروالیو دندې او صلاحیتونه په **۴۴** مادو کی لست کړي دي چې په څلور کتګوریو ، خدمتي، تنظیمي، همغږي او اداري وېشل شوي دي. دا صلاحیتونه چې د لرښاری د عامه خدمتونو او اړتیا وو د تامین او پوره کولو او دښاز د نظم د ساتلو په خاطر مهم دی[103] لازم ده چې د طرزالعمل (کړنلارى)، لارښود، مقراراتو او لوایحو له لاری ډېر وضاحت ورکړل شي. د دي ټاکل شوی ټولنی لوی صلاحیت درلودل د نه تمرکز پوره بېلګه بلل کېږي.[104]

۹۶ د افغانستان اساسي قانون ۱۳۸۲ ، اتم فصل.

۹۷ د ولایتي شوراګانو قانون، رسمي جریده، د مسلسل شمیره ۹۲۰، نیټه ۳۰ د وري ۱۳۸۲، ۲ او ۴ مادی.

۹۸ د ولایتي شوراګانو قانون، رسمي جریده، د مسلسل شمیره ۹۲۰، ۹ ماده.

۹۹ د افغانستان اساسي قانون ۱۳۸۲ ، ۱۴۱ ماده.

۱۰۰ د ښاروالیانو قانون، رسمي جریده، د مسلسل شمیره ۷۹۴، کال ۱۴۲۱، ۲ او ۱۲ مادی.

۱۰۱ د ښاروالیانو قانون، رسمي جریده، د مسلسل شمیره ۷۹۴، کال ۱۴۲۱.

۱۰۲ مراجعه وکړئ: د ښاروالیو قانون، د ښار خدماتو کړندود ، د خساره منع کولو قانون، د ښار پاکولو او ښاري چاپېریال تنظیم، د زعفرانو تولیداتو مقررات، د کرایې او ښاروالۍ د ملکیت تاسیس کول مقرره ...

۱۰۳ سرور دانش، د افغانستان اداري حقوق، کابل: ابن سینا ، ۱۳۹۲، ص ۱۸۳.

۱۰۴ د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکې، لوړ پوړي چارواکي، د جمهوري ریاست دفتر.

د ښاروالیو مجلسونه تر اوسه نه دي جوړ شوي. البته په دې وختونو کې د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره د مشورتي مجلسونو یو طرزالعمل پربنا د ښاروالیو لپاره مجلسونه جوړ کړی دي. دا مجلسونه تازه پرانیستل شوی، او له هغو غړو څخه جوړ دی چې په رضا کارانه توګه د ښاروالیو پر کړنو د عملی څارنې په خاطر د ښاروالیو د تقسیم اوقات پر اساس جلسه جوړوي. د دی مجلس غړي د سیمې د وکیلانو، مستفیدنو او ټولنیزو ټولنو څخه به عرفی ډول ټاکل کېږي.[۱۰۵] دا ټولنه چې ځینی وخت د ښاروالی مشورتي شورا هم ورته ویل کېږي، په حقیقت کې د ښاروالیو د شوراګانو د جوړولو لپاره لمړي ګامونه ګڼل کېږي.

## ۳.۴ د اساسي قانون سره د اداري سازمان مطابقت

د اداري سازمان په اړوند یوه اساسي مطرح پوښتنه دا ده چې د اساسي قانون د پلي اندازه د هغه له منطوق سره ده . هغه څه چې د اداري سازمان صحنه متفق نظر د اساسي قانون بلل کېږي او په مخکیني بحثونو کې په لنډه توګه تر بحث لاندې ونیول شو، خو د اساسي قانون پر اساس د هېواد د اداري سازمان د جوړښت مطابقت، د زیات واټن ښودونکی دی. د اداري جوړښتونو او د اساسي قانون د نظر ور ځینی بنسټونه تر اوسه نه دی جوړ شوی؛ هغه قوانین چې د ادارو لپاره اړین دي چې جوړ شي تر اوسه هم نه دی تصویب شوي ،یو تعداد شته سازمانونه قانوني ځای نه لري او د ډېرو نورو دقانوني موقف په اړه هېڅ موافقه نشته ده. سربېره پر دی، د هغه ادارو په اړه چې د اساسي قانون پر اساس هم جوړې شوي، ستونزې شتون لري.

هسی چې په ټولیزه توګه په تېرو بحثونو کې وویل شول، د اساسي قانون له نظر ور یو شمېر ټولنې په ښلابېلو علتونو نه دي جوړې شوي. له هغه جملې څخه سیمه ییزې شوراګانې دي، له ولایتي شورا ګانو څخه پرته، نورې شوراګانې تر اوسه شتون نه لري. که څه هم په مخکنیو ټاکنو کې په اول کې طرحه وه چې د ولسوالیو شوراګانې پرانیستل شي، خو ډېری اندېښنې خصوصاً د امنیتي ستونزو له امله د دې شوراګانو جوړول شاته واچول. په دغه ډول سره د اساسي قانون پر اساس ښاروالي باید په ډیموکراتیکه توګه د خلکو لخوا وټاکل شي چې دا کار هم تر اوسه نه دی ترسره شوی. د ښاروالۍ مجلسونو په باب په هغه ډول چې د اساسی قانون پر اساس وی تراوسه کومه خبره نشته. له شک پرته د دې بنسټونو جوړېدل د اساسي قانون غوښتنه ده ، له یو خوا به په عامه اداري سازمان کې ستونزی راوړی ز او له بلې خوا د اساسي قانون د موخو یوه اهمه برخه به په عملي توګه ناشونې وي. که څه هم یو محدود تفسیر، پر اساس د دې ټولنو د پرانیستلو موخه په انکشافی پروګرامونو کې ونډه اخیستل بلل کېږي،[۱۰۶] خو د دې ټولنو اهمیت هغه وخت ډېر جوته کېږی چې اخلاقي موخې او د اساسي قانون اصولو ته پاملرنه وشي.[۱۰۷] د عمومی اداري چارو او ښه حکومتولی، دواړو کی دعامه ګډون د اساسي قانون د ملاتړ ور دي او د دې ټولنو په ایجاد سره تحقیق مومی .[۱۰۸]

د یادونې ور ده چې د اداري د اساسي قوانینو لکه د دولت اساسي تشکیلاتو قانون، د سیمه ییزې اداري قانون، د سیمه ییزو شوراګانو قانون او د ښاروالیو قانون، تصویب د دې موخې ته د رسېدلو لپاره اړین نقش لوبوي. دا قوانین کولای شي چې د اساسي قانون متن تفسیر کوونکي دی، ارګانیک قوانین یادیږي. په دی معنی چی دا د اساسي قانون متن واضح کول دي چې د اساسي قانون مفاد پیاده کول دې قوانینو د نه شتون سره ناشونی دی. دا قوانین لازم وو چې په لومړنیو کلونو کې د اساسی قانون له تصویب څخه وروسته، تصویب شوي وای، خو دا کار هم تر اوسه نه دی شوی.[۱۰۹] د قوانینو د هر یو د نه تصویب په خاطر یو عذر ارایه کیږی ؛ د بېلګې په توګه د ملي یووالي د اجراییه ریاست نا واضح دلیل یې شا ته اچول د اساسي قانون د تصویب جوړښت ویل کېږي.[۱۱۰] اما پوښتنه دا ده چې ولې لس کاله مخته د اجراییه ریاست دا قانون تصویب نه شو؟

نو هغه څه چې باید منځته راغلي وي جوړل نه شول اما ، د اساسي قانون په شتون کې اداري او موسسې جوړې شوې چې ځینو د غیر قانوني توب په اړه د نظر اتفاق شتون لري ، یا هم د دوی پر مشروعیت باندې هېڅ عمومي توافق شتون نلري. د بېلګې په توګه، زیات شمېر خپلواک ریاستونه (خپلواک له وزارتونو )، متعدد شوراګانې او په دې وروستیو کې، د ملي یووالي حکومت اجراییوي ریاست ذکر کېدی شي، چې د ټولو جوړېدل د جمهور رئیس د فرمانونو پر بنسټ دي. د اساسي قانون له ۹۰ مې مادې سره سم، ملي شورا واک لري چې اداري واحدونه تاسیس کړي. د اساسي قانون په ۱۴۲ ماده کې، «دولت» ته واک ورکړ شوی چې د «حکمونو پلي کولو» او «د اساسي قانون د ارزښتونو»د خوندي کولو لپاره اړینې اداري تاسیس کړي. روښانه ده چې په دې ماده کې د دولت په

۱۰۵ د ښاروالیو د مشورتي شوراګانو طرزالعمل جوړ ول، د سیمه ییزو اګانونو اداره.

۱۰۶ د افغانستان اساسي قانون ۱۳۸۲ ، اتم فصل.

۱۰۷ د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، د اساسي قانون د بیاکتنې کمیسیون پخواني غړی.

۱۰۸ د افغانستان اساسي قانون ۱۳۸۲ ، مقدمه، ۶ او ۱۳۷ مادی.

۱۰۹ د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکې، لوړ پوړي چارواکي، د جمهوري ریاست دفتر.

۱۱۰ د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکې، لوړ پوړي چارواکي، د جمهوري ریاست دفتر.

لفظ کې ملي شورا هم شامل ده. په دې برخه کې د ولسمشر د صلاحیت په اړه د ۲۴ مې مادې ۲۰ فقره یوازې منبع چې ورباندې استناد کېږي، خو په دې موضوع باندې له یوې خوا د ولسمشر واک د قانون احکامو ته محدود ګڼل کېږي او له بلې خوا د دغه ماده د پورتنیو مادو پر وړاندې د قاعدې پر بنا استثنا ښکاري.[111] په دې دلیل سره ، د ۲۵ خپلواکو کمیسیونونو جوړول د ولسمشر له خوا قانوني نه ګڼل کېږي. [112]

د بحث او منازعې وړ ادارو څخه یوه د ملي یووالي حکومت اجرائیوي ریاست دی. دا اداره د ولسمشر فرمان لخوا د یوې پریکړې پر اساس د ټاکنو د بحران د له منځه وړلو په خاطر رامنځته شوې ده. د هوکړه لیک له مخې، دا اداره باید له دوو کلونو وروسته د اساسي قانون په تعدیل او پارلماني سیستم یه رامنځته کېدو سره د صدرارت ځای ونیسي، خو په عمل کې دا تړون پلی نه شو. که څه هم یو شمېر قانوني او مشروع بنسټونه د دې مؤسسې د جوړولو لپاره شتون لري، له دوه کلونو وروسته د دوام په مشروعیت اړه هېڅ پریکړه شتون نلري. ځینې محدود خلک په دې باور دي چې دا نهاد قانوني مشروعیت لري، دوی دوه دلیلونو لري. یو د اساسي قانون له ۲۴ مې ماده سره سم د ولسمشر واک دی، ځه چې هغه د نوموړې مادې پر اساس نورې خپلواکې ادارې رامنځته کړې.[113] دویم، د بحران د له منځه وړلو لپاره د قومونو او ملي ګټو تامینول د بحران څخه د وتلو ملی مصلحت دی د معلوماتو اړین وړاندیز کونکي وایي چې «که څه هم دا اداره قانونی بنسټ نلري، خو دا چې سیاسي ګډون چمتو کوي او د سیستم د اخلاقی موخو سره مرسته کوي نو مشروعیت لري. زما په نظر، زه باور لرم چې د بحرانونو حل او د جګړې څخه ډډه کول د بنسټیزو حقوقو او لومړیتوبونو څخه دی. د ملي یووالي حکومت تړون دا موخې خوندي کړې دي، له دې امله زما په نظر دا اداره هم قانونی ده او هم لازمی.»[114]

په داسی حال کې چې اجراییه ریاست د یو ملي بحران د مخنیوي لپاره جوړ شوی دی، د ارګ دننه او بهر د نورو خپلواکو ادارو او اهمو شورا ګانو په رامنځته کېدو د ارګ په اړه نسبتا متفاوت دلایل مطرح کېږي. ویل کېږي چې شاوخوا ۲۵ کمیسیونونه او خپلواکې ادارې او تقریباً ۱۰ شوراګانې، لکه د ملی امنیت شورا، د قانون د حاکمیت شورا او اقتصادي شورا د حکومت لخوا جوړې شوې دي چې لمړی ګروپ د مرکزي ادارو د چوکات یعنی وزارت څخه بهر او وروستي په وزارتونو باندی لوړوالی لري. د دې څخه مخکې چې ادارو د جوړولو لپاره انګیزې ولټول شی ، د یوې تګلارې مطابق، دا ادارې دواړه قانوني او اړینې دي.

دی ادارو ته د قانوني توجیه پیدا کولو په خاطر قانون د ۲۴ مې مادې د ۲۰ فقرې په د ولسمشر پر واک باندې استناد کېږي. د دې آند پر اساس د ادارو پرانیستل د اساسي قانون د منطوق سر منافات نه لري. بناء ولسمشر د نوي ادارو د رامنځته کیدو لپاره د فرمانونو صادرولو صلاحیت لري. د اساسي قانون د ۷۹ مې مادې د دویمې فقرې پر اساس تقنیني فرمانونه د ولسمشر له توشیح څخه وروسته د قانوني حکم څښتن کېږي. تقنیني فرمانونه باید د دېرش ورځو په ترڅ کې د ملي شورا د لومړنۍ جلسې د دایریدو څخه وروسته ملی شورا ته وړاندې شي، په هغه صورت کې چې د ملي شورا لخو رد شي، د اعتبار وړ نه بلل کېږي. هغسې چې لیدل کېږي، د دې فقرې وروستۍ برخه د فرمانونو پر باطلېدو کېږیحکم کوي، خو په هغه صورت کې چې د ملي شورا لخوا رد شي د اعتبار څخه ساقط کېږي کله چې تقنیني فرمانونه شورا ته وړاندې شي، په هر دلیل چې شورا د بحث فرصت پیدا نکړي، د فرمانونو اعتبار د قانون پر حکم دوام پیدا کوي او په مخکني ډول پلي کېږي. په اساسی قانون کې نه دي ویل شوي چې د ملي شورا د لومړنۍ جلسې د انعقاد نېټې یو میاشت تېره شي، که تقنینی فرمانونه د تایید هم و نه ګرځي، د اعتبار وړ نه دي، که څه هم رد شوي هم نه وي. دا یوه د هغه موضوعاتو څخه ده چې ویل کېږي حکومت له دغې لارې د ملي شورا څخه اوړي.

د دې ادارو د ضرورت د اثبات لپاره دا دلایل هم وړاندې کېږي چې په افغانستان کی اداره هېڅ وخت د سیاست څخه خلاصې نه ده پیدا کړې. د سیاست د منفی تبعاتو څخه د ملکې خدمتونو اداري پڅ بهیر دی، له دې پلوه زورواکي سیاستوالان، د حکومت په اصلاحاتو کې لاسوهنه کوي او د پروګرامونو د پلي کولو پر وړاندې خنډ کېږي. نو د خپلواکو ادارو د پرانیستلو یوازینۍ موخه د دې لاسوهنو محدود دول دي. له دې امله چی دا اداری د وزارتونه، برعکس د سیاستوالو تر نفوذ لاندې نه دي او نه هم د قومي سهمیه بندۍ په بنسټ شکل نیسي نو ؛ کولای شي چې په مسلکي ډول چارې مخته یوسي.[115] د ساختاری او وظیفوی په اړه اندیښنې، یو له هغی ستونزې دي چې په خپلواکو ادارو کی مطرح کېدای نشي، له دې امله چې کمیسیونونه او خپلواکې ادارې د پالیسۍ په جوړولو کې رول لري په داسې حال کې چې وزیران اجراییوي رول لري. په دی معنی، کمیسیونونه او خپلواکې ادارې د وزارتونو او د رهبرانو

111 د کلیدي معلوماتو مهم مامور، مرکې لوړ پوړي چارواکي، آسیا فونډیشن.
112 د کلیدي معلوماتو مهم مامور، مرکې لوړ پوړي چارواکي، آسیا فونډیشن.
113 د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکې، لوړ پوړي چارواکي، د جمهوري ریاست دفتر.
114 د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، د اساسي قانون د بیاکتنې کمیسیون پخواني غړي.
115 د مهمو معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، لوړ رتبه چارواکي، د عدلیې وزارت.

لپاره د تخنیکی همکارانو رول لوبوي.[۱۱۲] بل دلیل چی په دی مورد کې مطرح کېږي، په دې منسجمو او تخصصي ادارو کې د آسانه اصلاحاتی پروسیجر نسبت لوی وزارتونو ته دي.[۱۱۷] سربېره پر دی، دا اداري او زیاتی شوراګانې د اداراتو تر منځ د همکاری زمینه رامنځته کوي. په هغه شرایطو کې چې د ځیني دولتي اداراو تر منځ د سیالیو احساس شتون لری، د دی بنسټونو پرانیستل څو اداري یا وزارتونه لخوا د کارونو د مخته وړلو په ګډون ، د همکارۍ احساس رامنځته کولو عامل کېږي، مثبتې اغیزی لري.[۱۱۸]

د دی ټولو سره، دا اندیښنې او نیوکې دا فضا منځته راوړی او ویل کېږي چې د داسې ادارو جوړېدلو له امله، د اساسي قانون لخوا د تصویب شوي بنسټیز جوړښت د کمزوري کېدو باعث شوی دی نو دی وزارتونو د سیاسي ملاحظاتو، قومي نا سمو مداخلات لری کولو په خاطر باید بله چاره په پام کې ونیول شي. خپلواکو ادارو ته رجوع کول، د هغه وضعی باعث کېږي چې د اساسي قانون له منطق سره سمون نلري. دا بنسټونه اداري سیستم په تشکیلاتی تورم اخته کویی. ساختاری او کاري تداخل او د ځواب ورکونې کمزورتیاوې په پای کی لري.[۱۱۹] د بېلګې په توګه د وزیرانو شورا چی د هغه د صلاحیتونه د اقتصاد موضوعات دي ، اقتصادی عالی شورا او یا د مهاجرینو وزارت په څنک کې د مهاجرینو او کوچیانو د چارو عالی شورا منطقی نه ابنکارې.[۱۲۰] د دې ادارو د پرمختیا لپاره ویل کېږي د اساسي قانونی د چوکاټ نه بهر دی، ګمان چی د هغوی منځته راوړل سیاسي انګیزیې لري.[۱۲۱] د ملي یووالي حکومت دوه ګونی جوړښت هغه وضعیت رامنځته کړی چې د اصلي ریاستونو او وزارتونو د نشتوالي عامل شوی. په هرصورت، چې اصلي ځانګې هم د ساختاري او کاري مداخلې څخه ډکې دي. د بېلګې په توګه، له اداري فساد سره مبارزه کې، د لوی څارنوال سربېره د شپږو څخه زیاتې اداري شته؛[۱۲۲] یا د بازرس دفتر سره د تفتیش د عالی د اداری نه علاوه او د سیاحت په چارو کې د دولت وزارت تاسیس چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په چوکاټ کې یو اختصاصی معینیت شتون لري.[۱۲۳]

د موازي ادارو په انتقاداتو نه یوازې پر مرکزي ادارو باندې محدود نه دي، بلکې د عامه اداري سازمان ټوله برخه په کې شامله ده. د اداري بنسټونو د پراختیا پر ځای موازي اداري جوړېږي. د بېلګې په توګه په دې وروستیو کې اته پراختیایی زونونه جوړ شول دا زونونه د سیمه ییزو اداري نهادونو (لکه ولایت) سره متضاد دي. همداسې د دې پرځای چې د کلیو شوراګانې، د ولسوالیو شوراګانې او د حکومت سیمه ییزې اداري تقویت شي، د ښاروندۍ منشور پروګرام (Citizen Charter) د یو ۱۰ کلن پروګرام په کچه پلي کېږي. په تېرو وختونو کې هم د سیمه ییزو شوراګانو د تقویت پر ځای د کلیو او پراختیا پروګرام په پروژه یي توګه طرح او پلي کیده. د پروژيی بڼه د موازي ادارو رامنځته کولو د سیمه ییزو دفترونو بنسټونه نه پیاوړي کوي.[۱۲۴]

## ۳.۵ له تمرکز څخه د غیرتمرکز کولو په لور

هغه څه چې په مخکنیو بحثونو کې وضاحت ورکړل شو، اساسي قانون د اداری تمرکز او غیرتمرکز تر منځ هېڅ توافق نه لري. خو عمومي باور دا دی چې په مرکز کې اداري تمرکز او د صلاحیتونو تمرکز، لکه څنګه چې د عمل په ډګر کې لیدل کېږي، د اساسي قانون سره سمون نه لري.[۱۲۵] دا یو واقعیت دی چې د افغانستان د مدرن حقوق د تاریخ په عمر کې یې شتون درلودلای دی. کوم چې د تیورۍ او عمل تر منځ ژوره خلا څرګندوي او د ټولنې او دولت تر منځ تشه منعکسه کوي. د قانون متن او د افغانستان د ټولنې حقایق تر منځ دا تشه کېدای شي د دولت او ټولنې د اړیکو د رامنځته کولو د نشتوالي له امله وي چې په پایله یې یو اغیزمنونکی دولت او بل اړخ ته یو وروسته پاتی ټولنه وي.[۱۲۶]

په اوسنیو شرایطو کې، کله چې په ځینو دلیلونو تمرکز ته اړتیا طرح کېږي، اندیښنې هم له ځانه راوړي او د اعتراض او نیوکو سبب ګرځي. مخکې له دی چې په نیوکو باندی بحث وشی، دا د ولیو ده چې د اداري په مدیریت کې د کاری پوهي نشتوالی ، اداري خراب سیستم او د اداري سازمان

۱۱۲ د مهمو معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، لوړ رتبه چارواکي، د عدلیې وزارت.

۱۱۷ د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکې، لوړ پوړي چارواکي، د جمهوري ریاست دفتر.

۱۱۸ د مهمو معلوماتو له چمتو کونکي، لوړ پوړي چارواکي، اداري اصالحاتو او ملکي خدمت کمیسیون سره مرکه.

۱۱۹ د مهمو معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، لوړ پوړي چارواکي، د وزیرانو شورا دارالنشا.

۱۲۰ د کلیدي معلوماتو مهم مامور، مرکې لوړ پوړي چارواکي، آسیا فونډیشن.

۱۲۱ د مهمو معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، د کورنیو چارو وزارت ستر سلاکار.

۱۲۲ د مهمو معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، قانوني مشاور، USAID، هرات.

۱۲۳ د کلیدي معلوماتو برابرونکي سره مرکه، د کارمندانو لوړ رتبه غړی، د سیمه ییز ریاست رییس.

۱۲۴ د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، د اساسي قانون د بیاکتنې کمیسیون پخواني غړي.

۱۲۵ یعقوب، ابراهیمي، د مرکزي ښې حکومت او په مرکزي افغانستان کې د مرکز ښې ټولنې ترمنځ واټن، د اتوار سهار ورځپاڼه، **۱۳۹۵**، د جولای څلورمه. ۲۰۱۸ https://x۸am/۸am.af/۱۳۹۵/۱۱/۰۲/political-afghanistan-policy

۱۲۶ د کلیدي معلوماتو چمتو کونکي سره مرکه، د ټاکنو د خپلواک کمیسون کمشنر او د اداري اصالحاتو او ملکي خدماتو کمیسیون کمشنر.

روښانه عمومي موخې نشتوالي، له هغو سترو ستونزو څخه دي چې په افغانستان کې د عامه ادارې د سازمان سره د ډېرو سوالونو سرچینه کېږي. په عامه توګه په ټولنه او اکاډمیک بهستونو کې د عامه ادارې اړوند په پوهه کې د لوړ ظرفیت نشتوالی په آسانه د درک وړ دی. اداره باید یو پالیسي جوړونکی، د پالیسۍ پلي کوونکي او د فکر تولید لپاره ځای واوسي، چې ټول یې مسلکي او داخلي پوهه ته اړتیا لري.[۱۲۷] د دې پوهې اړتیا، په تېره بیا هغه هېوادونو کې چې جګړه او پرمختګ دواړه په یوه وخت کې پر مخ بوزي، خورا څرګنده موضوع ده. د ادارې د ټولیزو موخو وضاحت کولو نشتوالی له هغو اړینو مسلو څخه ده چې ټولې کړنې، تګلارې او پالیسۍ تر منفي اغېزو لاندې نیسي. د عامه ادارې عمومي موخې په اساسي قانون کې ندي ځانګړې شوي. دا څرګنده نه ده چې په افغانستان کې د عامه ادارې عمومي موخې د خدمتونو وړاندې کول دي یا د اقتصادی د شرایطو برابرول؟ ایا مورډ لبرال عامه خدمتونو سیستم لرو یا د هندوستان هېواد په څېر بیروکراتیک اداری سیستم؟ په تاریخي توګه، په افغانستان کې اداري سیستم د سوسیالیستي رژیم او طالبانو په وخت کې ایډیالوژیک و؛ د مجاهدینو د دورې په جریان کې یوه ځانګړې موخه نه ده تعقیب شوی، مګر په اوسني د دی سره چې شکل او سازمان یې ټاکل شوی په لویه کچه یې کړنی معلومی ندی.[۱۲۸] په هر حالت، ډیموکراسي، عامه ګډون، ملي حاکمیت، ټولنیز عدالت او ښه حکومتولۍ له هغو معیارونو څخه دي چې د اساسي قانون عمومي اخلاقي موخې جوړوي؛ چې اړینه ده د عامه ادارې د تنظیم او د اداري تمرکز او اداری تمرکز زدایی ترمنځ د عمل لارښود وګرځي.

د دې حقیقت په نظر کې نیولو سره چې د مرکز اداري صلاحیت دومره ده چې د اساسي قانون د عمومي اخلاقي موخو سره مطابقت نلري خو دا مرکزیت بیا د ځینو لخوا په ناچارۍ سره مناسب ګڼل کېږي. د دوی په آند، د عامه اداره او د هغې حقوقي میکانیزمونه لا تر اوسه وده نه ده کړې چې سیمه ییزه منتخبه اداری جوړ شوی وی. له بلې خوا، په افغانستان کی تر اوسه سیاسي کلتور او مدني ګډون په ریښتینې ډول نه دی جوړ شوی او دودیز سیاسي کلتوری صلاحیتونه د پلي کیدو نه ښکاري.[۱۲۹] په داسې سیاسي کلتور کې د عامه چارو په اداره کې د پام وړ ګډون کولو صلاحیت نشته. همدا راز ولایتي شوراګانو له دی خپل مشورتی صلاحیت برياليتوب نه دی ښودلی.[۱۳۰] همدا راز، د ادارې دودیزه سیاسي فرهنګ اغېزمنه وي. «په افغانستان کې اداره د شخصي واک اخیستلو وسیله ده، خو د عامه حاکمیت وسیله نه ده. پر دی بنسټ، اداري کارونه د شخصي علایقو په ډول مخته ځي نه د قانون د حکم له مخه. د افغانستان سیاسي کلتور چوکاټ دودیزه او قومي دی او له همدې امله قدرت غوښتونکی دی. دا چوکاټ غواړي فردي اراده وی، نه د قانون حاکمیت».[۱۳۱]

له دې نه پرته چې د اصلاح کولو لپاره یې ستراتیژیک او اوږد مهاله پلانونو ته اړتیا ده، د ځینو مرکه کوونکو په وینا، په اوسني حالت کې، سیمه ییزې اداري د صلاحیت د تمرین کولو وړتیا نلري، تر هغه حده پورې چې سیمه ییز چارواکې خپل محدوده صلاحیتونه کاروني لپاره، په مرکز پورې تړاو لري او تړلي دي. داسې ښکاري چې دا عادت مرکز ته د سترګخ به لارې عادت او د مسؤلیت د منلو له ویره څخه وي.[۱۳۲] سربېره پر دې، د سیمه ییزو واکونو د موجودیت په اړه اند ښننه شتون لري چې دلیل یې د سیمه ییزی زورواکو له خوا د ځورونې ګواښ او په سیمه ییز دفترونو باندې د هغوی ممکنه اغېزه ده، کله چې د قدرت خاوندان او محلی زورواکان په شخصی قدرت سره په سیمه شته وي، د اداري فساد، ناوړه ګټې اخیستنې، او قوانینو څخه تیښتي امکان شتون لري.[۱۳۳]

په هر صورت، د ډېرو مرکه کوونکو په آند د اندیښنې یا ور دی نه یا د پام وړ اهمیت نلري. د هغو په آند، سیمه ییزې ادارو ته د صلاحیتونو لېږد یو قانوني او عملي اړتیا ده. همدا رنګه په مرکز کې زیات تمرکزد دې لامل شوی چې انساني ظرفیت په مرکز کې راټول او همدا راز په سیمه کې د ظرفیت لوړولو خنډ شي. نو د ځایي ظرفیتونو لوړولو ته اړتیا ده چې د سیمه ییزو ځانګو د وړتیا لامل شي. په اوسني وخت کې، د ټول مالی صلاحیتونه، استخدام، پالیسۍ جوړونې، پلان کول، اجراییوي، څارنیز او نورصلاحیتونه په مرکز کې راټول شوي دي.[۱۳۴] هغه صلاحیتونه چې د سیمه ییزې اداري لپاره په نظر کې نیول شوي دي ډېر محدود دي.[۱۳۵] دا وضعیت د دې لامل شوی چې ولس او حکومت ترمنځ واټن رامنځته شي، ښاري مسوولیتونو ته د خلکو بې تفاوتي او په پرمختیایي پلانونو کې کمښت راشي. په ځانګړې توګه په غرنیو سیمو کې، ولایتی بودجه له مرکز څخه ډېره ځنډیږي. افغانستان یو له غرنیو هېوادونو څخه دی او له بلې خوا په هېواد کی مناسب او خوندي سړکونه شتون نلري، نو په دې تمرکز ډېره منفي اغېزه درلودلای شي.[۱۳۶]

---

۱۲۷ د مهمو معلوماتو له چمتو کونکي، لوړ پوړي چارواکي، اداري اصالحاتو او ملکي خدمت کمیسیون سره مرکه.

۱۲۸ د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، د پارلمان غړی او د پوهنتون استاد.

۱۲۹ د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، د پارلمان غړی او د پوهنتون استاد.

۱۳۰ د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي، لوړ مقام، د هرات محلي دفتر سره مرکه.

۱۳۱ د مهمو معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، وکیل او د پوهنتون استاد.

۱۳۲ د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکې، لوړ پوړي چارواکي، د جمهوري ریاست دفتر.

۱۳۳ د مهمو معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، لوړ پوړي چارواکي، د وزیرانو شورا دارالانشا.

۱۳۴ د کلیدي معلوماتو له برابرونکي سره مرکه، د کارمندانو لوړ رتبه غړی، د سیمه ییزو ریاست رییس.

۱۳۵ د مهمو معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، قانوني مشاور، USAID، هرات.

۱۳۶ د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، د علي رایان کارمند، اداري اصالحاتو او ملکي خدماتو کمیسیون.

## ۳.۲ د عامه قانون حقوقي اشخاص

نن په اداری حقوقو کې یو له هغو ډېرو اړینو بحثونو څخه د عامه قانون حقوقی شخصیت موضوع او تیوري ده. په دې اړوند د افغانستان په قوانینو او نورو تقنیني اسنادو او حکمونو پربنا که څه هم پاشیلي او ناکافي، تر سترګو کېږي. بیلې ادارای بیلابیل جوړې شوي دي او یا د جوړولو وړاندوینه یې شوي دي. طبیعتاً د حقوقي شخصیت موضوع په بنسټونو او ادارو کې اړینه مسله ده چې نه باید نا ویلې پاتې شي. د افغانستان د اساسي قانون پر اساس، دولت د درې قوي په مفهوم حقوقي شخصیت لري او عامه اداره کولای شي چې د دعوی یو طرف وي.[۱۳۷] سربېره پر دې، د مرکزي او سیمه ییزې اداري واحد معیین شوی دی، د خپلواک کمیسیونونو او سیمه ییزو شوراګانو وړاندوینه شوي ده.[۱۳۸] مګر د ادارو او موسسو د حقوقي شخصیت ځانګړتیاوو په اړه روښانه اشاره شتون نلري. د بېلګې په توګه، دا روښانه نده چې ایا په ارګ کې کابینه، د وزیرانو شورا او نوې تاسیس شوې عالي شوراګانې د حقوقی اشخاص وی او که نه؟ که ځواب مثبت وي، پارلمان ته د دوی ځواب وینه وی او که چیرې ځواب منفی وي نو بیا به د وزیرانو لخوا په خپلواکه توګه واک واخیستل شي.

هماغه قانون چې دا ټول موضوعات تر پوښښ لاندې را ولي مدني قانون دی. دا قانون له یوې خوا د خصوصي حقوقو کړنو موضوعاتو ته پام لرل او له بلې خوا دا قانون په تیرو وختونو پورې اړه لري چې د هغه د تعدیل اړتیا په یو عام باور تبدیل شوی ده.[۱۳۹] بیا هم، د دې قانون او نورو قوانینو په لیدو سره کولای شی د یو ډول عامه حقوقي شخصیت حقوق، عناصر او د دوی د بقا لپاره اړین اجزاوی ، د دوی قانوني بنه، د دوی یو ځای کول دوام او بالاخره د هغوی لرې کولو شرایطووینی.[۱۴۰] بیا هم په دی اړه ځوابونه او سوالونه ډېر دي. په بل عبارت، په افغانستان کې د حقوقي معیارونو څېړنه ښیي چې د عامه قانون د حقوقی شخصیت په اړه د یو روښانه حقوقي چوکاټ او کافی قانوني مقرراتو لپاره لا تراوسه د اداري حقوق ډګر کې زیات کار پکار دی چې ترسره شي.

د افغانستان مدني قانون لومړی حقوقي اشخاص تعریف کړي دي او بیایې هغه په عمومي حقوقي اشخاصو او خصوصي حقوقي اشخاصو باندې وېشلي. د افغانستان د مدني قانون له آنده، «یو حکمي کس یو معنوی کس دی چې حقوقي شخصیت لري او د یوې اداري، شرکت یا نفوس په نامه جوړېدای شي. «[۱۴۱] له دی قانون سره په وروستیو موادو کې هر هماغه دوه ډوله حقوقی شخصیت او د دوی ډولونه او ځانګړتیاوې معرفي کوي. د دې قانون سره سم، یو حکمی عام یا عامه حقوقی شخصیت شامل د دولت، ادارو، فرعي ځانګو او عامه تاسیساتو دي.[۱۴۲] البته، دا قانون له یوې خوا د حقوقي شخص کارونه او ځانګړتیاوې مشخص کوي او له بل پلوه د هغه پېژندل هماغه قانون ته پرېښي دي.[۱۴۳] د حقوقي شخصیت ځانګړتیاوې د دې مدني قانون له مخې دا دي: خپلواکه حقونه او مالي مسؤلیتونه، اهلیت، د ادعا کولو او د ادعا دفع کولو حق او استوګنځای درلودل.[۱۴۴] څرنګه چې لیدل کېدای شي، دغه تعریف ناڅرګند، نا روښانه او محدود دی او پکی د حقوقي اشخاصو حقوقی مسایلو وضاحت، ناکافي او د دې امر لپاره اساس نه ښکاري. لکه څرنګه چې هغه په هېڅ ډول نه د اشخاصو ډولونه روښانه کوی نه د ادارو ډولونو او نه هم د دوی د اړیکو ماهیت او څرګنوالی حقوقی او حقیقی ادارو سره او نه هم اړیکی.

شاید د دې ټولو دلیل، د قوانینو تر منځ څرنګه چې وویل شول ، خلا وي چې مخکې او وروسته له نوي بدلونونو جوړ کړلی دی. د تېر وخت قوانین د اوسنی اساسی قانون د متن سره یو شان نه دی. دا یو روښانه واقعیت دی چې اداري سازمانونه، هغوی کړنی ، د مدني ټولنو او د خصوصي برخو سره د هغوی چلند د تېرې یوی پېړې د اساسي بدلونونو سره بدل شوي. په اوسني وخت کې د اقتصادي بازار سیستم تسلط او د ښه حکومتولۍ پاردایم، اداري حقوق په بشپړ ډول بدل کړی دي. د دې بدلون یا تحول ننبی د نظری اړخه ، د اوسني اساسي قانون او حقوقي اسنادو ، حکومتي پالیسیانو چې د هغه په تعقیب کې اعلان شوي دي په واضح توګه لیدل کېدای شي. خو دا چې د پخوانیو قوانینو سره یو ځای کېدنه په ډېرو برخو کې د قانوني قواعدو او مقرراتو په شمول د عامه حقوقو د حقوقي شخصیت په اړه وېش سبب ګرځي.

---

۱۳۷ د افغانستان اساسي قانون، ۱۳۸۲، ۱۲۰ او ۵۱ مادې.

۱۳۸ د افغانستان اساسي قانون، ۱۳۸۲، ۲۴ او ۵۸ مادې.

۱۳۹ د افغانستان مدني قانون، له ۳۰ کالو څخه زیاته پخوا، په ۱۳۵۵ کال کې جور شو.

۱۴۰ د مثال په توګه، د مدني قانون ۳۳۷ او ۳۳۸ مادې؛ د ښاروالۍ قانون، ۲ ماده.

۱۴۱ د افغانستان مدني قانون، ۳۳۷ ماده.

۱۴۲ د افغانستان مدني قانون، ۳۳۸ ماده.

۱۴۳ د افغانستان مدني قانون، ۳۳۹ ماده.

۱۴۴ د افغانستان مدني قانون، ۳۴۲ ماده.

د دی نه پرته چې اداري ادارو ته حقوقی شخصیت ورکول باعث د دی کیږی چی د دوی حقونه او مسؤلیتونه روښانه شي، په دولت کې د دوی دریځ ټاکي. په هر صورت، د حکومت ځواک بنسټیز شوی او تنظیم شوی دی چې د قانوني سیسټم لخوا او د اداري ادارو لخوا پلي کېږي.[۱۴۵] اداري کړنې د حقوقي اشخاصو لخوا ترسره کېږي. د دغو شخصیتونو صلاحیت کله کله پراخه او ملي وي، کله ناکله هم محدوده، کوم چې د هېواد د خاورې یوه برخه ده او سیمه ییز او ځینې وختونه ځانګړي دي چې کېدای شي د هېواد ټوله برخه یا برخه وي.[۱۴۶] پدې اړه، د اداري قانون سیسټمونو کې مرکزي او سیمه ییز او مسلکي سطحی ځانګړي اداري شتون لري. البته د هغوی د خپلواکۍ کچه، د حقوقي شخصیت ډول او د دې سازمانونو د ټولنې ډول د هېواد د سیاسي اداري جوړښت د نظام په تمرکز او عدم تمرکز تړلی دی.

د افغانستان د اداري عمومي سازمان، مرکزي اداره، سیمه ییز چارواکي، سیمه ییزې شوراګانې، عامه غیر دولتي سازمانونه او مسلکي سازمانونه دي. په دې اړه، دا د بحث وړ خبره ده چې د افغانستان حقوقي اداري سیسټم د یوه پراخ، جامع او مانع چوکات لپاره بریالی نه دی ترڅو یو جامع چوکاټ چمتو کړي. د بېلګې په توګه، دا لا څرګنده نه ده چې دا مؤسسې حقوقي شخصیت لري؛ د دې سازمانونو ترمنځ اړیکي تنظیم شوي دي؟ ایا پر سیمه ییزو شوراګانو د مرکزي اداري کنترول سلسه مراتبي دی یا قیمومیتي. یا په روښانه توګه، د ښاروالیو اړیکی د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواک ریاست سره، د د ښاري پراختیا وزارت د ولایت او تفتیش دفتر سره اړیکو ډول معلوم ندی. د دې بحث د روښانه کولو لپاره، دا اړینه ده چې په سمه توګه د اداري شخصیتونه ډولونه چې په عامه توګه په اداري حقوقی کې طرح کیږی په پام کې ونیول شي. په عامه حقوقو کې د حقوقی اشخاصو ډولونه دا دي: جغرافیایي کسان او د عامه چارو کسان؛ دا د یادونې وړ ده چې د عامه چارو کسان، د مسلکي موسسو او عامه ادارو په نوم هم پیژندل کېږي، او هم په دی دوو ډولونو وېشلو کېدای شی.[۱۴۷]

## جغرافیایي اداري کسان

له جغرافیایي اداري کسانو څخه موخه، اداري سازمانونه دي چې د اداري حقوقی سیسټم لخوا د یوې موسسې په توګه پېژندل کېږي دا اشخاص د عامو او یا محدودو صلاحیتونو پر بنا په دوه ګروپونو وېشل کېږي که دا کسان د مملکت په ټوله سیمه کې عام واک ولري، دوی به ملي او مرکزي سازمانونه وي او که چیرې د دوی واکونه، د یوې محدودې سیمې یا د سیمې یوې برخې، سیمه ییزې اداري یا دفترونه به وي. سره له دی چې د افغانستان په حقوقي سیسټم کې، د عامه اداري سازمان په مرکزي او سیمه ییزو کچو وېشل کېږي،[۱۴۸] خو، آیا مرکزي او د سیمې اداري یو خپلواک شخصیت دی لکه په متمرکز سیسټمونو کې یا د سیمه ییزی اداري خپلواک شخصیتونه دي، لکه په غیر متمرکز سیسټمونو کې چې د بحث وړ دي.

د مرکزي اداري منظور د افغانستان د حکومت حقوقی سیسټم یا مجریه قوه ده. خو کله چې د قانوني شخصیت د سازمان د عمومي اداري په اړه بحث دی، د مرکزی سازمانونو او د دولت قواوو او بنسټونو ته اشاره کېږي چې د هېواد پر ټول قلمرو او ساحه صلاحیت لري. په حقیقت کې د ټولو سازمانونو او دولتي بنسټونو په رأس کې دولت د دریو قوو شتون لري.[۱۴۹] دلته دولت کولای شي د دعوا یو طرف واقع شي، دعوا دفع کړي او د حقونو او تکلیفونو نه خوندي شي. حتی په نړیوالې کچه هم دولت په دغه کلیت سره، د حاکمه هیات، عامه مقاماتو او عامه کارکوونکو پرته مطرح دی او پېژندل کېږي.[۱۵۰] دلته هغه څه چې د دې لیکونکې موضوع په اړوند د پاملرنې وړ دي، حکومت دې؛ د افغانستان حکومت د حقوقي سیسټم د عامه اداري سازمان دی. په دی مفهوم عامه اداره د مجریه قوې یو برخه پېژندل کېږي.

دا باید په پام کې ونیول شي چې وزارتونه خپلواک حقوقي شخصیت نلري خو د دولت برخه ده. په دې معنی چې د یوې کابینې او حکومت غړي دي او د ولسمشر تر مشرۍ لاندې کار کوي. نو له همدې امله وزارتونه او د دوی اړونده واحدونه د دولت عمومي شخصیت تر اثر لاندې دي. دا موضوع له اساسي قانون سره مطابقت لري.[۱۵۱] بله موضوع چی د وضاحت وړ ده هغه دا چې باید د هغه ادارو چې د وزارتو ترڅنګ او د هغه په امتداد واقع دې او او سیمه ییز بنسټونه چې د وزارتو جز ندی توپیر قایل شو. غړي په مستقیمه توګه د خلکو له لارې ټاکل کېږي. دغه سیمه ییز بنسټونه چې په مستقیم ډول د سیمه ییزو خلکو سره تړاو لري، معمولاً په غیر متخصص سیسټمونو کې

---

۱۴۵ ابوالفضل قاضي، د اساسي حقوقو اساسات، ص ۸.

۱۴۶ ولی الله انصاری، د اداري حقوق کلیات، ص ۱۰۷.

۱۴۷ سرور دانش، د افغانستان اداري حقوق، ص ۱۰۹.

۱۴۸ د افغانستان اساسي قانون، ۱۳۸۲، ۱۳۶ ماده.

۱۴۹ سرور دانش، د افغانستان اداري حقوق، ص ۱۱۰.

۱۵۰ منوچهر طباطبایي موتمني، اداری حقوق، ص ۲۲۳.

۱۵۱ د افغانستان اساسي قانون، ۱۳۸۲، ۵۱، ۱۲۰ او ۱۳۶ مادی.

خپلواک دي او کولای شي په خپل نوم حقوقي حقونه وکاروي.[۱۵۲] خو په مرکزي اداري سیستمونو کې، د سیمه ییزو ادارو چې د اداري خپلواکۍ او د ازادۍ عمل لري، د توجیه وړ نه دي؛[۱۵۳] کوم چې د افغانستان په عامه اداره کې د بحث وړ دي.

## مستقلې موسسې (خپلواکې ادارې)

د عمومي حقوقو د حقوقي شخصیتونه یوازې متمرکز حکومتي اداري لکه کابینه او خپلواک کمیسیونونه او یا غیر متمرکز سیمه ییزو ادارو لکه ښاروالیو ته نه محدود کېږي بلکې نور عمومي سازمانونه هم په کې شاملېږي. چې د قانون لخوا ورته د عمومي شخصیت ورکړل شوی دی او د عمومي حوزې په چارو کې له دولت سره همکاري او فعالیت لري.[۱۵۴] دا سازمانونه په عمومي ډول عامه موسسه (Independent Agency) نومیږي ، او کولای شي په خاص ډول سره په بېلابېلو عنوانو شتون ولري. د خپلواکۍ کچه او د دې ټولنې حقوقي شخصیت د واحدی بنې څخه پیروي نه کوي بلکې ممکن یو تعداد یې د خپلواکۍ له لحاظه له نورو عمومي شخصیتونو سره توپیر ولري. دي چې په نورو هېوادونو کې دا موسسات ممکن د پارلمان سره په قضائیه قوې، کابینې، وزارتونو، ښاروالیو او نور بنسټونو کېدا شي تړلي وي، چې په خپله د استقلال او حقوقي شخصیت برخمن دي.[۱۵۵] دا موسسې په دې دلیل د دولت برخه ګڼل کېږي، چې سربېره پر حقوقي خپلواکۍ، په عمل کې په حاکمیت شریک او د عمومي واک د امتیازاتو څخه استفاده کوي.[۱۵۶] د دې ټولنو دندې او صلاحیتونه د قانون په ذریعه ځانګړې شوي او د یو یا څو مسلکي عامه کارونو مسؤل دي. عمومي موسسې لومړی د اداري خدمتونو په برخه کې لکه روغتونونه، کتابتونونه ، پوهنتونونه، او نور رواج پیدا کړ او بیا د سوداګرۍ د صنعت او ټولنیزو عرصو کې، د بېلګې په توګه تصدۍ او دولتي شرکتونه، هم وده ترې وکړه ، چې هم په انتفاعي و هم په غیر انتفاعي بڼې فعالیت لري.[۱۵۷]

په افغانستان کې د عمومي موسسو په اړوند واضح تعریف شتون نه لري. خو ځینې ټولنې لکه دولتي تصدۍ ، دولتي شرکتونه، بانکونه او نور د ځانګړو قوانینو له طریقه تشکیل شوي دي چې هر یو خپل مشخصات او د عمومي موسسو ځانګړنې لري. د یو شمېر بنسټونو د قوانینو او اساسنامو څېړنو ښودلې ده چې دا سازمانونه په افغانستان کې د شکل له لحاظ د ډول ماډل څخه کار نه اخلي؛ یا په بل عبارت ، دوی د سختو شرایطو تابع نه دي او لازم نه دي ټول په سنتي بڼه د عامه موسساتو ټولې ځانګړتیاوې ولري. په دې دلیل د افغانستان د متمرکزه اداری سیستم په وجود کې د دې ډول حقوقي اشخاصو پراخېدل له امکان لیرې نه وو. د دې سازمانو د تشکیل صلاحیت د دولتی سازمانونو سره خپلواکۍ او تړلتیا په کچه پورې تړلي دي. له دې امله په افغانستان کې اداري اصل تمرکزي دي، په اصل کې وزیران او د هېواد ولسمشر د دې چارو مسوول دی. خو د دې سازمانونو رامنځته کول باید د قانون جوړولو پر اساس وي تر څو د هغوی جوړښت، دندې، صلاحیتونه ، مالي او د کار موندنې او حقوقي حالت معلوم شي. سربېره پر دې، دا موسسې مالي او سازماني دي او د عادي وزارتونو او حکومتي ادارو څخه بهر دي، نو اړینه ده چې د هغه قانون جوړونکي لخوا چې د هېواد پر دخل او خرڅ نظارت کوي اجازه ورکړل شوی وی.[۱۵۸] دا د یادولو وړ ده چې د دولتي تصدیو او شرکتونو له قانوني شخصیت سره سم، دولت هغوی جوړ کړي، بدلون، منحل او د مالکیت انتقالولو صلاحیت یې هم لري.[۱۵۹] په افغانستان کې، ډېرې اداري شته چې اړوند اداري واحدونه یې محدود کړي دي، خو د حقوقي شخصیت د عامه حقوقو د روښانه او د اوړخې برابر تعریف د نشتوالي له امله، نشي معلومېدای چې دا څرنګه شخصیت دی. د بېلګې په توګه، په دې وروستیو کې د پوهنتونونو د مالي خپلواکۍ طرزالعمل تایید شوي دی، دا اداري د سازماني، استخدامي ، لوژستیکي او پالیسي جوړونې په اړوند د لوړو زده کړو په وزارت پورې تړاو لري. له دې کبله، مالي خپلواکۍ پدې معنی نه ده چې بشپړ حقوقي شخصیت ولري.

هغه څه چې د دې اشخاصو په اړه د پاملرنې وړ دی، د دوی د کړنو پر موثریت باندې باورمندی ده.. د بریښنا د شرکت تجربه د دولتي تصدیو دولتي یا مختلط شرکتونو بریالیتوب ښیي. د دولتي شرکتونو په جوړولو سره به په عامه اداري کې به د عامه اداري د تخصصي کېدلو زمینه برابره شي او غوره عامه خدمتونه وړاندې کړي. کله چې د بریښنا رسولو یا د حکومت څمکو مدیریت یوه عامه شرکت ته سپارل کېږي، دا شرکت کولای شي د خپلو موخو د چټکې او اغېزمنتیا په خاطر د وخت د مدیریت له سیستمونو څخه کار واخلي.[۱۶۰]

۱۵۲ منوچهر طباطبایي موتمني، اداري حقوق، صص ۲۱ او ۲۲.

۱۵۳ د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، د اساسي قانون د بیاکتنې کمیسیون پخواني غړي.

۱۵۴ ولی الله انصاري، د اداري حقوق کلیات، ص ۱۲۵.

۱۵۵ منوچهر طباطبایي موتمني، اداري حقوق، ص ۱۲۳.

۱۵۶ محمد امامي، اداري حقوق، ص ۱۳۱.

۱۵۷ منوچهر طباطبایي موتمني، اداري حقوق، ص ۱۲۳.

۱۵۸ د افغانستان اساسي قانون، ۱۳۸۲، ۲۴ او ۱۴۲ مادی.

۱۵۹ مقننه فرمان، د حکومتي تصدیو قانون کې په ځینې موادو کې تعدیل او زیات کول، رسمي جریده، نمبر ۱۰۳، ۲۲ ماده.

۱۶۰ د اساسي معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، د اساسي قانون جوړښت کمیسیون پخوانی غړی.

### مسلکي او صنفي سیستم

حرفه یي او صنفي نظامونه له هغه اداري نظامونو څخه عبارت دي چې د دولت لخوا د حرفو د خاوندانو د چارو د تنظیم او سازمان ورکولو په موخه منځته راځی تر سو د هغوی په چارو کې نظم او انظباط رامنځته شي. کېږي. که څه هم دا اتحادیې د حقوقي خصوصی اشخاصو له ډلې څخه دي، خو د هغوی د تنظیم اداره د هغو سازمانونو په غاړ اېښودل شوی ده. چې د حقوقي شخصیت له نظره د عمومي حقوقو څخه برخمن دي او کولای شي د حقوقو او امتیازاتو په اړه د عامه قدرت څخه کار واخلي.. نو دا نظامونه د مختلط حقوقي رژیم څخه پیروي کوي داسې چې چارې او عمومي کړنې یې د عمومي حقوقو تابع دی او داخلي چارېې لکه استخدام، قرار داد، معاملات او دعوی د خصوصي حقوقو تابع دي.[۱۲۱]

دا نظامونه چې د مسلکي یا صنفي سیستم په نامه یادیږي، ځانګړتیاووې لري چې هغوی ته عمومی شکل بښي.[۱۲۲] لومړی دا چې په دې نظامونو کې غړیتوب قانوني اجباري دی او د پریکړې اطاعت پر غړو لازمی دی. دویم دا چې دا نظامونه له حقوقي شخصیت څخه برخمن دي او سره له دې چې پر هغو دولت څارنه لري اداري صلاحیتونه یې ډېر دي. دریېم دا چې د رهبري یاهیات یې د ټولنې د غړو لخوا د دولت له دخالت څخه پرته تعیین کېږي.[۱۲۳] په افغانستان کې د مدافع و کیلانو خپلواک انجمن د حرفه یې سیستم د بېلګو څخه وګڼو؛ لکه څرنګه چې د مدافع و کیلانود قانون ۴ مه ماده وایې د مدافع و کیلانو انجمن، د وکیلانو د چارو د تنظیم او رهبری په خاطر په غیر دولتی او خپلواکه بڼه تاسیس کېږي. [۱۲۴] همدارنګه په دی برخه کې هم کولای شو چې د اصنافو او پیشورانو څخه نوم واخلو چی د چارو د تنظیم لپاره پرانیستل شوې ده او د اساس نامی او نورو تقنیني اسنادو پر اساس فعالیت لري.

## ۳.۷ په عامه اداري سازمان کې د اصلاحاتو اړتیا

بیاکتنه او اصلاحات د بشري ژوند په بېلابېلو برخو کې یوه دوامداره مسله ده. له بدلون او اصلاحاتو پرته پرمختګ او تغییر ممکن نه وي دا امر دسنت څخه مدرنیتی ته د هېوادونود ګذارپه خاطر ډېر د اهمیت وړ دی. د افغانستان د عامه اداري جوړښت او کړنو څېړل ښیي چې دا سازمان د نظری او حقوقی او د اجراأتو او عمل له درکه نیمګړتیا ووي او کمی لري، چې بدلون او اصلاح ته اړتیا لري. شاید د همدې ضرورت درک وي چې ډېرې پالسیې د اداري د اصلاح په موخه د رسمی مراحلو د تېرولو په حال کې دی. [۱۲۵] د دې څېړنې اړوند د شته د ادبیاتو مطالعه، د مقررو او اسنادو او ساحوي کیفي څېړنې په شمول، یعنی له متخصصو او تجربه لرونکو کسانو سره مرکې هم د دې اړتیا مبرم والی تاییدوي. مګر هغه څه چې اختلاف پکی شته د اصلاح او بدلون ډول، کچه او روش دی. ځینې پدې باور دي چې د عامه اداري سازمان ستونزه د اساسي قانون احکام نه پلی کول دي، پدې معنی چې که قانون په سمه توګه پلي شي، ستونزې به حل شي.[۱۲۶] نور کسان فکر کوي چی ستونزې په پلي کولو کې نه مګر په اساسي قانون کې دي. د هغو په آند، د قانون له پلي کولو سره به هم ستونزه حل نشي، ځکه چې اساسي قانون د هېواد اوسنیو شرایطو سره سمون نه لري او باید سمون وموميي او بدلون ته اړتیا لري.[۱۲۷] د بېلابېلو آندونو ارزونه وړاندیز کوي چې اصلاحات کېدای شي محدود، جزوي او قسمی وي، تر هغه حده چې د اساسي قانون متن د محدود تعبیر ته اړتیا وي. اصلاحات کیدای شي پراخ، بنسټیز او عمومي وي، تر هغه چې دا د اساسي قانون تعدیل ته اړتیا لري. په ورته وخت، اصلاحات د شته اساسي قانون د متن په حدود کې واقع کېدای شي، چې حتی پراخ تفسیر ته اړتیا نه لري. د غه ډول آندونه هریو ځان ته ملاتړی او مخالفین لري.

ځینې فکر کوي چې تر اوسه د اساسي قانون د خوښې اداري سیستم د عملي کېدو وخت نه دی موندلی نو په دې آند دي چې د بل نوي سیستم د تجربه کولو وخت لا هم نه دی راغلی. دوی په دې آند دي چې د اداري سیستم د بدلون د شرایطو د نه چمتووالي په سبب به غوره دا وي چې د شته سیستم د پلي کولو لپاره هڅه وشي تر څو د اساسي قانون منطوق په ریښتیا بدل شي.[۱۲۸] نو د اداري ځواکمنتیا، د مادي او حقوقی بنسټ جوړونې، د ظرفیتونو جوړول او لوړول او د هغو جوړښتونو بشپړول چې تر اوسه نیمګړي دي، ډېر اړین دي؛ تر دې چې د اساسي قانون په بدلون او یا د نوي اداري سازمان په بدلون عمل وشي. حتی کېدای شی د سیستم د کلي بدلون اقدام هم پرته د ناکارو عواملو له څېړلو څخه، ډېره ویجاړونکی وي.[۱۲۹]

---

۱۲۱ منوچهر طباطبایي موتمني، اداري حقوق، ص ۱۳۹.

۱۲۲ محمد امامی، اداري حقوق، ص ۱۳۲.

۱۲۳ منوچهر طباطبایي موتمني، اداري حقوق، ص ۱۳۹.

۱۲۴ د مدافع وکیلانو د ټولنې قانون، رسمي جریده، ۱۳۸۶.

۱۲۵ د بیلګې په توګه، د ملي حکومتدارۍ ملي پالیسی په مسوده کې چې د جوړیدو په حال کې ده ذکر شي.

۱۲۶ د مهمو معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، د پارلمان غړی او د پوهنتون استاد.

۱۲۷ د کلیدي معلوماتو مهم مشاور، د ولسمشر پخوانی حقوقی سالکار.

۱۲۸ د مهمو معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، لوړ پوړي چارواکي، د وزیرانو شورا دارلانشا.

۱۲۹ د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، د اساسي قانون د بیاکتنې کمیسیون پخواني غړي.

د اصلاحاتو د راستولو لپاره د ټولیز سیستم له بدلون څخه پرته په شته حقوقي سیستم کې ډېرې لارې چارې شته دي. د پالیسۍ د جوړولو په برخه کې د صلاحیتونو سپارل، پلان جوړونه، د بودجې لګښت، د کارکوونکو ګمارنه او پر اجرااتو باندېڅارنه، نه یوازې دا چې د قانون پر خلاف نه دي بلکې له قانون سره سمون لري. د لا ډېرو صلاحیتونو په سپارلو سره په متمرکز اداري جوړښت کې به عیبونه مخ په کمښت لاړ شي، په همدې ډول په ګمارنو کې، د موازي جوړښتونو په حذف او له منځه وړلو کې، د ولسمشر صلاحیتونو لړول له څارنیز صلاحیت او واک سره د سیمه ییزو شورا ګانو جوړول، د ښاري شورا د تشکیل او امکاناتو برابرول او د ښاروالانو انتخابي کېدل له هغو اصلاحاتو څخه دي چې د اساسي قانون بدلون او سمون ته اړتیا نه لري.[۱۷۰] له دې نه علاوه، په سیمه ییزو ادارو کې د شته ستونزو د لرې کولو لپاره اړینه ده چې له یو پراخ لیدلوري سره د سازماني یووالي پروګرام جوړ شي. په اوسنیو وخت کې په ټولیزه توګه سیمه ییزه اداره په یوه واحد نظر نه لیدل کېږي او بېلابېل سیمه ییزې اداري په خپلواکه توګه له مرکزي ادارو سره تړلې دي. وایي چې والي او ولسوال دواړه د ولسمشر استازي دي، نو د دوی د صلاحیتونو حوزه د یو بل په وړاندې او د مرکزي ادارو په مقابل کې تر کوم ځایه ده ؟[۱۷۱] د سیمه ییزو مسئولینو د صلاحیتونو چوکاټ د دوی شخصیت او شخصي ځواک ټاکي نه قانون، ځکه چې په دې اړه قانون نشته. د سیمه ییزو بنسټونو د صلاحیتونو نه څرګندوالی د دې لامل شوی چې د دوی ځواک د دوی د صلاحیتونو چوکاټ وټاکي.[۱۷۲]

هغه کسان چې د اداري سازمان ستونزه د تطبیق په پرتله تجویز کوی په دې باور دی چې د اساسي قانون د نظرو اداري سازمان ستونزې ډېرې زیاتې دي ، کومې چې د اساسي قانون د تعدیل او د عامه سیستم بدلون پرته شوني نه ده . دا نظر زیاد ملاتړي لري. په دې برخه کې، غیر متمرکز سیستم د اوسني اداري سازمان لپاره مناسب بدیل دی.[۱۷۳] فرهنګي بدلون، فزیکي شرایط او د افغانستان غرنۍ جغرافیه هم یو غیر مرکزي سیستم ته اړتیا لري.[۱۷۴] د دې نظریې پربنا ، د مرکز څخه د لېرې کېدلو ګواښ، د قدرت د ټاپوګانو جوړیدل، د واک تجزیې اندیښنی ځای نه لری، ځکه مرکزي حکومت او څارنه بې په ټولو ځایو باندې د قانوني ضمانت سره د پلې کیدو وړ وی. سربېره پر دې، د اشتراکي یا غیر متمرکز سیستم سره ډیموکراتیکې موخې ترلاسه کول ممکنی دې د ښې حکومتولۍ د تأمین لپاره هم اړتیا ده تر څو متمرکز ساختارونه خراب او صلاحیتونه بې ووېشل شي، تر څو مربوطه ټولنې د هېواد په ټوله ساحه کې د خصوصي برخې او مدني ټولنو سره د موثر تعامل امکان پیدا کړي.[۱۷۵]

د یادونې وړ ده چې په دې ترڅ کې یو لید لوری پربنا د سیستم اصلاح او د غیر متمرکز سیستم په لوري تلل، ضرورت لري د سیمه ییزو شوراګانو اساسي اصلاحات پیل شي. اوسنۍ سیمه ییزې شوراګانې (د کلي شوراګانې، د ولسوالۍ شوراګانې او ولایتي شوراګانې) له یو تاریخي جریان څخه جوړ شوي دي، چې دنده یې په سیستم کې په سیاسي توګه د سیمه ییزې اغېزمنې ملګرتیا ده. په همدې دلیل د دې شوراګانو یوه لاره د افغانستان مشرانو جرګه ته هم تللې ده. د افغانستان حاکمانو د تاریخ په اوږدو کې ( د اوسني نظام په شمول) د ټولنو اداري صلاحیتونه حذف کړي دي خو سیاسي کړنې یې ساتلي دي. دا شوراګانې اداري کړنې نه لري؛ د اوسنیو شوراګانو تشکیل چې د د تاریخي میراث پروسه ده، د دې لپاره نه دي جوړ شوې چې د ښې حکومتولۍ زمینه ښه او بهتره برابره کړي. د دغو شوراګانو جوړښت په دومره کچه نه دی وړاندیز شوی چې دوی به د سیمه ییزی اداري د وضعیت د ښه کولو لپاره یو پلان چمتو کړي او کار وکړي. دا شوراګانې اساساً په سیمه ییزو چارو کې د متنفذینو ګډون وو. په دې خاطرهم دی چې اوسنی سیاسي متمرکز سیستم، د شوراګانو نماینده ګان، د سیمه ییزو اداراتو مسوولینو سره په شخړه کې دي. د سیمه ییزو او سیاسي شوراګانو استازي غیر اداري دي او د اوسني ساختار په جوړولو کې ستونزی لري. په اوسني سیاسي حالت کې، د سیمه ییزو شوراګانو استازي د رای ورکونکو لخوا تر فشار لاندې دي تر څو د دوی سیاسي استازیتوب وکړي، خو په متمرکز سیاسي سیستم کې داسي امر ممکن نه دی؛ په پایله کې تل ولایتي شوراګانو او شخصا والي (د مرکزي اداري سیاسي استازي په توګه ) ترمنځ برخورد او جنجال منځته راځي.[۱۷۶]

نو د دې لپاره چې د اداري غیر متمرکز سیستم شرایط آماده شي؛ دا شوراګانې باید منحل شي. د ښاروالیو پر ځای باید د ښار شوراګانې وټاکل شي او دوی ته کافي صلاحیتونه ورکړل شوي وي. ترافیک، پولیس او نورې سیمه ییزې اداري باید د ښاروالۍ تر اثر لاندې راشي. په همدې ډول، ښاروالۍ د واحدونو په سیمه ییزو اصلي اداري سیستم بدلیږي او والي به یوازې په افغانستان

۱۷۰ د کلیدي معلوماتو مهم مشاور، د ولسمشر پخواني حقوقي سالکار.

۱۷۱ د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، لوړ پوړي چارواکي، د سیمه ییزو مستقل ریاست.

۱۷۲ د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، لوړ پوړي چارواکي، د سیمه ییزو مستقل ریاست.

۱۷۳ د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، د اساسي قانون د بیاکتنې کمیسیون پخواني غړي.

۱۷۴ د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکې، لوړ پوړي چارواکي، د ولسمشر د دفتر ریاست.

۱۷۵ د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، په پوهنتون کې د اداري حقوقو استاد.

۱۷۶ د کلیدي معلوماتو له چمتو کونکي سره مرکه، د اساسي قانون د بیاکتنې کمیسیون پخواني غړی.

کې د مرکزي سیاسي سیستم استازي په توګه پاتې شي او والي به په دې موډل کې اداري صلاحیتونو نه لري. دا موډل په بېلابېلو هېوادونو کې کارول شوی دی. د نړۍ په لویو ښارونو کې لکه لندن د دې مډل نه کار اخیستل کېږي.

د دې نظر پر اساس، ښاروالۍ او د ښار انتخابي شوراګانې کولای شي د یوې غیرمتمرکزې اداري یوه غوره موډل جوړ کړي. د سیمه ییزې اداري کړنې د خدمتونو اجراکول دي؛ د اصلي مراجعو د خدمتونو اجراآت په ښارونو او ښاروالیو کې دي. انتخابي ښاروالۍ کولای شي چې په متمرکزه ادارو متحدولې شي. د منتخبه شوراګانو همکاري کولای شي د ښار طرح او د ښه اجرا کولو لپاره د پروګرامونه د بهتره اداري خدمتونو طرحه، تمویل او پلي کړي. افغانستان باید د ښارونو د پراختیا لورته ولاړ شي، د کلیو د پراختیا لپاره هم باید د ټاکلي بېلګې څخه کار واخیستل شي.

د ښې حکومتولۍ د ملي تګلارې په مسوده کې وړاندوینه شوې ده چې د ولایتي شورا د ولایتي پرمختیایي شورا او د عالي شورا غړی دایمي غړي شي او له دې طریقه د بودجې په اړه، د پرمختیایي پروژې د عامه خدمتونو د وړاندې کولو د ښه والي په خاطر وړاندیز کړي. په قانون کې دا هم باید ولیکل شي چې والي دنده لري چې د شوراګانو نظر په پام کې ونیسي. د دې پلان له مخې خپلې مشورې او وړاندیزونه، د ولسوالیو شوراګانې او ښاروالۍ هم په ولسوالۍ او ښار کې ورته صلاحیتونه پلي کوي. په دې پلان کې ښاروالۍ د خپلواکو ادارو په توګه چې باید وکولای شي خپل عایدات خپله اداره کړي ساتل شوې خو د ولایتي ادارې په جوړښت کې والي دنده لري چې د ښاروالیو له کړنو څارنه وکړي.[۱۷۷]

د دې مسودې پر اساس، وزارتونه او مرکزي دفترونه به د پالیسي جوړونکو په توګه کار وکړي او د پالیسیو له سم پلي کولو څخه به څارنه وکړي او سیمه ییز حکومت او والی به د ولایتونو په کچه د پالیسیو پلي کولو مسؤلیت لري. په دې پلان کې، د دویمې اداري واحدونه (د وزارتونو ولایتي ریاستونه او خپلواک ریاستونه) د ولایت د ادارې تابع دي او د وزارت سره یې خپلواکه اړیکه پرې شوې ده. په دې ډول، داسې ښکاري چې ته یو منسجم دید په توګه هغه د ولایت د عامه خدمتونو د چمتو کونکي واحد په توګه رامنځته کېږي. په ولایتي کچه به پرمختیایي او اداري چارې د دوه اړخیزو ادارو، د رهبري عالي بورډ او د پرمختیا عالي شورا لخوا رهبري شي. د ولسوالۍ په کچه، د دریمې کچې اداري به د دویمې کچې اداري او سیمه ییزو حکومتي ادارو ته وسپارل شي. ولسوال به د ولسوالۍ د کچې ریاستونو کړنې نظارت کوي او که اړتیا وي د سیمه ییزو حکومتي چارواکو لخوا وړاندیز کوي چې د دریمې کچې ادارو کاري شرایط ښه شی. بهتر کړي. داسې ښکاري چې دا پلان د اساسي قانون بدلون ته اړتیا نلري. اساسي قانون مرکزي حکومت تعریفوي، کوم چې وزارتونه او سیمه ییزه اداره ده، همدا رازولایتونه او د هغې فرعي برخې یعنی ولسوالۍ دي. له همدې امله، د اساسي قانون له مخې د وزارتونو ولایتي ریاستونه باید د ولایتونو تراثر لاندې وي که نه دوی به په اساسي قانون کې ځای ونلري.[۱۷۸]

۱۷۷ د ښې حکومتدارۍ پالیسۍ پلان، د ۲۰۱۸ جولای.

۱۷۸ د ښې حکومتدارۍ پالیسۍ پلان، د ۲۰۱۸ جولای.

# ۴. پایله او سپارښتنې

## ۴.۱ پایله

که څه هم عام خلک فکر کوي چې عامه اداري سازمان د اساسي قانون له آنده متمرکزه عدم تراکمي سیستم دی، مګر د سیمه ییزه منتخبو ادارو او په عامه چارو کې د عامه ګډون او د ښې حکومتولۍ ، خصوصي سکټور او مدني ټولنو تر منځ د دوه اړخیزو همکاریو پر بنسټ، ځینو ته دا باور پیدا کړی چې اداري سیستم نیمه متمرکزه او یا نه تراکمی نه متمرکزه په پام کې ونیسي. که څه هم په تېره یو نیمه پېړۍ کې په افغانستان کې د عامه سازمان بېلابېل ډولونه په عمل کې آزمایښت شوي خو د واک وېشلو فکر لږ عملي شوی دی. داسې ښکاري چې دودیزې ټولنې عصري او منطقي سیستمونو نه دي منلي . په دی معنا چی، په ځینو رژیمونو چارواکي د هغه لېوال نه و . خو په څرګنده توګه، په اوسني حالت کې ټولنې د عصري سیستمونو د تصویب لپاره چمتوالی موندلی دی او له بل پلوه، د حکومتولۍ په سیستم کې غالب ذهنیت او چمتو والی د نه متمرکز اداري ته خورا د پام وړ دی. که څه هم حقیقتونو ته پاملرنه لکه د ظرفیت نشتوالی، د زورواکوځایی کسانو حضور، کمزوری او د پرمختیا نشتوالی دا کار ستونزمن کوي.

د هغه څه نه چې د اداري سیستم په اړه نشو منکر کېدای هغه د اساسی قانون د تولو ارزښتونو نه تطبیق دی. هغه څه چې د ډیرو بدلونونه او د سیستم د بنسټیزه اصلاح یې پخه کړې ده او د ډیرو په آند هم دا امر د وخت څخه مخکې عمل دی. د اساسي قانون د تصویب له وخته په تېرو کلونو د حاکم جریان علاقه اداري تمرکز ته او د صلاحیتونو ورکولو ته نه چمتووالي سره سیمه ییزو اداراتو ته، چی د بې اعتمادۍ لامل ګرځېدلی دی. د اداری متمرکز سیستم د حاکمیت سبب شوی دی. په دې توګه، د اداري سیستم د اصلاحاتو د غوښتونکو تر څنګ چې وایی اصلاحات باید بنسټیز او ټولیزو ځینی وایی که لازم اصلاحات ترسره شوی دی. غیرې ډله د اساسي قانون اصول تصویبول د وخت د مجبوریتونه له امله ګني او په قانون کې بدلون اړتیا او د غیر متمرکز اداري په سیستم باندې ټینګار کوي.

په هر حال تدوین شوې او تدوین په حال کې پالیسی او اندونو د اداری نظام د اصلاح په اړوند د حکومتولی به باب اساسی بدلون دی. اما دا بدلون به د اساسی قانون د عملی کېدو او یا هم د یوه پراخ فکر تغییر وی. د ویلو وړ ده چې د شرایط شتون او د اساسی قانون د بدلون په اړوند د شرایطو شتون هغه موضوع ده چې پرې اجماع نشته ده.

## ۴.۲ سپارښتنې

### په اوږد مهال کې د اساسي قانون د تعدیل اړتیا ده تر څو:

- په اساسي قانون کې د قواوو د اړیکو ی پر بنا یو ډول سیاسي سیستم ، ریاستي، مختلط یا پارلماني دې په نظر ونیول شي؛ ځکه چې اوس مهال چې سیاسي سیستم شبه ریاستي دی ، خو د اساسي قانون تنظیم شوی اداري سازمان د پارلماني سیستم سره سمون لري ؛
- غیرمتمرکزه اداري سیستم دې د هغه ځانګړتیاوو او اساسي اجزاوو سره جوړ شي؛
- مرکزي اداره دې د اساسي قانون سره سمه جوړه شي او د دې چوکاټ څخه بهر ځانګې حذف او یا یوځای شي؛
- د عامه حقوقو د حقوقي شخصیتونو وضعیت دې مشخص شي؛
- د سیمه ییزو ادارو لپاره دې سم او اړین میکانیزمونه منسجم او همغږي شی؛
- سیمه ییزې شوراګانې او د ښاروالۍ شوراګانې دې یا سره یو ځای شي او یا دې د هغوی اړیکو ته نظم ورکړل شي چې دواړه د سیمه ییزې ادارې په کچه د خلکو د ارادې، په حیثپریکړو نیونکې ټولنې نو د اداري چارواکو لخوا دې رهبري شي؛ البته د ټاکنیزو ټولنو ادغام. لږ کیدل د انتخاباتي لګښتونو دکمښت لامل هم کېږي.
- د عامه ادارې موخې دې په شفافه توګه مشخصې کړي.

### په لنډ مهال وخت کې:

- د اداري اساسي قوانین لکه د دولت د اساسي تشکیلاتو قانون، د سیمه ییزو شوراګانو قانون، د سیمه ییزی اداري قانون او د ښاروالیو قانون تصویب شي؛
- د اساسي قانون اړتیاوو ته د ژمنتیا ښودلو په خاطر ، خپلواکې ادارې په اصلي ادارو کې چې په اساسی قانون کې ذکر شوي وي، یو ځای شی تر څو د پالیسي جوړولو او تخنیکي همکاریو پروخت د وزیرانو تر رهبری لاندې رهبري کاروکړي ؛
- د وزیرانو حقوقي وضعیت، د کابینې او حکومت اړیکې دې روښانه شي؛
- د بودجوی لګښتونو، د پالیسی جوړولو، پلان کولو، استخدام او تدارکاتو په برخه کې دی سیمه ییزو ادارو ته صلاحیتونه ورکړل شي ؛
- سیمه ییزې شوراګانې چې تر اوسه نه دي جوړې شوې، نه یوازی د شرایطو برابریدو بلکې د اساسی قانون د تحقیق په خاطر باید لویه جرګه جوړه شی ؛
- د سیمه ییزو شوراګانو د مشورتی او نظارتی نقش په موخه دی اغیزمن میکانیزمونه جوړشي ؛
- د سیمه ییزی اداري د ټولو ارګانونو د نظارت او رهبری په خاطر دې والیانو او ولسوالانو ته لازم صلاحیتونه تفویض شی.

# اخځليکونه

**کتابونه:**

انصاري، ولي الله، د اداري حقوق کليات، ووم چاپ، تهران: تله، ۱۳۸۲.

اليور، روآ، افغانستان، اسلام او سياسي عصري کول، د ابولحسن سرو مقدم ژباړه، مشهد، د آستان قدس رضوي، ۱۳۶۹. آنلاين په:

www.afghandata.org:۸۰۸۰/azu/handle/xmlui/۲۵۴

برتران، بديع، سياسي پراختيا، د احمد نقيب زاده ژباړه، تهران، قومس ۱۳۸۹.

بيژن، عباسي، د اساسي حقوقو بنسټونه، دويم چاپ، تهران: جنګل، ۱۳۸۹.

جيني وايو، هيليرنګير، کې، پرنهاګن، مفاهيم، د حقوقي کلتور آثار او اروپايي مناسبت، جيني وايو، هيليرنګير؛ کې، پرنهاګن، د کلتور او اروپايي حقوقي په لور، جرمني: نوروز ويرلګ، صص، ۳-۱۴، ۲۰۱۴.

سرور دانش، د افغانستان اداري حقوق، کابل: ابن سينا، ۱۳۹۲.

سيد علي، حسيني، د افغانستان اداري حقوق، دويم چاپ، کابل: اميري، ۱۳۹۲.

طارق، عزيز، د افغانستان د اداري حقوقو لارښودنه، د ماکس پلانک ټولنه، ۱۳۹۱.

طباطبايي موتمنی، منوچهر، اداري حقوق، نهم چاپ، تهران: سمت، ۱۳۸۳.

عبدالعلي، محمدي، افغانستان او مدرن دولت، کابل: اميري خپرندويه ټولنه، ۱۳۹۴.

غلام محمد، غبار، افغانستان د تاريخ په مسير کې، څلورم چاپ، کابل: ميوند، ۱۳۸۸.

ګريګورين، وارتان، د مدرن افغانستان رامنځته کېدل: مدرناسيون اصلاحي سياست، متحده ايالات: د استنفورد پوهنتون خپرندويه ټولنه.

محمد قاسم، هاشمزی، د قدرت جلا کول او د افغانستان اساسی قانون د تفسير ستونزې، (جمع آوري) ګروټ، رينر، مخامخ، تلمن، په اسلامي هېوادونو کې د اساسي قانون جوړول: د تغير او دوام، اکسفورډ: د اکسفورډ پوهنتون خپرندويه ټولنه، صص، ۲۲۵-۲۸۱، ۲۰۱۲.

ويلسون، د سياسي علومو فصل نامه او د اداري مطالعه، شميره ۲، ۱۳۸۷ موجود په:

http://www.iupui.edu/-speal/V۵۰۲/uls۵/Sections/Units/Orosz/_study_of_Woodrow_Wilson_Administration_۱۸۸۷_pdf.jstor

هداوند، مهدي، نور، په اداري حقوقو کې د تصميم نيونکي اجراات، لسم چاپ، تهران: خرسندي، ۲۰۱۲.

يو، آن، دی، پي (UNDP)، حکومت د يوې تلپاتې پراختيا او مساواتو بين المللي کنفرانس راپور، ملل متحد، نيويارک، ۲۸ او ۳۰ د جولای، ۱۹۹۹.

## مقالې، راپورونه او جزوې:

آماج TV۱ د صلاحيت رد ول مجتبی پتنګ، http://www.youtube.com

د افغانستان د جمهوري موکراتيک اساسي اصول، ۱۳۵۹.

الکوزی، احمد جان خان، حکومتي کتابچه، د، سراج التواريخ، صص، ۷۲۲-۷۷۱، د نيويارک پوهنتون پرېښنايي کتابچه، ۱۳۳۱.

د يووالي حکومت په تشکيل کې سياسي تړون https://www.etilaatroz.com/wp-content/uploads/۲۰۱۲/۰۴/tawafuq-۱.pdf

حبیب الله، سالارزهی، حبیب ابراهیم پور، د تاریخي بدلونونه په دولتي مدیریت کې پارادایمونو: د دولت د پارادایم د مدیریت نه تر ښه حکمراني پارادایم، د دولت مدیریت، دوره ۴، شمیره ۹، ۱۳۹۱.

رنګین داد فر، اسپنتا، لنده نظر د ښاریانو پر بنیادي حقوقو باندې: ستونزې او فرصتونه، د افغانستان د څېړنې او ارزیابي اداره.

طرزي، امین، اسلام او مشروطیت په افغانستان کې، د مطالعاتو ژورنال پر سیانیت، شمیره ۵، صص، ۲۰۵-۲۴۳، ۲۰۱۲.

د ښې حکومتولۍ ملي پالیسی طرح، جولای ۲۰۱۸.

د ښاروالیو د مشورتي شوراګانو جوړول طرزالعمل، د سیمه ییزو ارګانونو اداره.

تقنیني فرمان، تعدیل او د دولت په ځینو تصدیو کې د موادو زیاتول، رسمی جریده، د مسلسل شمیره، ۱۰۳.

تقنیني فرمان، په افغانستان کې د سیمه ییزو اداراو ارزونه، ۲۰۰۷.

د افغانستان اساسي قانون ۱۳۸۲، رسمی جریده، شمیره ۸۱۸، آنلاین په: http://moj.gov.af/fa/page/legal-frameworks/۱۷۸۳۲۹۹۴۱۷۸۴

د افغانستان اساسي قانون ۱۳۲۲ http://moj.gov.af/fa/page/legal-framewrks/۱۷۸۲

د افغانستان اساسي قانون ۱۳۲۹ http://moj.gov.af/fa/page/legal-frameworks/۱۷۸۲

د افغانستان اساسي قانون ۱۹۲۴. موجود په: http://mov.gov.af/fa/page/legal-frameworks/۱۷۸۲

د افغانستان جمهوري دولت اساسي قانون، کب ۱۳۵۵.

د سیمه ییزو ادارو قانون، رسمي جریده، د مسلسل شمیره ۷۹۳، کال ۱۴۲۱.

د تشکیلاتو اساسي قانون، رسمي جریده، د مسلسل شمیره ۳۷، ۱۳۴۴.

د ملکي خدماتو د کارکوونکو قانون، رسمي جریده، شمیره ۹۵۱، ۲۰۰۸.

د ولایتي شوراګانو قانون، رسمي جریده، د مسلسل شمیره ۹۲۰، نیټه ۳۰ د وري ۱۳۸۲.

د ښاروالیانو قانون، رسمي جریده، د مسلسل شمیره ۷۹۴، کال ۱۴۲۱.

د افغانستان مدني قانون، ۱۳۵۵.

د مدافع وکیلانو د ټولنې قانون، رسمي جریده، ۱۳۸۲.

د ملکي ویش سیستم نامه، ۱۳۹۳.

د افغانستان دولت علیه اساسي نظامنامه، ۱۳۰۱. د عدلیې وزارت په ویبپاڼه کې موجود: http://www.moj.gov.af/content/files/egov/Nezamnama.htm

د افغانستان د تشکیلاتو اساسي نظامنامه، ۱۳۰۲.

بلدیه نظامنامه، ۱۳۰۳.

یعقوب، ابراهیمي، د افغانستان د مرکز ګرا دولت تر منځ فاصله او د د مرکزګرۍ ټولنه، د ۸ صبح ورځپاڼه، ۱۳۹۵، د صفحی لیدل پر ۴ د جولای ۲۰۱۸ https://x۸am.af/۸am/۱۳۹۵/۱۱/۰۲/political-afghanistan-policy

# د غبرګون او نظرونو غوښتنه

د AREU اداره ډېره لېواله ده چې د دغې څېړنې د کاروونکو نظرونه واوري. که تاسو زموږ د څېړونو یو دوامداره لوستونکي یاست، د AREU لیکچر یا ورکشاپ کې مو ګډون کړی، کتابتون یې کاروئ، یا یوازې په دې وروستیو کې له دغه ادارې سره بلد شوي یاست، ستاسو نظرونه او غبرګون زموږ لپاره ارزښت لري. دغه نظرونه موږ سره مرسته کولی شي چې خپلې موخې په لا ښه ډول لاسته راوړو او د څېړنې په اړه خپلې تګلارې او د پایلو د شریکولو طریقې و ارزوو. د نظرونو شریکولو تر ټولو اسانه لار موږ ته ایمیل کول دي: areu@areu.org.af

یا کولی شئ موږ ته زنګ ووهئ: ۰۰۹۳۷۹۹۲۰۸۵۴۸. تاسو چې هر څه غواړئ موږ ته یې ویلی شئ، خو په ممکنه ډول یو څه ګټور مالومات دا دي:

- تاسو له AREU سره څنګه اړیکه نیسئ (یعنې د څېړونو، غونډو یا نورو لارو)؟
- تاسو د AREU له څېړنو څخه د څه لپاره کار اخلئ؟
- تاسو د AREU خپرونې څنګه لاسته راوړئ؟
- تاسو د څېړنو بریښنایي که چاپ شوی بڼه کاروئ؟
- خپرونې څنګه کولی شي تاسو ته مالومات په لا ښه ډول وړاندې کړي؟
- زموږ د څېړنې د بهیرونو یا پایلو په اړه ستاسو نظرونه؟
- هغه برخې یا موضوع ګانې چې تاسو یې په اړه د څېړنو ترسره کېدو سپارښتنه کوئ؟
- د AREU هغه خپرونې یا فعالیتونه/غونډې چې ستاسو ډېرې خوښېږي؟
- ستاسو په اند موږ په کومو برخو کې خپل کار ښه کولی شو؟
- ستاسو د خوښې یا لېوالتیا ډګر، دنده یا څېړنه، او دغه راز موقعیت؟

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې نوې خپرونې

ټولې خپرونې د ډونلود لپاره(ښکته کولو لپاره) په www.areu.org.af کې د لاسرسي وړ دي، او ډیرې ئې د هارد کاپي(چاپي بڼه) په ډول په وړیا توګه په کابل کې د AREU له دفتر څخه لاس ته راوړلای شي.

| نیټه | د خپروني نوم | لیکونکی ( مولف) | په دری ژبه | په پښتو ژبه | د څېړنې موضوع | د خپروني ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ۱۳۹۷لړم | د ۱۳۸۲کال د اساسي قانون په رڼا کې د افغانستان د عامه اداري سازمان او جوړښت څېړنه | میرویس ایوبی او ډاکټر هارون رحیمی | √ | √ | اساسي قانون | د پالیسی نوټ |
| د ۱۳۹۷ مرغومی | د ۱۳۸۲کال د اساسي قانون په رڼا کې د افغانستان د عامه اداري سازمان او جوړښت څېړنه | میرویس ایوبی او ډاکټر هارون رحیمی | √ | √ | اساسي قانون | تحلیلی څېړنه |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د افغانستان پارلمان: د ۲۰۰۱ کال راهیسې د اساسي قانون پر بنسټ د ورکړل شوو واکونو اوعملی کړنو پرتله | شمشاد پسرلی او زلمی مالیار | √ | √ | اساسي قانون | د پالیسی نوټ |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د افغانستان پارلمان: د ۲۰۰۱ کال راهیسې د اساسي قانون پر بنسټ د ورکړل شوو واکونو اوعملی کړنو پرتله | شمشاد پسرلی او زلمی مالیار | √ | √ | اساسي قانون | تحلیلی څېړنه |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د کوچیتوب، د کوچیانو او د سیمې د اوسېدونکو ترمنځ د شخړو په مدیریت کې د افغانستان د دولت رول | ډاکټر انتونیو ګیستوزی | √ | √ | د کوچیانو او د سیمی د اوسیدونکو ترمنځ ښخړی | تحلیلی څېړنه |
| د ۲۰۱۸ اپریل | نور معیاری پروګرامونه بس دي: په ماتیدونکو شرایطو کې اقتصادي پرمختک | SLRC | | | تولنیز ملاتړ | لنډه لیکنه |
| د ۲۰۱۸ مارچ | یوه نقشه ایزه څېړنه: په افغانستان کې د انسانانو له قاچاق سره د مبارزې بنسټیز مکانیزمونه | سوپروا نارا سیمهایا | | | ټولنیز ملاتړ | موضوعی لیکنه |
| د ۲۰۱۸ مارچ | یوه نقشه ایزه څېړنه: په افغانستان کې د انسان له قاچاق سره د مبارزې بنسټیز مکانیزمونه | ولی محمد کنډیوال | √ | √ | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۸ جنوري | ښاري خوندیتوب: په افغانستان د ښاري سولې جوړونې پروګرام ته بیا کتنه | یما ترابي | √ | √ | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۸ جنوری | په افغانستان کې د میشتو کوچیانو د شخړو ډولونه | انتونیو ګیستوزي | √ | √ | د طبیعی سرچینې مدیریت | موضوعی لیکنه |
| د ۲۰۱۷ نومبر | ناروغتیا یا علامې؟ په ۲۰۱۷ کال کې د افغانستان د ودې کوونکو تریاکو اقتصاد | ویلیام ای. بایرد | | | د طبیعی سرچینی مدیریت | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۷ دسمبر | په افغانستان کې د اروپایی ټولنې د ستونزې د غبرګون تحلیل | چونا آر. ایچاویز، قیوم سروش | | | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۷ اکتوبر | په واقعی توګه بیساری: په هلمند کې د خوړو زون څنګه په ولایتونو کې د تریاکو د تولید د ډیروالی ملاتړ وکړ | دیوید منسفیلد | √ | √ | د طبیعی سرچینی مدیریت | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال اګست | په افغانستان کې قضایې بیا کتنه | غزال حارس | √ | √ | اساسي قانون | موضوعی څېړنه |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ۲۰۱۷ کال آگست | په افغانستان کې اجرایي بیا کتنه | کاوون کاکړ | √ | √ | اساسی قانون | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | ښځې د افغانستان په کرنه کې | لینا گانیش | | | جنسیت | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | د اوبو په برخه کې د سمونې اغیزې | اتل احمدزی | | | حکومتولي | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | په افغانستان کې ښاري حکومتولی | دیتلیف کمیر | | | حکومتولي | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | د دولت د ادارو دندو ته بیا کتنه | اکسل کویتز | | | حکومتولی | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ جولای | په افغانستان کې د کوچیانو – بزگرانو شخړې | انتونیو جیو ستوزي | | | د طبیعی سرچینی مدیریت | لنډیز |
| د ۲۰۱۷ کال جون | په افغانستان کې د حکومتولی د ارزونی چوکاټ (LGAF) | AREU | | | حکومتولی | ریپوټ |
| د ۲۰۱۷ جنوری | په افغانستان کې د معیشت تگ کرښې: د هرات له درې کلیو څخه بیلگې | دانیل هت، ادم پین او احسان الله غفوري | | | ټولنیزه ساتنه | کاري لیکنه |
| د ۲۰۱۷ جنوري | په افغانستان کې د معیشت تگ کرښې: د «وروسته پرمختیا» په وخت کې ژوند | جیولیا مینویا او ادم پین | | | ټولنیزه ساتنه | کاري لیکنه |
| د ۲۰۱۷ جنوری | په افغانستان کې د معیشت تگ کرښې: د کندهار په ولایت کې چوپ تاوتریخوالی | دانیل هوټ، ادم پین او احسان الله غفوری | | | ټولنیزه ساتنه | کاری لیکنه |
| د ۲۰۱۷ جنوری | زعفران: د تولید ټولنیزې اړیکې | جیولیا مینویا او ادم پین | | | د طبیعی سرچینو مدیریت | کاري لیکنه |
| د ۲۰۱۶ اکتوبر | د خوښبت وخت: په افغانستان کې د کوکنارو تریاکو، کښت ته د پرمختیائي غبرگون را مینځ ته کول | دیوید منسفیلد، پاول فیشستین او OSDR | | | د طبیعی سرچینی مدیریت | موضوعی لیکنه |
| د ۲۰۱۶ آگست | په افغانستان کې د جنسیت په اړه د ځواب ورکوونکې بودجې جوړول: کار د پرمختگ په حال کې ده | نیلول برتش او سلیمان هدایت | √ | √ | د ملکی خدمتونو سمونه او حاکمیت | موضوعی لیکنه |
| د ۲۰۱۶ آگست | په افغانستان کې د ملکي خدمتونو سمون: ملکی خدمتونو د سکتور وندې او دندې | سید حشمت الله هاشمی او گیرهارد لاوت | √ | √ | د ملکی خدمتونو سمونه او حکومتولی | موضوعی لیکنه |
| د ۲۰۱۶ جولای | په افغانستان کې د کلیو د شرایطو دشننې کارول: میتوودونه او پراخ دلیلونه | ادم پین | | | پاینښت لرونکې معیشیت | کاری لیکنه |

AREU

څېړنې د ښه افغانستان لپاره

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری ټولې خپرونې ددغې اداری له کورپاڼې (www.areu.org.af) څخه ترلاسه کولای شې.

په کابل کې ددغه اداري په دفتر کې چاپ شوې کاپیانې هم موجودې دي.


د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

لسمه ناحیه، لومړی سړک، ښار نو
کابل، افغانستان

تیلفون: ۹۳(۰)۷۹۹ ۲۰۸ ۵۴۸+

publications@areu.org.af

ویب پاڼه: www.areu.org.af


ISBN 978-9936-641-21-1

9 789936 641211